



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

## د نړۍ دويم لوی مفکر ډاکتر اشرف غني احمدزي ته !

م.د. نيازی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: اقتصاد پېژندنه
لیـــکوال : محمد داود نیازی
بربښلیک: dawood1919@gmail.com
اړیکه: 0093778878349
خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک فرهنګي ځانګه
د خپرندوی پرله پسې نومره: (۳)
چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
چاپ وار: لومړی
چاپ نېټه: 2014 / 1393

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| لومړی څپرکی | ۳ |
| بنسټیز مسایل | ۳ |
| اقتصاد تعریف | ۱۹ |
| د اقتصاد علم لمن | ۲۲ |
| اقتصادي قوانین | ۴۵ |
| د اقتصاد د علم ګټې | ۴۹ |
| نړیوال اقتصادي سیستمونه | ۵۰ |
| د بازار اقتصادي نظام | ۵۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| سوسیالیزم اقتصادي نظام | ۶۱ |
| اسلامي اقتصادي نظام | ۶۷ |
| دویم څپرکی | ۷۳ |
| د شمتنۍ پیدایښت | ۷۳ |
| د تولید عوامل | ۷۶ |
| ځمکه | ۷۶ |
| کار | ۸۰ |
| نفوس | ۸۹ |
| پانګه | ۹۹ |
| متشبث | ۱۰۳ |
| د تولید قوانین | ۱۰۶ |
| د حاصل د ډیرښت اویا د لګښت د کمښت قانون | ۱۰۷ |
| دحاصل یا د لګښت د استقرار قانون | ۱۱۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د حاصل د کمښت یا د لګښت ډېرښت قانون | ۱۱۶ |
| تولیدونکو نظریه | ۱۲۵ |
| د مصرفونکو نظریه | ۱۳۷ |
| درییم څپرکی | ۱۵۳ |
| تقاضا | ۱۵۳ |
| عرضه | ۱۸۴ |
| څلورم څپرکی | ۲۱۳ |
| بازار | ۲۱۳ |
| د بازار توازن | ۲۲۴ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

اقتصاد یو داسې علم دی چې په نړۍ کې انسان ته لارښونه کوي څو خپل موجود وسایل څنګه وکاروي؟ د یوې ټولنې په ټولو مسایلو کې اقتصادي مسایل ډیر مهم او برخلیک ټاکونکي دي ، اقتصاد د ټولنې په ټولو برخو (سیاسي،فرهنګي، ټولنیزه ) کې ډیر لوړ اهمیت لري ،د یوې ټولنې خپلواکي او د طبیعي پېښو سره مقاومت په اقتصادي ځواکمنتیا پورې اړه لري ،د اقتصادي مسایلو په اړه ښه پریکړه کولای شي چې ټولنه د پرمختګ لوړو څوکو ته ورسوي. که په نړۍ کې اقتصادي مسایلو شتون نه درلودای نو نړۍ به دومره پرمختګ نه وای کړی همدا اقتصادي مسایل دي چې انسان پرمختګ ته هڅوي ، که په نړۍ کې ټولو مسایلو ته پام وکړو او په اړه یې څیړنه تر سره کړو نو ریښنه یې اقتصادي مسایلو پورې رسیږي او د هر پېښې تر شاه اقتصادي مسله شتون لري. که د نړۍ هیوادونو ته ځیر شو هغه هیوادونه چې بډایه دي ، ښې اقتصادي سرچینې لري او خپلې سرچینې یې په ښه توګه کارولي د وګړو د ژوند سطحه یې لوړه ، د ژوند ډیرې اسانتیاوې لري دژوند اړتیاوې یې په ښه توګه پوره کیږي خو هغه هیوادونه چې ښې سرچینې او یا بډایه نه دي وګړي یې ښه ژوند نلري ، د ژوند سطحه یې لوړه نه ده او د ژوند اړتیاوې په ډیره ستونزمنه توګه پوره کوي. چې له بده مرغه زموږ هیواد هم سره ددې چې ښې اقتصادي سرچینې لري خو بیا یې هم وګړي په بیوزلۍ کې ژوند تیروي او ډیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګړي خپلې تولې اړتیاوې نشي پوره کولای یوازیني لامل یې د هیواد د اقتصادي سرچینو څخه ښه ګټه نه پورته کول دي . لکه څرنګه مو چې ولس بیوزله دی همداسې مو ژبه هم بې وزله ده او د نثري لیکنو له کمښت سره مخ ده .په دې ډول ژبه کې د کتاب لیکل ستونزمن کار دی ځکه په دې ډول ژبه کې هغه الفاظ چې په نورو ژبو کې وي او یا په دې برخه کې ورته کار شوی وي نشته نو له دې کبله په دې ډول ژبو کې د الفاظ او یا د هغه لغاتونه چې دقیقه مانا ورکړي نه وي او پیدا کول یې ستونزمن وي . له کبله زه هم د دې کتاب په لیکو کې له همدې ستونزې سره مخ وم تر یو بریده مې هڅه کړې تر څو ډیر معیاري او دقیق لغات پیدا کړم . خو د ستونزو سره سره ما هڅه کړې تر څو درنو لوستونکو ته داسې په زړه پورې معلومات برابر کړم تر څو هغوي ته ګټور تمام شي او هغه لوستونکي چې غواړي د اقتصاد د علم په اړه معلومات حاصل کړي ښه ګټه واخلي . د دې کتاب په لیکولو کې مې هڅه کړې چې له کورنیو او بهرنیو ماخذونو ګټه واخلم او یو داسې کتاب برابر کړم تر څو لوستل یې د هر انسان لپاره په زړه پورې وي . په پای کې له ټولو قدرمنو لوستونکو څخه هیله کوم که د د کتاب په کومه برخه کې له ما څخه تیروتنه شوی وي راته ښښنه وکړي او د بیا غبرګیدو د مخنیوي لپاره یې راته په ګوته کړي .د اباد خپلواک ،لوی افغانستان په هیله .

محمد داود نیازی

کابل احمد شاه بابا مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



26/1/1393

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی

## بنسټيز مسايل Basics issues

انسان په نړۍ کې له نامحدودو غوښتنو سره رامنځته شوی ، چې دغه غوښتنې له انسان سره تر مرګه پورې مل وي. په پخوانيو زمانو کې دغه غوښتنې ساده او لږې وې مګر د تهذيب او تمدن د پرمختګ سره غوښتنو ډير والی وموند او په ډولونو کې يې توپير رامنځته شو، په بنسټيز ډول انسان د خوراک لپاره خوړو ته ،د پوښاک لپاره جامو ته ،د اوسيدو لپاره کور او د ناروغۍ لپاره درملو ته اړتيا لري . مګر د دې تر څنګ انسان يو شمير نورو شيانو ته هم اړتيا لري چې د انسان ژوند ورسره اسانيږي دساري په ډول تيلفون( لرغړی )،موټر،بريښنا او نور. دد غو غوښتونو د لاسته راوړولو لپاره انسان تل بيلابيلې کړنې ترسره کوي او شتمني پرې لاسته راوړي موږ او تاسو پخپل چاپيريال کې ګورو چې انسان په نړۍ کې په بيلا بيلو کارونو بوخت وي سوداګر سوداګري،کاريګر کار،روغتيا پال روغتيا پالې ،انجنير انجنيري او نور انسانان پخپلو کارونو بوخت وي څو عوايد لاسته راوړي او د خپل عايد سره سم خپلې اړتياوې پوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقیقت کې د انسان غوښتنې ډېرې او د لاسته راوړلو سرچینې یې کمې دي نو ځکه انسان تل په دې هڅه کې وي چې څنګه خپلې ډېرې غوښتنې د لږو سرچینو په وسیله تر لاسه کړي،دغه غوښتنې دوه ډوله لري :

1. غیر اقتصادي غوښتنې : غیر اقتصادي غوښتنې هغه غوښتنو ته ویل کیږي چې د هغو د لاسته راوړولو لپاره د شتمنۍ لګښت ته اړتیا نه وي یانې دا ډول غوښتنې په وړیا ډول انسان ترلاسه کوي د غیر اقتصادي غوښتنو د پوره کیدو لپاره د شتمنۍ لګښت او هڅو ته اړتیا نه وي . د ساري په ډول د هوا تنفس،د لمر له رڼا ګټه پورته کول،باران او نور. دا چې د اقتصاد د علم اړیکه له اقتصادي غوښتنو سره ده نو له دې کبله موږ له غیر اقتصادي غوښتنو له لوستلو ډډه کوو.

2. اقتصادي غوښتنې : ټولې هغه غوښتنې چې انسان یې د شتمنۍ د لګښت په وسیله تر لاسه کوي اقتصادي غوښتنې بلل کیږي. د ساري په ډول د خوراکي توکو د رانیولو لپاره پیسو ته اړتیا ده یا د کورنو د پیرلو لپاره پیسو ته اړتیا ده که موږ او تاسو د پورتنیو توکو د رانیولو لپاره شتمنۍ له ځانه سره ونلرو نو موږ پرې خپلې پورتنۍ اړتیاوې نه شو پوره کولای . انسان د خپلو غوښتنو د پوره کولو لپاره تل هڅې ترسره کوي، د اقتصاد علم هم له اقتصادي غوښتنو سره اړیکه لري موږ او تاسو چې کومې غوښتنې د شتمنۍ د لګښت له لارې تر لاسه کوو اقتصادي غوښتنې بلل کیږي. د اقتصاد د علم پوهانو د انسان اقتصادي غوښتنې په درې برخو ویشلې دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اړتیاوې : اړتیاوې هغه غوښتنو ته ویل کیږي چې د انسان په ژوند کې بنسټیز اهمیت لري یا انسان پرته له هغو څخه خپل ژوند ته دوام نه شي ورکولای .د ساري په ډول خوراک،اوبه،لباس،د اوسیدو ځای،درمل او ...

- اسانتیاوې : هغه غوښتنې چې د انسان په ژوند کې اسانتیاوې رامنځته کوي او په ترلاسه کولو سره یې د انسان ژوند اسانیږي، انسان پرې ډاډ او سکون ترلاسه کوي ، د انسان ژوند ورسره هوسا کیږي د سارې په ډول تیلفون ( لرغږی) ،د لیږد وسایل،بریښنا ،تلویزیون او...

- تجملي توکي: په تجملي توکو کې ټول هغه وسایل شامل دي چې د انسان په ژوند کې د عیش عشرت لپاره کارول کیږي دا ډول وسایل زموږ په غوښتنو پورې هیڅ اړه نلري،ځکه د دا ډول وسایلو په ترلاسه کولو سره د انسان په وړتیاوو کې کوم توپیر نه راځي او که ترلاسه یې نکړي نو بیا هم کوم توپیر نلري. دا ډول وسایل زموږ ژوند زړه راښکونکی او رنګینوي، په حقیقي ژوند کې هیڅ ډول ارزښت نلري یوازې د شان او شوکت لپاره وي د ساري په ډول د لوکس(عصري)موټر درلودل یا د ماڼیو جوړول او نور.

ډیری خلک تجملي وسایلو ته جواز ورکوي او دا دلیل راوړي چې د دې ډول وسایلو کارول د انسان په وړتیا کې ډیر والی راولي ، د دا ډول وسایلو د لاسته راوړلو لپاره ډیرې وړتیا ته اړتیا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غوښتنو پورتني ډولونه ثابت نه دي بلکې نسبي حیثیت لري ځکه ډیر داسې توکي شته چې د یو انسان لپاره اړتیا خو بل ته اسانتیا او کیدای شي ددریم لپاره تجملي وي .

د اقتصادي غوښتنو ځانګړتیاوې

- نامحدودي غوښتني : انسان د خپلو غوښتنو د پوره کولو لپاره تل په هڅه کې وي څو خپلې غوښتنې پوره کړي خو کله چې د انسان یوه غوښتنه پوره شي سمدستي بله رامنځته کیږي. دا سلسله د انسان د ژوند تر پایه ادامه لري او هیڅکله هم د انسان ټولې غوښتنې نه پوره کیږي نو ځکه ټولې اقتصادي غوښتني نامحدودي دي.

- د غوښتنو تکرار : د انسان ډیری اقتصادي غوښتني داسې وي چې تل تکراریږي، کله چې یو ځل پوره شي له لږ وخت وروسته بیا رامنځته کیږي لکه ،کله چې انسان تږی شي د اوبو په څکلو سره د تندې غوښتنه له منځه ځي خو له لږ وخت وروسته انسان بیا ځلې تږی کیږي .همدارنګه د سهار له ډوډۍ وروسته بیا په غرمه کې د ډوډۍ خوړل او نور .

- په متبادلو لارو د غوښتنو پوره کیدا : موږ یوه غوښتنه د بیلا بیلو وسایلو په مرسته پوره کولای شو یانې د یوې غوښتنې د پورکیدو لپاره له بیلا بیلو وسایلو کار اخیستلی شو. د مثال په توګه د لوږې په وخت کې د ډوډۍ یا د وریجو په وسیله د لوږې لري کول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د غوښتنو په اهميت کې توپير : د انسان ځينې غوښتنې مهمې او ځينې لږې مهمې وي چې د پوره کيدو په وخت لومړی مهمې غوښتنې او په دويم قدم کې لږې مهمې غوښتنې پوره کوي د بيلګې په توګه د ډوډۍ اړتيا نسبت څادر ته ډيره ده د لايق زده کوونکی لپاره د ښه کتاب رانيول نسبت د فلم له ليدو څخه مهم دي.

- د غوښتنو تړلتيا: د انسانانو ځينې غوښتنې يو له بل سره تړلې دي يو د بل د پوره کيدو لپاره اړينې وي د ساري په ډول د ليک ليکلو لپاره د کاغذ او قلم اړتيا يا د موټر لپار د تيلو اړتيا او نور.

- د اړتياوو تر منځ سيالی : د انسان غوښتنې نامحدوده دي خو له انسان سره د غوښتنو د پوره کيدو لپاره وسايل کم دي. د انسان لپاره د ټولو غوښتنو پوره کيدا ناممکنه ده نو له دې کبله د انسان د غوښتنو تر منځ سيالی روانه وي کومه غوښتنه چې ډيره مهمه وي هغه لومړۍ او نورې غوښتنې يو په بل پسې وخت په وخت پوره کوي.

- موسمي غوښتنې : د انسان ډيری غوښتنې موسمي وي چې د موسم له بدليدو سره بدليږي د ساري په ډول د ګرمۍ په موسم کې د يخ اړتيا يا د يخنۍ په موسم کې ګرمو جامو ته اړتيا.

- دغوښتنو په اهميت کې تبديلي : د انسان غوښتنې د تل لپاره يو شان نه وي د وخت په تيريد سره په کې تغير راځي که په يو وخت کې يو شی انسان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر اهمیت ولري مګر د وخت په تیریدو سره د هغه شي په اهمیت کې د انسان لپاره تغیر راځي د ساری په ډول د ناروغۍ په وخت کې د ښو غذاګانو خوړل مګر کله چې انسان رغیږي نو بیا ورته د ډیرو ښو غدا ګانو خوړل مهم نه دي نسبت د ناروغۍ په وخت کې.

- د پوهې له کبله د غوښتنو ډیر والی : د پوهې په ډیر والي سره د انسان په غوښتنو کې زیاتوالی راځي زموږ ځینې غوښتنې هغه وخت را پیدا کیږي، کله چې موږ د یو توکي په اړه پوهه ترلاسه کړو او په دې پوه شو چې دغه توکی زموږ کومه غوښتنه پوره کولای شي د اقتصادي پرمختګ او ساینسي نوښتونو سره د انسانانو په غوښتنو کې هم زیاتوالی راځي .که د نړۍ د هیوادنو د وګړو ترمنځ غوښتنو ته نظر واچوو نو وبه ګورو چې کوم هیوادونه پرمختللي دي د هغوي غوښتنې هم ډیرې دي ،په نړۍ کې د تیلفون ،موبایل ،کمپیوټر او نورو وسایلو په رامنځته کیدو سره د انسانانو په غوښتنو کې نور ډیروالی هم راغلو.

موخه End : ټولې هغه غوښتنې او اړتیاوې چې انسان یې پوره کول غواړي موخې ګڼل کیږي،که یو انسان خوراک ،لباس او د اوسیدو د ځای اړتیاوې پوره کوي نو دا ټولې د دې انسان موخې دي ، د بیلا بیلو موخو د لاسته راوړلو لپاره بیلابیل وسایل په کار اچول کیږي هر څومره چې یوه موخه لویه وي په هماغه اندازه یې د لاسته راوړلو لپاره له لویو وسایلو کار اخیستل کیږي،د انسان په ژوند کې موخې توپیر لري خو په ټولیز ډول په نړۍ کې یو انسان دوه ډوله موخې لري: اقتصادي او غیراقتصادي .اقتصادي موخې هغو موخو ته ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي چې انسان یې د شتمنۍ د لګښت په وسیله تر لاسه کوي د ساري په ډول خوراک ،لباس او نور.غیر اقتصادي موخې هغو موخو ته ویل کیږي چې د شتمنۍ له لګښت څخه پرته نه شي تر لاسه کیدای د ساري په ډول د هوا تنفس،باران اوبه او نورې. اقتصادي موخې لاندې ځانګړتیاوې لري:

1. نامحدودې : اقتصادي موخې نامحدودې دي کله چې یوه پوره شي بله رامنځته کیږي همداسې ادامه لري .

2. د موخو په اهمیت کې توپیر : د انسانانو موخې یو له بل سره توپیر د انسانانو ځینې موخې ډیرې مهمې دي او ځینې یې لږې مهمې چې انسان لومړی مهمه موخه پوره کوي په دویم قدم کې هغه موخې پوره کوي چې لږ اهمیت ولري د مثال په توګه له یو انسان سره سل افغانۍ شته او نوموړی شخص دوه موخې لري: چکر وهل او د ډوډۍ خوړل ، دې انسان ته لومړۍ مهمه موخه د ډوډۍ خوړل دي او دویمه موخه یې چکر وهل دي .

3. د موخو په اهمیت کې تغیر : د وخت په تیریدو سره د انسان په ځینو موخو کې تغیر رامنځته کیږي ځکه په یو وخت کې یوه موخه ډیر مهمه وي خو لږ وخت وروسته بیا د موخې په اهمیت کې توپیر رامنځته کیږي. لکه د ژمي په موسم کې تودو جامو ته ډیره اړتیا وي خو کله چې موسم بدل شي بیا دومره اړتیا نه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. د موخو د پوره کیدو په وخت کې توپیر : د انسان ځینې داسې موخې وي چې هغه باید ډیر ژر پوره شي موږ ورته انتظار نه شو کولی لکه د ډوډۍ خوړل ،اوبه څښل خو ځینې داسې موخې چې ډیر وخت ته اړتیا لري لکه ډاکتریدل،انجنیر کیدل او نور .

5. موخې د وسیلې په توګه : بعضې وخت یوه موخه د بلې موخې د ترلاسه کولو لپاره وسیله ګرځي د ساري په توګه یو انسان غواړي پوهه ترلاسه کړي چې دا یې لومړۍ موخه وي خو کله چې عالم شي بیا له خپل علم څخه ګټه اخلي او پیسې لاسته راوړي چې علم د پیسو دلاسته راوړلو موخه ګرځي.

توکي Goods : ټول هغه شیان چې د انسان د غوښتنو د پوره کیدو قابلیت ولري توکي بلل کیږي. لکه هوا ،ډوډۍ،کتاب دا ټول د انسان اړتیاوې پوره کوي چې توکي بلل کیږي .انسان چې کوم توکي د خپلو غوښتنو د پوره کیدو لپاره کاروي ځینې یې په وړیا توګه ترلاسه کوي او ځینې داسې توکي دي چې د شتمنۍ او یا د کار په وسیله ترلاسه کیږي نو ځکه مو توکي په دوو برخو ویشلي دي :

غیراقتصادي توکي Non-economic goods: غیر اقتصادي توکي هغه توکو ته ویل کیږي چې انسان یې په وړیا توګه تر لاسه کوي، داسې توکي انسان نه شي پیدا کولی د ساري په ډول لکه باران ، رڼا او نور . موږ په اقتصاد کې له دا ډول توکو سره سرو کار نه لرو ځکه چې موږ یې په وړیا توګه تر لاسه کوو غیر اقتصادي توکي لاندې ځانګړتیاوې لري :

(c) ketabton.com: The Digital Library



a) افاده : په غیراقتصاد توکو کې افادیت شتون لري او د انسانانو د اړتیاوو د پوره کیدو وړتیا لري.

b) طبعي ډالۍ : غیراقتصادي توکي طبعي ډالۍ ده د انسان زحمت په کې دخیل نه دی د ساري په توګه د تنفس لپاره هوا ،د لمر رڼا او نور چې څښتن تعالی انسانانو ته ورکړي دي.

c) په ډیر مقدار : د غیراقتصادي توکو درېیمه ځانګړتیا دا ده چې په ډیر مقدار شتون لري انسان چې هر څومره وغواړي کارولی شي لکه د لمر رڼا ،هوا .

d) ملکیت : غیراقتصادي توکي د چا ملکیت نه دی هر څوک تري ګټه پورته کولای شي.

e) اخیستل او خرڅول : غیراقتصادي توکي انسانان په وړیا توګه ترلاسه کوي اخیستل او خرڅول کیږي نه .

اقتصادي توکي Economic goods: هغه توکي چې د شتمنۍ او یا د کار په وسیله يې انسان ترلاسه کوي اقتصادي توکي بلل کیږي. چې لاندي دوه ډولونه لري :

- مصرفي توکي consumer goods: هغه توکي چې انسان يې په مخامخ ډول کاروي او په دې کې داسې توکي هم وي چې له لږ کارونې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



له منځه ځي او ځيني داسې توکي وي چې د ډېر وخت لپاره کارول کيږي لکه : موټر، کور . ټول هغه توکي چې انسانان يې د کارونې په موخه پيري مصرفي توکي بلل کيږي. مصرفي توکي د انسانانو اړتياوې پوره کوي د نورو توکو په پيدا کيدو کې ونډه نه لري .

- پانګيز توکي **capital goods**: پانګيز توکي هغه توکو ته ويل کيږي چې انسان يې په مخامخ ډول نشي کارولی د نورو توکو په توليد او يا د عايد په تر لاسه کولو کې کارول کيږي. په مطلق ډول موږ نه شو ويلای چې يو توکی تل مصرفي او يا پانګيز وي ځکه ځيني توکي دواړه کيدای شي لکه يو شخص يو کور د استوګنې لپاره جوړوي چې مصرفي شو خو بل شخص کور د کرايې لپاره جوړوي د ده لپاره پانګيز توکي دي په پانګيز توکو کې لاندې درې ډوله توکي دخيل وي:

➢ اومه مواد : اومه مواد هغه موادو ته ويل کيږي چې په کمپنيو کې د توکو د توليد لپاره کارول کيږي لکه لرګي، غنم، وړی او نور.

➢ نيم كاره مواد : هغه موادو ته ويل كيږي چې تر كار لاندې وي.

➢ بشپړ توکي : بشپړ توکي هغه توکو ته ويل کيږي چې په هر لحاظ تيار وي او د نورو توکو د کارونې لپاره ترې کار اخيستل کيږي لکه ماشين الات، کور ،موټر ....

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرفي او پانګيز توکي يو له بل سره اړيکه لري مصرفي توکو ته چې کله تقاضا ډيره شي ورسره پانګيز توکو ته هم تقاضا ډيرېږي کله چې دواړو ته تقاضا لوړېږي ورسره په هيواد کې کار پيدا کيږي او هيواد ورسره د اقتصادي پرمختګ پر لور ځي ، دا خبره د يادونې وړ ده چې د مصرفي او پانګيزو توکو ويش قاطع نه دی ځکه کله يو توکی په يو وخت کې مصرفي وي خو کله بيا پانګيز شي.

د اقتصادي توکو ځانګړتياوې : اقتصادي توکي لاندې ځانګړتياوې لري :

- افاديت : د يو توکي هغه قابليت چې د انسان د يوې غوښتنې د پوره کيدو وسيله ګرځي افاديت ګڼل کيږي . لکه اوبه د تندې دخړوبه کولو ،ډوډۍ د لوږې د لرې کولو ،قلم د ليکلو قابليت لري.اقتصادي توکي افاديت لري او که افاديت ونه لري بيايې څوک نه اخلي.

- کم پيدا : له کم پيدا څخه موخه دا نه وي چې هغه توکي کم وي ليکن د اړتيا په نسبت کم وي لکه افغانستان هر کال څو مليونه ټنه غنم توليدوي خو بيا هم کم وي ځکه افغانان نسبت هاغه غنمو ته چې توليدوي يې ډيرو ته اړتيا لري.

- د ليږد وړ : په اقتصادي توکو کې د ليږد ځانګړتيا هم شامله ده له ليږد څخه موخه د يو توکي ليږد له يوه ځايه بل ځای ته يا له يو شخص څخه بل شخص ته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- طبعي ډالۍ نه وي : اقتصادي توکي په طبعي لحاظ شتون نه لري بلکې انسان يې جوړ او تياروي. لکه موټر ،کور .

- ملکيت : اقتصادي توکي د ملکيت ځانګړتيا لري يانې په چا پورې تړلي وي نو له دې کبله يې اخيستل او خرڅول تر سره کيږي.

اقتصادي او غيراقتصادي توکي يو له بل سره توپير لري: اقتصادي توکي دطبعيت ډالۍ نه ده خو غيراقتصادي توکي دي ،اقتصادي توکي کم پيدا دي غيراقتصادی کم پيدا نه دي ،اقتصادي توکي ملکيت لري او غيراقتصادي مالک نه لري.

وسايل Means: هر هغه توکی يا چوپړ چې دانسان غوښتنه يا موخه پوره کړي وسيله ګڼل کيږي.د ساري په ډول که کور جوړول غواړې نو سمينتو ،شګې ،انجنير ته اړتيا ده چې دا ټول وسايل ګڼل کيږي او يا کله چې رخت تياريږي اومه مواد، ماشين الاتو او کارګرانو اړتيا ده چې دا ټول د رخت د تيارولو وسايل دي د وسايلو ځانګړتياوې په لاندې ډول دي :

- محدود : د انسان غوښتنې او اړتياوې نامحدودې دي خو له انسان سره وسايل محدود دي تر څو خپلې اړتياوې او غوښتنې پرې پوره کړي کله چې د انسانانو د غوښتنو د پوره کيدو لپاره وسايل کم وي نو اقتصاد پوهان وسايل محدود نيسي ځکه د غوښتنو د پوره کيدو وسايل او چوپړتياوې کمې نه دي بلکې د ټولو انسانانو په نسبت کمې دي .ځکه په نړۍ کې غنم په مليياردونو ټنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولیدیږي خو چې د انسانانو اړتیاوې نه شي پوره کولای بیا هم موږ وایو چې د غنمو تولید محدود دی د وسایلو د کمښت په وجه انسانان خپلې اړتیاوې ټاکي او فکر پرې کوي چې کومې لومړی او کومې په دویم قدم کې پوره کړي.

○ متبادل کارول : د وسایلو دویم ښه والی د هغو متبادل کارول دي یانې د څو موخو لپاره کارول کیږي د ساري په توګه له تاسره سل افغانۍ دي هر ډول چې وغواړې کارولای یې شې کتاب پرې اخیستلی شې،چکر پرې وهلی شې او نور .همداسې د ځمکې په یوه برخه ته جوار ،غنم ،شولې هر څه چې وغواړې کرلی شی، دا خبره د یادونې وړ ده چې یو وسیله په یو وخت کې د یوې موخې د ترلاسه کولو لپاره کارول کیږي.

عواید **income**: په ټولیز ډول عواید هغه څه ته وایي چې انسان یې ترلاسه کوي خو په اقتصاد کې عواید هغه څه ته ویل کیږي چې دکار په بدله کې تر لاسه کیږي لکه د مزدور مزدوري او یا د مامور تنخوا په عاید کې لاندې ټکي دخیل دي :

د کار بدله : عاید باید د کار په بدله کې لاسته راغلی وي له کار پرته ترلاسه کول په عاید کې شامل نه دي.

ټاکلی وخت : په عاید کې وخت مشخص وي لکه کلنی ،میاشتنی او نور که له عاید سره وخت ذکر نه شي بیا هیڅ مانا نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غيرقانوني لاسته راوړنې : په غيرقانوني لارو لاسته راغلې بدله په عايد کې نه راځي لکه د غلا پيسې،رشوت او نور.

خيرات : خوار او غريبو ته د خيرات ورکول د هغوی په عايد کې نه راځي .

عايد لاندې دوه بڼې لري :

شخصي عايد : شخصي عايد هغه عايد ته ويل کيږي چې يو شخص يې په يو ځانګړي وخت کې ترلاسه کوي لکه د مامور مياشتنۍ تنخوا .

ملي عوايد : د يو کال په جريان کې په يو هيواد کې د توکو او چوپړتياوو څخه لاسته راغلي مقدار ته ملي عايد ويل کيږي:

کرنيزو توکو عوايد+صنعتي توکو عوايد+کانونو عوايد+ چوپړتياو عوايد = ملي عايد

پروفيسور ارونګ فشر ملي عايد داسې تعريف کړی : په يو هيواد کې د يو کال په جريان کې د توکو او چوپړتياوو مجموعې ته ويل کيږي چې د هيواد وګړي يې پيدا کوي.

د عايد ډولونه : عايد لاندې ډولونه لري:

- ناخالص عايد : ناخالص عايد هغه عايد ته ويل کيږي چې يو شخص او يا کومې کاروباري ادارې تر لاسه کړی وي چې په دې کې يې ګټه او لګښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه دخیل وي د ساري په توګه کله چې یو میز په پینځوس افغانۍ خرڅول کیږي نو دغه پنځوس افغانۍ ناخالص عاید دی.

○ خالص عاید : کله چې له ناخالص عاید لګښت لرې شي دې ته خالص عاید ویل کیږي د ساري په توګه که میز دیرش افغانۍ تمام شوی وي او ته یې په پنځوس پلورې نو شل افغانۍ ستا خالص عاید دی . خالص عاید = ناخالص عاید - لګښتونه

○ خالص ملي عاید : کله چې له ملي عاید لګښتونه لرې کړې خالص ملي عاید ترلاسه کیږي.

د عاید اهمیت : د یو هیواد لپاره عواید لاندې ګټې رسوي :

♣ د ژوند سطحه : د یو هیواد د وګړو د ژوند سطحه سړي سر عاید پورې تړاو لري (که په هیواد کې ټول عواید په نفوسو وویشو نو سړي سر عاید په لاس راځي )

کله چې د یو هیواد د وګړو سړي سر عاید لوړ وي نو د هغه هیواد د وګړو د ژوند سطحه لوړه وي.

♣ اقتصادي پرمختګ : د یو هیواد اقتصادي پرمختګ په عوایدو پورې تړلی دی ،د عوایدو په ډیر والي سره د سپما سلنه ډیریږي ،په هیواد کې پانګونه ډیریږي ،په هیواد کې نوې کمپنۍ رامنځته کیږي ،تولیدات ډیریږي او هیواد ورسره د اقتصادي پرمختګ په لور ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپما Saving: د عايد هغه برخه چې له ورځنيو لګښتونه باقي پاتې کيږي سپما ګڼل کيږي.د ساري په توګه که د يو مامور د مياشتې لس زره افغانۍ تنخوا وي خو دی په مياشت کې اته زره افغانۍ په لګښت رسوي دوه زره افغانۍ ورسره باقي پاتې کيږي چې دې ته سپما وايي د سپما عناصر په لاندې ډول دي :

د سپما ځواک : د سپما ځواک څخه موخه د سپما دکولو همت او حوصله ده . د سپما د ځواک عايد پورې تړوا لري که په يو هيواد کې د خلکو عوايد ډير وي نو د هغوی د سپما ځواک هم لوړ وي اوکه د خلکو عايد کم او دوی يوازې خپلې اړتياوې پرې پوره کوي نو بيا يې د سپما ځواک کم وي،همدارنګه د سپما له ماليې سره هم تړاو لري ،ځکه که په هيواد کې د ماليې اندازه لوړه وي نو د خلکو د سپما ځواک هم ټيټ وي او که ماليه کمه وي د خلکو د سپما ځواک هم لوړ وي ،که د يو شخص عوايد له لګښونو څخه ډير وي د دې شخص د د سپما ځواک لوړ وي او که عوايد يې کم وي نو بيا سپما نه شي کولای ،که يو هيواد ښه بانکي سيستم ولري نو د هيواد دوګړو د عوايدو يوه برخه بانک ته ورکول کيږي بانک دغه پيسې په صنعت او کرنې لګوي ورسره د خلکو عوايد لوړيږي سپما هم ډيريږي همدارنګه که کوم هيواد ډير کانونه ولري هلته هم د خلکو د سپما ځواک لوړ وي .

د سپما اراده : د سپما له ارادې څخه موخه د سپما د کولو هڅه او غوښتنه ده د خلک د راتلونکي لپاره تر څو له ځينو افاتو سره مقابله وکړي د سپما اراده کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،د خپلو ماشومانو د روزنې په موخه د سپما اراده کوي ،که په کوم هیواد کې د مالیې کچه ټیټه وي هلته د سپما اراده ډیره وي ،که په هیواد کې کرنیز،صنعتي او سوداګرۍ برخې پرمختګ کوي خلک د ګټې د تر لاسه کولو په موخه د سپما اراده کوي، ځیني خلک د سپما عادت لري او تل د سپما اراده کوي ،کاروباري خلک د ګټې اخیستې په موخه سپما کوي کله چې د ګټې ښه موقه راشي بیا یې لګوي ،که په هیواد کې امن او سیاسي استحکام شتون ولري خلک د سپما اراده کوي .

د سپما اقتصادي اهمیت :د یو هیواد اقتصادي پرمختګ په پانګونې پورې تړاو لري او پانګونه تر ډیره بریده په سپما پورې تړلې ده که په هیواد کې د سپما سلنه لوړه وي نو هیواد په اقتصادي لحاظ پیاوړی وي او که د سپما سلنه کمه وي هیواد په اقتصادي لحاظ ضعیف وي د خلکو د ژوند سطحه ټیټه وي نو که څوک غواړي چې پرمختګ وکړي باید د سپما اندازه لوړه کړي .

د سپما د زیاتوالي لپاره باید لاندي کارونه تر سره شي :

- د مالیې په انداز کې باید کمښت راشي
- په هیواد کې د امن راوستل
- په هیواد کې سیاسي ثبات
- د وګړو د عوایدو د ډیر والي لپاره کړنې ترسره کول
- په هیواد کې د مالي ادارو جوړول

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په هيواد کې د پانگونې ډېرښت
- د خلکو د ژوند د سطحې لوړوالی

## د اقتصاد تعريف Definition of economics

کله چې انسان نړۍ ته سترگې غړولې ورسره غوښتنې هم رامنځته شوې چې دغه غوښتنې په لومړي وخت کې ډېرې ساده وې. د ژوند په لومړيو وختونو کې د انسانانو ژوند په ځان بسيا وو ، خلکو د ښکار له لارې خپلې اړتياوې پوره کولې ليکن د وخت په تيريدو سره د انسان په غوښتنو کې توپير راغلو ، انسان په دې لټه کې شو څو د ځان لپاره اسانتياوې برابرې کړي ،هماغه وو چې د اقتصاد علم رامنځته کيدو ته اړتيا پيښه شوه.تقريبا د ټولو علومو په هکله که څيړنه وکړو نو ريښه يې يونان ته رسيږي ځکه يونان د نړۍ پر مخ لومړی ځای وو چې هلته انسانانو د طبيعت له مخ څخه پرونی پورته کړو ، د انسان د پيدا ښت او څرنگوالي په هکله خلکو نظريات ورکړل، په ځمکه کې د روحانيت او ماديت اصول تر غور لاندې ونيول.د اکوموني کلمې جوړښت هم د يوناني کلمې ايکونومس څخه اخيستل شوی چې مانا يې د کورنۍ اداره يا د کور تنظيم او تدبير دی.گزنفون څلورسوه څلور څلوېښت کاله د مخه ترميلاده د اکونوميکس (د کور تدبير) په نوم کتاب وليکه گزنفون د سقراط شاگرد و.گزنفون د خپل عصر لوی تاريخ ليکونکی او په يونان کې د سردارانو له ډلې څخه و،د گزنفون په کتاب کې د کورني اقتصاد ، تدبير، په طبيعي زيرمو د دولت کنټرول او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خصوصي ملکيت باندې ټينګار کړی دی، د سوداګري د ازادي پلوی دي. ګزنفون د خپلو اقتصادي نظرياتو اساس کرنه ګرځولې او کرنه يې د اقتصادي شتمنۍ د ډېر والي سبب ګڼله چې د دولت او عامو خلکو ځکه يې هيله لرله څو کرنې ته اهميت ورکړي همدارنګه ګزنفون له دولت څخه غوښتل چې دولت بايد خلک بېړۍ چلونې او لېږد راليږد ته پاملرنه وکړي نومورې دغه هنر هم د شتمنۍ د ډېر والي عامل ګڼلو ،له بلې خوا ګزنفون د پيسو په هلکه ويل چې دولت بايد د سپينو زرو کانونه په کار واچوي او سپين زر راوباسي ، چې د اقتصاد له نظره د اهميت وړ ديد ګزنفون دا غوښتنه ددې لپاره وه چې د سپينو زرو سکې او پيسې ډېرې شي، دولت بايد طبيعي زيرمې په خپل واک کې راولې او د خصوصي سکتور له لاسه يې وباسي او د لومړي ځل لپاره يې د ونډيزو شرکتونو نظريه هم ورکړه،ګزنفون عقيده لرله چې بايد ښارونه لوی او غټ وي او ډېر خلک يو ځای سره ژوند وکړي،څو د کار ويش چې د اقتصادي فعاليتونو د پرمختګ لپاره لوی عامل بلل کيږي منځ ته راشي ځکه هر څومره چې ښار لوی وي اړتياوې هم ډېرېږي او د کار وېش د اړتياوو پر اساس په خپله منځ ته رازي ګزنفون د ماليې دورکړې او ازادې سوداګرۍ پلوی و او شتمني يې داسې راپيژنده: د ګزنفون په عقيده شتمني د اموالو د ډېروالي نسبت دهغه اړتياو ته ياني هر څه چې له اړتياو ډېر شي هغه شتمني ده.

اکنامکس(economics) د پولټيکل اکانوي (political Economy) مخفف دی چې له دريو يوناني الفاظو (Polis)، (Oika) او (Nama) مجموعه ده چې (Polis مانا ښار ،رياست او يا منظمه ډله ،د Oika مانا کور واله او Nama قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



مانا لري دا په دې مانا چې يو كور واله څنګه توليدي چوپړتياوې ترسره كړي عوايد په لاس راوړي او په مقابل كې توكي او چوپړتياوې وپيري تر څو خپلې اړتياوې پرې پوره كړي چې له دې وروسته پولټيكل اكانومي د هيواد داقتصادي كړنو لپار وكارول شو او موخه يې له هغو قوانينو او اصولو څخه وه چې يو هيواد يې نافذوي. د اقتصاد پخوانيو پوهانو داسې فكر كاوو :څرنګه چې يوه كورنۍ د اړتياو پر بنسټ خپل عوايد او لګښت تنظيموي همدارنګه كټ مټ د يو هيواد حكومت هم د هيواد په داخل كې دعوايدو او لګښتونو حساب كتاب كوي چې همدې حساب كتاب ته يې پوليټكل اكانومي ويله. خو د وخت په تيريدو سره دغه لفظ په اكانومي او بيا په اكنامكس واوښتو.د يو علم د تعريف اړتيا هغه وخت پيښيږي كله چې هغه علم د پرمختګ په حال كې وي د يو علم د تعريف څخه جوتيږي چې هغه علم له كومو موضوعاتو بحث كوي د علم د مطالعې دايره رامالوي.د اقتصاد د علم په اړه بيلا بيل تعريفات وړاندې شوي او هر يوه دا علم له خپله نظره تعريف كړی.ايدم سمتث .مالتس،ريكاردو او جي ايس مل اقتصاد د شتمنۍ علم بللي.الفرډمارشل ،پيګو او كلاک اقتصاد خير ښيګڼې علم بولي . د اقتصاد علم هر يوه له خپله نظره تعريف كړی چې موږ يې په لاندې درې برخو ويشو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اقتصاد د شتمنۍ علم دی

## Economics is science of wealth

➢ ادم سمتږ : په پخوانيو زمانو کې د اقتصاد د علم پوهانو اقتصاد د شتمنۍ علم ګاڼه، له ګزنفون څخه وروسته اسکاټلينډي عالم ادم سمتږ د اقتصاد د علم په اړه يو کتاب د ملتونو شتمنۍ په نامه وليکه د دغه کتاب له کبله ډيری پوهان ادم سمتږ د اقتصاد پلار ګڼي په دې کتاب کې د هيوادنو په وسايلو او نوعيت بحث شوی ،کتاب په لاندې څلورو برخو ويشل شوی:

- د شتمنۍ لګښت : په دې برخه کې د شتمنۍ د لګښت د اصولو په اړه بحث شوی.
- د شتمنۍ پيدا کول : په دې برخه کې دا څېړل شوي چې توکي او چوپړتياوې په کومو اصولو پيدا کيږي.
- شتمنۍ تبادله : په دې برخه کې د توکو او چوپړتياوو د تبادلې اصول بيان شوي.
- شتمنۍ ويش : په دې برخه کې دا ښول شوي چې پيدا شوي توکي او چوپړتياوې د پيدا کوونکوترمنځ څنګه وويشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې کتاب څخه جوتيږي چې ادم سمېټ اقتصاد د شتمنۍ علم ګڼه او ويل يې چې اقتصاد هغه علم دی چې انسان څنګه شتمنۍ لاسته راوړي او څنګه يې په لګښت ورسوي.

- اين ډبليو سينير : د ادم سمېټ د کتاب څخه پنځوس کاله وروسته يو بل انګليس عالم اين ډبليو سينير د ادم سمېټ نظر تائيد او اقتصاد يې داسې تعريف کړو: اقتصاد يو داسې علم دی چې د شتمنۍ نوعيت ،شتمنۍ لاسته راوړل او د شتمنۍ له ويش څخه بحث کوي.

- جي .ايس .مل :د نوولسمې زيږديزې پيړۍ مشهور عالم او فيلسوف جي .ايس.مل اقتصاد ته داسې يو تعريف وړاندې کړی: اقتصاد يو داسې علم دی چې د شتمنۍ نوعيت او د هغو ټولو قوانينو مطالعه ده چې د شتمنۍ په پيدا کيدو او د شتمنۍ په ويش اغيزه لري.

- فرانس واکر : امريکايي اقتصاد پوه فرانس واکر **1883**ز کې اقتصاد داسې تعريف کړو: اقتصاد يو داسې علم دی چې له شتمنۍ سره اړيکه لري.

- پروفيسور ايلي : پروفيسور ايلي هم په اقتصاد پوهانو کې راځي او د اقتصاد د علم په اړه وايي : اقتصاد هغه علم ته ويل کيږي چې هغه اصول او ضوابط تر غور لاندې نيسي کوم چې د شتمنۍ د لاسته راوړلو او د هغې د ليږد له کړنو سره سروکار لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چیپ مین: چیپ مین هم د ادم سمتې همنظری دی او هغه هم اقتصاد د شتمنۍ علم بولي.

مالتس او ریکارډو هم اقتصاد د شتمنۍ علم ګاڼه او دوی داسې فکر کاوو چې ټولې انساني کړنې ځکه رامنځته کیږي چې انسان غواړي شتمنۍ تر لاسه کړي او د انسان دغه غوښتنه د نورو اقتصادي ژوند مخ ته وړي.

له پورتنیو تعریفونو څخه جوتیږي چې په لومړیو وختوکې داقتصاد د علم پوهانو اقتصاد د شتمنۍ علم ګاڼه او د انسانانو د ټولو کړنو محرک یې شتمنۍ ګڼله.

ادم سمتې او د هغه پیروان (این ډبلیو سینیر، جې .ایس .مل، فرانس واکر، پروفیسور ایلي، چیپ مین، مالتس او ریکارډو دوی ټولو ته کلاسیک اقتصاد پوهان ویل کیږي او د هغوی له خوا چې کوم تعریفونه وړاندې شوي دي دکلاسیکو تعریفونو په نامه یادیږي.

د کلاسیکو پوهانو د تعریفونو ښه والی

ادم سمت او د هغه پیروانو د اقتصاد علم د شتمنۍ علم ګڼلی او دا علم یې په ډیرو ساده الفاظو سره تعریف کړی دی. له بلې خوا له دې حقیقت څخه هیڅ څوک سترګې نه شي پټولای چې د هیواد د وګړو د ټولو اقتصادي کړنو محور د شتمنۍ لاسته راوړل دي. نو ځکه کلاسیکو اقتصاد پوهانو د اقتصاد علم د شتمنۍ علم ګڼلی اود انسانانو د اقتصادي کړنو اصلي انځورګري یې کړې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې انسان تل خپلې اقتصادي کړنې د شتمنۍ د لاسته راوړلو لپاره کاروي د دوی د تعریف په اساس د شتمنۍ ټول اړخونه د شتمنۍ لاسته راوړل، شتمنۍ تبادله، شتمنۍ ویش او د شتمنۍ لګښت د اقتصاد علم تر څیړنې لاندې نیسي چې ورسره د اقتصاد د علم اهمیت لاپسې ډیریږي.

## نیوکه

د کلاسیکو اقتصاد پوهانو په تعریف یو شمیر برطانیوي پوهانو چې رسکن او کارلایل یې د یادونې وړ دي نیوکه کړې او هغوی ادعا لري چې ادم سمټ او د هغه پیروانو د اقتصاد علم بدنام کړی ځکه هغوی اقتصاد یوازې د شتمنۍ علم ګڼلی چې ددې له کبله خلک بې لارې، پیسه پاله او ځان پاله کیږي ، هغوی د اقتصاد د علم یادول او ښول د وخت ضایعه بللې او دا علم یې دومره له نفرته ډک کړی چې یوازې د خوړلو علم یې ګڼلی او دا یې یو شیطاني علم بللی.

## د نیوکې ځواب

د هغې زمانې د پوهانو رسکن او کارلایل په دې تعریفو نیوکه ناسمه پوهه ده ځکه د دې پوهانو په نظر له شتمنۍ څخه موخه پیسې ، سره او سپین زر، ځمکه او نور دي نو ځکه دوی د اقتصاد علم د ډوډۍ علم ګڼه او انسان شتمنۍ پاله او ځان پاله ګڼلی. که د ادم سمټ او د هغه د پیروانو تعریف ته نظر واچوو ډیر د نیوکې وړ نه دی. نو ځکه ډیرې ستونزې د شتمنۍ په اړه د ناسمې پوهې له کبله رامنځته شوې. لیکن ادم سمت او د هغه دپیروانو له شتمنۍ څخه موخه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمیابه توکو څخه عبارت دي چې انسانان یې د خپلو غوښتنو د پوره کیدا لپاره کاروي.مګر یوه خبره د یادونې وړ ده چې شتمنۍ د غوښتنو د لاسته راوړلو لپاره یوه وسیله ده شتمنۍ په خپله موخه نه ده. د اقتصاد د علم موضوع د انسان ژوند دی د شتمنۍ مطالعه تر هغه وخته موږ کوو تر کومه چې د انسان په ژوند اغیز لري ،د اقتصاد د علم زده کوونکی د اقتصاد علم داسې مطالعه کوي لکه څرنګه چې یو روغتیا پال ناروغي مطالعه کوي کله چې ډاکتر ناروغي مطالعه کوي ددې خبرې مانا دا نه ده چې ډاکتر له ناروغۍ سره مینه لري مګر هغه ددې لپاره ناروغي مطالعه کوي څو د انسان ژوند وژغوري په همدې ډول کله چې موږ وایو اقتصاد د شتمنۍ علم دی نو دا په دې مانا چې اقتصاد انسان شتمنۍ پالۍ ته نه دعوتوي. بلکې د دې لپاره چې شتمنۍ له غلط او نامساوي ویش څخه وساتي شتمنۍ په خپله ښه او بده نه ده بلکې د هغې کارول په انسان پورې اړه لري.که په ښو کارونو کې یې لګوي رحمت او که په بدو کارو یې لګوي د عذاب لامل ګرځي نو له دې کبله د ا ډول نیوکې بې بنسټه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اقتصاد د مادي هوساينې علم دی

## Economics is a science of material welfare

**1**- داکترالفرد مارشال :ادم سمت او د هغه پیروانو چې کوم تعریف د اقتصاد د علم لپاره تر سره کړی وو له یوه اړخه محدود او ګمرا کوونکی وو څکه هغوی شتمنۍ ته مرکزي بڼه ورکړې وه نو له دې کبله د اقتصاد علم لپاره د یوداسې تعریف کول پکار وو چې د خلکو ناسمه پوهنه د اقتصاد د علم په اړه لرې کړي د دې اړتیا د لرې کولو لپاره په نولسمه میلادي پېړۍ کې ډاکتر الفردمارشال په خپل کتاب د اقتصاد د علم د اصولو په نامه دغه ناسمه پوهنه لرې او د کارلایل او رسکن نیوکو ته یې د پای ټکی کیښود. الفردمارشال اقتصاد علم داسې تعریف کړو: اقتصاد یو داسې علم دی چې د انسان ورځنۍ ژوند تر څېړنې لاندې نیسي او ددې امر تحقیق کوي چې انسان څنګه شتمنۍ لاسته راوړي او څنګه یې په لګښت ورسوي دا علم د انسان د انفرادي او ټولنیز ژوند هغه برخه تر مطالعې لاندې نیسي چې انسان د خوشاله ژوند ، مادي اړتیاوې ترلاسه کړي نو د اقتصاد علم له یوې خوا د شتمنۍ مطالعه له بلې خوا تر ټولو مهم د انسان د ژوند یو اړخه مطالعه کوي.د الفرد مارشال له تعریف وروسته ټولې نیوکې له منځه لاړې الفرد مارشال د اقتصاد د علم په اړه ټولې ناسمې پوهې لمنځه یوړې او د اقتصاد علم یې په ډیره ښه بڼه توضیح کړو د ډاکتر الفرد مار شال په تعریف کې لاندې نقاط شامل دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



I. د شتمنۍ مطالعه : په اقتصاد کې يوازې دا نه مطالعه کيږي چې شتمنۍ څنګه لاسته راوړو بلکې دا هم مطالعه کيږي چې شتمنۍ څنګه په لګښت ورسوو.

II. د ورځني ژوند مطالعه : له ورځني ژوند څخه موخه ټول هغه کارونه دي چې څنګه شتمني لاسته راځي او څنګه په لګښت رسيږي او په ټولنه کې کوم کارونه تر سره کيږي چې خلک ورته په بد نظر نه ګوري او ددې برعکس هغه کارونه چې ټولنه ورته په ښه نظر نه ګوري لکه رشوت،غلا او نور چې دا په اقتصاد کې نه راځي او دا کارونه په ورځني ژوند پورې تړلي هم نه دي.

III. د روغ انسان مطالعه : په اقتصاد کې د هغه شخص کړنې مطالعه کيږي چې روغ اوسي د ليوني ،ملنګ ،ساده کړنې په اقتصاد کې نه مطالعه کيږي ځکه د دوی کارونه له ورځني ژوند څخه بيل دي.

IV. مادي اړتياوې : مارشال په خپل تعريف کې دا هم واضح کړي چې اقتصاد د انسان هغه کړنې مطالعه کوي چې مادي توکي رامنځته کوي او کومې کړنې چې مادي توکي نه رامنځته کوي په اقتصاد کې نه شميرل کيږي لکه کروندګر کرنه کوي مادي توکي پيدا کوي خو ددې برعکس استاد ،څارنوال کړنې ځکه په اقتصاد کې نه راځي چې دوی مادي شی نه پيدا کوي.

V. خوشاله ژوند : په اقتصاد کې هغه مادي توکي مطالعه کيږي کوم چې انسان ته مادي خوشالي ورکوي او هغه مادي توکي چې انسان ته خوشالي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي په اقتصاد کې نه راځي. لکه د شرابو څښل ،چرس او نور ځکه دا انسان ته مادي خوشالي نه ور په برخه کوي نو ځکه يې اقتصاد نه مطالعه کوي.

VI. د شتمنۍ لګښت او پيدا ايښت : مارشل په خپل تعريف کې ويلي انسان د خپلو غوښتنو د پوره کيدا لپاره چې په کومو اصولو عمل کوي شتمنۍ ترلاسه کوي ، په لګښت يې رسوي ، پرمختګ او خوشالي تر لاسه کړي.

VII. انساني اړخ ته اهميت : تيرو اقتصاد پوهانو اصلي موخه شتمنۍ ګڼله خو مارشال اصلي اړخ انسان وباله او د انسان دلچسپي له شتمنۍ سره ، ځکه چې د انسان د خوشالۍ وسيله ګرځي.

له ډاکتر الفرد مارشال وروسته يوشمير نورو پوهانو هم د اقتصاد علم د مادي هوساينې علم ګاڼه چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو:

2-پروفيسور کينن :اقتصاد د هغو ټولو وسايلو وضاحت کوي چې د انسان د برياليتوب او بهبود سبب ګرځي.

3- پيګو : اقتصاد د مادي خوشالۍ مطالعه ده چې انسان يې مخامخ يا د پيسو په وسيله تر لاسه کوي.

الفرد مارشال او د هغه پيروان د نيو کلاسيک اقتصاد پوهانو په نامه ياديږي او د هغوی لخوا وړاندې شوي تعريفونه هم د نيو کلاسيک تعريفونو په نامه ياديږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیو کلاسیکو د تعریف ښه والی

داکتر الفرد مارشال د اقتصاد علم ته د بریالتوب او بهبود علم نوم ورکړو د ټول نیوکو مخه یې ونیوله. د اقتصاد علم ته یې یوه نوې ښه ورکړه،داقتصاد علم یې د ورځني ژوند د مطالعې علم وګاڼه نو ځکه ډیرو خلکو د اقتصاد د علم له مطالعې سره مینه پیدا کړه ، اقتصاد علم انسان ته لومړی اهمیت ورکوي په دویمه درجه شتمنۍ ته ،نو له دې کبله د پخوانیو اقتصاد پوهانو نیوکې چې د اقتصاد د علم په تعریف وې پخپله لمنځه لاړې مارشال هغه شتمنۍ پالو ته دا واضح کړه چې اقتصاد علم موږ ته د شتمنۍ پالنې سبق نه راښیي بلکې شتمنۍ یوازې د انسانو د غوښتنو د پوره کیدو یوه وسیله ده او بالاخره مارشال وویل :اقتصاد د انسان هغه کړنې تر مطالعې لاندې نیسي چې یو انسان یې د خوشاله ژوند د تیرولو لپاره تر سره کوي.

## د تعریف نیمګړتیاوې

تر ډیره وخته د مارشال له خوا وړاندې شوی تعریف ټولو ته دمنلو وړ وو خو په کال 1934ز کې د لندن سکول اف اکنامکس پرفیسور رابنز په خپل کتاب د( اقتصاد د علم نوعیت او اهمیت) د مارشال په تعریف کې یو شمیر نمیګړتیاوې راپه ګوته کړې : د پرفیسور رابنز په وینا د انسان بریالیتوب او بهبود یوازې په مادي وسایلو اتکا نلري بلکې غیرمادي وسایل هم د انسان لپاره خوشالي ورکولای شي. د ساري په ډول ګروندګر ،مزدور تر څنګ د ډاکترۍ ،استادۍ او نور هم د انسان لپاره د انسان د خوشالی او بهبود سبب ګرځي.د مارشال د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعریف پر اساس په اقتصاد کې د انسان هغه کړنې شاملې دي چې د انسان مادي اړتیاوې پوره کوي خو ددې برعکس هغه کړنې چې زموږ مادي اړتیاوې نشي پوره کولای د اقتصاد په دایره کې نه راځي.چې د اقتصاد د علم د لوستلو دایره یې محدوده کړې وه.همدرانګه مارشال بریالیتوب او بهبود په ښه توګه نه دی توضیح کړی .کیدای شي چې یو شی د یو انسان لپاره خوشالي راوړي خو بل ته خفګان د مثال په توګه د شرابو څښل د یو کس لپاره د خوشالی او بل ته د خفګان باعث ګرځي په اقتصاد کې د شتمنۍ لاسته راوړلو څخه موخه یوازې هغه عاید چې مصرفونکی پرې خپلې مادي او غیرمادي اړتیاوې پوره کوي. د مارشال د نظریې پر اساس مادي اړتیاوې ( خوراک،لباس،مکان) په دغو چې کوم لګښت راځي د اقتصاد په دایره کې راځي مګر په غیرمادي اړتیاوو(فلم،چکر،سفر) چې کوم لګښت راځي دا د اقتصاد له علم څخه بیرون دي دا په داسې حال کې ده چې په اقتصاد کې ټولې مادي او غیرمادي اړتیاوې چې لګښت پرې راځي په اقتصاد علم کې دخیلې دي .مارشال په خپل تعریف کې وایي د بد عمله انسان کړنې نه راځي لکه غل،ډاکو او نور خو دا په داسې حال کې ده چې هغه انسان هم لږ وسایل او ډیرې غوښتنې لري،د مارشال تعریف د انسان هغه کړنې تر مطالعې لاندې نیسي چې د انسان د خوشالۍ باعث یا د انسان په خوشالو کې لاس لري مګر داسې کړنې چې مادي خوشالي انسان ته نه ورکوي نه مطالعه کوي. خو که په یو هیواد کې جنګ راځي یا زلزله نو د هیواد په اقتصاد اغیزه لري نو څکه په اقتصاد کې مطالعه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په محدود وسایلو د نامحدودي غوښتنې پوره کول

د لندن سکول اف اکنامکس مشهور استاد رابنز په کال 1934ز کې په خپل کتاب د اقتصاد د علم نوعیت او اهمیت کې په پرمختګ او بهبود نیوکه وکړه او خپله رایه یې داسې اظهار کړه: د اقتصاد علم لپاره داسې یو تعریف وړاندې کړو ، اقتصاد علم نه یې د علم درجه ورکړې په همدې اساس نوموړي اقتصاد داسې تعریف کړو: اقتصاد یو داسې علم دی چې انسان خپلې نامحدودي غوښتنې په خپلو محدودو وسایلو پوره کړي او وسایل په بیلابیلو لارو وکاروي . د پروفیسور رابنز په تعریف کې مهم ټکي :

- نامحدودي غوښتنې : د انسان غوښتنې نامحدودي دي او د وخت په تیریدو سره په کې ډیروالی راځي ، انسان تل په هڅه کې وي تر څو خپلې غوښتنې پوره کړي کله چې یوه غوښتنه پوره شي بله رامنځته کیږي همداسې ادامه لري نو له دې کبله موږ نه شو ویلای چې د انسان غوښتنې پوره شوې.

- د غوښتنو په اهمیت کې توپیر: د انسان ټولې غوښتنې یو شان نه وي ځینې ډیرې او ځینې لږې مهمې وي د خوارک ،لباس،د اوسیدو ځای ډیر مهم او غالی ،تیلفون او نور لږې مهمې دي چې د وسایلو د کمښت له وجې موږ لومړی مهمې او په دویم قدم کې لږې مهمې غوښتنې پوره کوو.

- محدود وسایل : په نړۍ کې وسایل محدود نه دي لیکن د اړتیاوو په نسبت کم دي یو هوښیار سړی خپل وسایل داسې کاروي چې خپلې ډیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتیاوې پرې پوره کړي.د محدود وسایلو برعکس نامحدود وسایل هغه وسایل دي چې د انسان له غوښتنو څخه ډیر وي او دهغو دلاسته راوړولو لپاره قمیت نه ادا کوي. لکه هوا ،باران د سمندر اوبه د پروفیسور رابنز په وینا د اقتصاد علم له دا ډول وسایلو سره اړیکه نه لري ځکه انسان هغه په وړیا ډول تر لاسه کوي.

○ د محدود وسایلو متبادل کارول : د رابنز په وینا وسایل د بیلابیلو غوښتنو د پوره کیدو لپاره کارول کیدای شي. د ساري په ډول د ځمکې یوه ټوټه کیدای شي غنم پرې وکرل شي یا پرې کور جوړ کړو او یایي هم د هټۍ لپاره وکاروو او دا امکان نه لري چې دا ټول په یو وخت کې وشي او که کیدای شواى نو بیا به ستونزه نه وه .

اقتصادي مسایل څنګه پیدا کیږي د پروفیسور رابنز له نظره اقتصادي مسایل د لاندې اړتیاوو په اساس پیدا کیږي:

➢ د انسان غوښتنې نامحدودې دي: که چیرته داسې فکر وکړو چې د انسان غوښتنې یوازې یو څو دي نو د هغې له پوره کیدو وروسته هغه اړ نه وو چې خپلو غوښتنو ته ترتیب ورکړي نو په دې وخت کې نه د ټاکلو کومه موضوع او نه هم کوم اقتصادي مسله.

➢ د غوښتنو په اهمیت کې توپیر : که چیرته د انسان ټولې غوښتنې یوشان واى نو بیا زموږ په ذهن کې د برترۍ عنصر لمنځه ځي او موږ هیڅ ډول انتخاب نه شو کولاى ځکه ټولې غوښتنې به یوشان واى او انتخاب هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي چې د غوښتنو په اهمیت کې توپیر موجود وي نو ځکه که د انسان غوښتنې ټولې غوښتنې یو شان وای نو بیا به اقتصادي مسایلو شتون نه درلود.

- محدود وسایل: د وسایلو کمښت په دې مانا نه دی چې وسایل شتون نه لري دا په دې مانا ده چې د اړتیاوو په نسبت کم دي یو هوښیار انسان خپل وسایل داسې کاروي چې ډېر افادیت لاسته راوړي او خپلې ډېرې غوښتنې پرې پوره کړي.

- محدود وسایلو متبادل کارول: که د انسان په لاس کې وسایل یوازې د یو کار لپاره کارول کیدل نو بیا هیڅ اقتصادي مسله نه پیدا کیده. د ساري په ډول که ځمکې یوازې غنم کول نوبیا د بل فصل د کرلو هیڅ خبره نه وای او اقتصادي مسله به هم نه وای.

د رابنز د تعریف نیمګړتیاوې

د پرفیسور رابنز تعریف لاندې نیمګړتیاوې لرلو:

1. ټولیز: د پرفیسور رابنز تعریف ټولیز او په ټولو پخوانیو تعریفونو یې برتري لرله، ټول هغه مسایل یې وڅېړل چې کومه اقتصادي مسله ده او کومه نه ،په اقتصاد کې انسان نا محدودې غوښتنې د محدودو او متبادلو وسایلو په وسیله پوره کوي او په دې اړه مورږ هیڅ خبره نه کوو چې غوښتنې انسان خوشالوي او که نه. د ساري په ډول که چرسو او افیون ته په بازار کې تقاضا وي نو اقتصاد یې مطالعه کوي ولو که هغه هر څومره ضررناکه وي همدرانګه که

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم شی مفت وي او ډېر ګټور هم وي خو بیا یې هم اقتصاد نه مطالعه کوي .لکه د سمندر اوبه نو د رابنز له تعریفه د اقتصاد د علم حدود وټاکل شول چې په اقتصاد کې کوم شیان مطالعه کیږي.

2. حقیقت :همدرانګه رابنز د اقتصاد علم ته حقیقي بڼه ورکړه او هغه حقایق یې په کې راوستل چې موږ یې په ورځني ژوند کې ګورو.

3. ناپېیلی :پروفیسور د اقتصاد علم ناپېیلی وګاڼه اقتصاد علم یې نه په ښو او نه په بدو پسې وتاړه بلکه هغه یې یو خپلواک علم وګاڼه هغه وویل په اقتصاد کې انسان خپلې کړنې په خپله خوښه تر سره کوي د کړنو په ټاکلو کې خپلواک دی،په اقتصاد کې هغه کړنې شاملې دي چې انسان څنګه خپلې نامحدودې غوښتنې په متبادلو محدودو وسایلو پوره کړي.

4. پراخه دایره: ده په اقتصاد کې ټول هغه مسایل شامل کړل چې دوسایلو د کمښت په وجه رامنځته شوي که د انسان لپاره ګټور وي او که نه.

5. عام فهمه : د رابنز تعریف نه یوازې دا چې عام فهمه دی د هر لوستي انسان د ذهني معیار مطابق هم دی رابنز د اقتصاد علم په ځانګړې بڼه رامخته کړو.

د رابنز د تعریف نیمګړتیاوې

رابنز چې کله د اقتصاد علم لپاره تعریف وړاندې کړو نو هغه دا دعوه هم وکړه چې دده لخوا وړاندې شوی تعریف له ټولو تعریفو څخه غوره دی لیکن د څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتصاد پوهانو له خوا چې پروفیسور هکس او فریز یې د یادونې وړ دي د رابنیز په تعریف کې لاندې نیمګړتیاوې په ګوته کړې :

- د اقتصاد علم له انساني پرمختګ سره بې اړیکې نشي پاتې کیدای پروفیسور رابنز اقتصاد یوازې علم الحقیقت وباله د اپه دې مانا چې د ځینو واقعاتو اوحقایقو د رامنځته کیدو وسایل څه شی دي که د اقتصاد د علم دنده یوازې د حقایقو رابر سیره کول وي او د انسان د ژوند د ښه والي په اړه له مسایلو سره اړیکه نلري نو بیا د اقتصاد د علم مطالعه څه ګټه لري. د ساري په توګه کې په یو هیواد کې د خوړو کمښت راځي اقتصاد پوه به یوازې خلکو ته وایي چې د خوړو کمښت دی او د کمښت سبب به یې خلکو ته وایي د کمښت د مخنیوي لپاره به یې هیڅ رنګه اقدام نه تر سره کوي.که د اقتصاد علم د انسان د ژوند په ښه والي کې انسان ته لارښونه نه کوله نو بیا یادول یې څه ګټه لري .پروفیسور ایلي د پروفیسور رابنز د تعریف د لویو نیمګړتیاوو په مقابل کې وایي : د اقتصاد علم د علم الحقیقت څخه لږ څه ډیر دی او د هغه مطالعه یوازې تر فکر او ذهن پورې محدوده نه ده بلکې له انسان سره همدردي هم د اقتصاد د علم یو دنده ده. همدرانګه پروفیسور پیګو هم د پروفیسور رابنز د تعریف په اړه وایي : د اقتصاد علم له فلسفې سره نه بلکې د طب له علم سره ورته دی د کوم موخه چې د زخم خرابول نه بلکې جوړول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بې مانا تعریف : په ځینو وختو کې د رابنز تعریف بیلکل بې مانا ثابتیږي د ساري په ډول له یو شخص سره ثلور ګړۍ وخت دی او د هغه غوښتنې په دې ډول دي:

➢ د خپل ملګري لیدل،

➢ د اقتصاد د علم لوستل

➢ د فلم کتل

1) د دې شخص مخ ته موخې د خپل ملګري سره کتل،د اقتصاد د علم مطالعه او د فلم کتل دي.

2) ځینې موخې ډیرې مهمې او ځینې لږې مهمې دي

3) له دغه شخص سره وسایل (ثلور ګړۍ) محدود دي

4) دغه شخص چې څنګه وغواړي دغه وسایل کارولی شي.

د پروفیسور رابنز د نظریې مطابق ټول شرایط موجود دي خو بیا هم کومه اقتصادي مسله نه ده پیدا ځکه اقتصادي مسله هغه وخت پیدا کیږي چې کله چې شتمنۍ په یوه مسله کې دخیله شي.

- نا اړینه پراختیا : پروفیسور رابنز د اقتصاد علم مطالعې ته غیراړینه پراختیا ورکړه ډاکتر مارشال او د هغه ملګرو داسې عقیده لرله چې په اقتصاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې هغه کړنې شاملې دي چې مادي بریالیتوب باعث ګرځي او هغه کړنې چې د مادي بریالیتوب باعث نه ګرځي په اقتصاد کې نه راځي د مثال په توګه په اقتصاد کې د موسیقۍ چوپړتیاوو نه شمیرل لیکن رابنز د اقتصاد علم هغه چې خلک څنګه په محدود وسایلو نامحدودې غوښتنې پوره کړي د اقتصاد علم له مادي بریالیتوب او غیرمادي بریالیتوب،اخلاقي او غیرې اخلاقي له ټولو ناپېیلی دی.چې ددې نظریې مطابق چور ،غلا ،ډاکه دا ټول په اقتصاد علم کې شامل دي ځکه دوی هم د کمو وسایلو په وسیله د نامحدود غوښتنو پوره کول غواړي نو له همدې کبله رابنز د اقتصاد د علم موضوع ته نا اړینه پراختیا ورکړې ده.

▪ د اقتصاد علم له طبیعي علومو څخه بېل دی : پروفیسور رابنز د اقتصاد علم د فزیک او کیمیا په څیر حتمي او قطعي کړی وو لیکن اقتصاد یو ټولنیز علم دی چې قوانین یې حتمي او قطعي نه دي د ساري په ډول که د نړۍ په هرکونج کې تیره پورته واچوو بیرته ځمکې ته رالویږي او د اقتصاد علم د انسان په غوښتنو پورې اړه لري چې هر وخت په کې تغیر راځي موږ د هیڅ انسان د کړنو په اړه حتمي پریکړه نه شو کولای نو له دې کبله د اقتصاد علم د فزیک او کیمیا په څیر ګڼل اشتباه وه.

▪ اقتصاد علم غیر ناپېیلی نه دی : رابنز د داقتصاد د علم د غوښتنو او موخو ترمنځ غیر جانبداره وګاڼه اود اقتصاد د علم په اړه وویل چې د اقتصاد علم دانسان د غوښتنو په ښه والي او بد والي په اړه نه لري چې دا یې د اقتصاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه علم سره لويـه جفا کړېـده ځکـه د اقتصـاد علـم تـل د انسـان د بريـاليتوب او پرمختـګ لپاره کار کوي نو هيڅ اقتصاد پوه د هغو کړنو طرفداري نه کوي چې د انسان د ښکنې لپاره نه وي. پروفيسور تهامس موضوع څيړلې او ليکي چې : د يوې موضوع په اړه معلومات ترلاسه کول د يـو اقتصـاد پـوه کـار نـه دی بلکـې د موضوع په اړه د مثبتې يا منفي رايې ورکول د اقتصـاد پـوه دنده ده نو لـه دې څخه څرګندېږي چې د يوې موضـوع تـر خبريـدو وروسـته د هغـې د اصلاح لپـاره اقدام د اقتصاد پوه دنده ده او اقتصاد پوه لپاره د داسې اقداماتو اجازه نه شتـه چې د انسان د ژوند په ښه والي کې مرسته نـه کـوي نـو ځکـه مـوږ ويلـی شـو چې اقتصاد يو غيرجانبداره علم نه دی.

▪ ناواضح : د رابنز په تعريف کې د غوښتنو او وسايلو ترمنځ توپير واضح نـه دي ځکـه کلـه يـو شـی زمـوږ غوښـتنه وي اوکلـه بـل د غوښـتنې د پـوره کيـدو وسيله دساري په ډول کله چې موږ غواړو کور جوړ کړو نو د کور د جوړه لو لپاره شګه ،سيمت،خټګر او نور د وسايلو په توګه کارول کيږي کله چې کور جوړ شي نو هغه په کرايه ورکوو چې کرايه زموږ موخه او کور يې وسيله ده.

▪ انساني وسايل محدود نه دي : رابنز پـه خپـل تعريـف کـې وړانـدې کړې چـې هـر ډول وسـايل محـدود دي خـو کلـه چـې مـوږ پرمختللـو او پرمختيـايي هيوادنو ته وګورو نو ډير خلک بيکاره دي نو معلومه به شي چې انساني وسايل ډير دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د وسایلو ډیر والی : د پروفیسور رابنز په وینا چې د انسان سره وسایل محدود دي او هغه متبادل کارولی شي خو اضافه والی په کې نه راځي لیکن اوسمهال تول پرمختللې او پرمختیایي هیوادونو نه د خپلو وسایلو لپاره اقتصادي پلانونه جوړوي په وسایلو کې زیاتوالی راځي او د خلکو د ژوند سطحه لوړوي.

د پورتنیو ټولو نیمګړتیاوو باوجود د پروفیسور رابنز تعریف تر ټولو واضح او جامع وو چې د اقتصاد په علم کې ډیر پراخوالی راغلو او ډیر اهمیت یې پیدا کړو.

لارد جي ایم کینز : کینز د رابنز په تعریف نیوکه کوي وایي چې د رابنز په کتاب کې د روزګار او بیکارۍ په اړه هیڅ بحث نه دی شوی چې په اوسني وخت کې ډیر مهم مسایل دي.

کینز په خپل کتاب (روزګار، سود او د پیسو ټولیز نظریات) کې د اقتصاد علم داسې تعریف کړی : اقتصاد یو داسې علم دی چې موږ په محدودو وسایلو کار پیدا کړو او د ملي عواید د ډیروالي لپاره یې وکاروو.

د اقتصاد د علم لمن Scope of Economics

دیو علم له لمن یا پراختیا څخه موخه دا ده چې دا علم په خپله لمن کې کوم مضامین رانغاړي په دغه علم کې کوم مسایل دخیل دي له کومه ځایه پیل کیږي او په کوم ځای پای ته رسیږي د اقتصاد د علم په لمن کې موږ د اقتصاد د علم

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدود ټاکو او دا پریکړه کوو چې په اقتصاد کې کوم مسایل تر مطالعې لاندې نیول کیږي او کوم نه نیول کیږي د اقتصاد د علم د لمن د ټاکلو لپاره باید موږ لاندې څلورو پوښتنو ته ځواب ووایو :

1. د اقتصاد د علم موضوع : د اقتصاد د علم له موضوع څخه موخه دا ده چې په دې علم کې کوم مسایل څیړل کیږي هر علم ځانته موضوع لري او په هغې څیړنه ترسره کوي د ساري په ډول د بیولوژي علم موضوع د ژوندیو موجوداتو څیړل دي، همداسې د اقتصاد علم هغه کړنې تر څیړنې لاندې نیسي چې انسان نامحدوده غوښتنې په محدودو وسایلو پوره کوي په نړۍ کې انسان په یوه نه یو کار بوخت دی څوک هټیوالي ،څوک ترکاڼي کوي ،څوک روغتیاپالي ... چې انسان دغه ټولې کړنې د شتمنۍ د لاسته راوړلو لپاره ترسره کوي ځکه چې د شتمنۍ په وسیله انسان خپلې غوښتنې پوره کولای شي.

2. د انسان مطالعه د فرد یا د ټولنې په توګه ؟ : اقتصاد د یو ځانګړي شخص ژوند تر مطالعې لاندې نه نیسي چې هغه څنګه په خپلو محدودو وسایلو نامحدودې غوښتنې پوره کوي بلکې په یوه ټولنه کې د ټولو اوسیدونکو اقتصادي مسایل تر څیړنې لاندې نیسي او ګوري چې یو قوم څنګه خپلې اړتیاوې په نامحدوده وسایلو پوره کوي له کومو طریقو کار اخلي ..که د اقتصاد علم د یو فرد ژوند تر مطالعې لاندې ونیسي نو بیا د اقتصادي قوانینو جوړول ستونزمن کیږي د بیلګې په توګه که یوسوداګر د یو توکي قېمت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټيټوالي سره سره بيا هم دا توکی بازار ته عرضه کوي نو موږ بيا د اقتصاد د علم قوانين نه شو عملي کولی.

3. اقتصاد علم دی که هنر ؟ : له دي وړاندي چې موږ دا پريکړه وکړو چې اقتصاد علم دی او که هنر موږ بايد د علم او هنر ترمنځ په توپير وپوهيږو.

علم : د يو شي پيژندلو ته علم وايي پوهانو علم داسي تعريف کړی : هغه معلومات چې په حقيقت ولاړ وي او په طبيعيت کي شتون ولري علم بلل کيږي د مثال په ډول که اوبه په علمي لحاظ وڅيړو نو معلومه به شي چې اوبه له دوه برخي هايدروجن يوه برخه اکسيجن څخه جوړي شوي دي چې دا يو حقيقت دی او په هر ځای کي دا ثابتيږي که د نړۍ په هر کونج کي پري عمليه تر سره شي همدا يوه پايله لري.

هنر : د علم په وسيله د حقايقو عملي کولو ته هنر وايي. د ساري په ډول د طب په کتابو کي چې کوم شی ليکل شوی وي علم دی خو کله چې ډاکتر دغه علم په عمل کي ترسره کوي او د يو چا درملنه کوي هنر دی همدارنګه جی ايم کينز د هنر په اړه وايي : هنر د ټاکل شوي موخې د ترلاسه کولو لپاره د اصولو او تدابيرو عملي کولو ته وايي . اوس راځو دي ته چې اقتصاد علم دی او که هنر ؟ لومړی غواړم په دي برخه بحث وکړم چې ايا اقتصاد علم دی ؟

ايا اقتصاد علم دی ؟ : اقتصاد علم دی د لاندي حقايقو په وسيله موږ کولی شو چې ووايو اقتصاد علم دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د اقتصاد د علم اړیکه له انسان سره ده چې د طبیعت یوه برخه ده په اقتصاد کې مورږ د انسان هغه کړنې تر څېړنې لاندې نیسو چې د انسان نامحدوده غوښتني د محدودو وسایلو د پوره کولو لپاره ترسره کوي.

- د انسانانو د کړنو د مطالعې لپاره اړتیا ده چې حقایق راټول ،ترتیب او دانسانانو ټولې کړنې (شتمنۍ لګښت،شتمنۍ ویش،شتمنۍ پیدایښت،شتمنۍ تبادله) د ځانګړو اصولو په وسیله تر سره کیږي.

- په اقتصاد کې موږ حالات او واقعات ناپېیلي څېړو.

- د اقتصاد په اړه چې کوم قوانین جوړیږي هغه ټول حقایق روښانوي د ساري په ډول د شتمنۍ د لاسته راوړلو قوانین، د شتمنۍ د ویش قانون او نور.

ایا اقتصاد هنر دی ؟: کله چې موږ د اقتصاد د علم په مرسته د حالات او واقعات ناپېیلي مطالعه کوو او د اقتصادي ستونزو سببونه مالوموو او کله چې د دغو ستونزو د حل لپاره عملي اقدامات ترسره کیږي بیا نو اقتصاد د علم تر څنګ هنر هم دی.

له پورتنیو څرګندونو څخه رامالومیږي چې اقتصاد هم علم دی او هم هنر.

4. د اقتصاد د علم اړیکه له نورو ټولنیزو علومو سره : له ټولنیزو علوم څخه موخه هغه علوم دي چې د انسان ټولنیز ژوند مطالعه کوي دساري په توګه سیاسي علوم،تاریخ،اخلاق او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اقتصاد او سياست : اقتصاد او سياست يو له بل سره ډيرې پخوانۍ او نه شليدونکي اړيکې لري د سياست علم داسې قوانين جوړوي چې د هيواد دنظام په چلولو کې مرسته کوي ليکن اقتصاد د انسانانو کړنې د اقتصاد له نظره څيړي. د يو هيواد اقتصادي کړنې د هيواد په سياست ډيره اغيزه لري که په يو هيواد کې امن وي ،سکون وي سياسي پايښت وي نو د هيواد وګړي کار کوي ،کاروبارو تر سره کوي ورسره په هيواد کې توليدات ډيريږي ،د خلکو د ژوند سطحه لوړيږي او هيواد ورسره د اقتصادي پرمختګ په لور ځي لکه څرنګه چې سياست د يو هيواد په اقتصاد اغيزه کوي همداسې اقتصاد هم د يو هيواد په سياست اغيزه کوي د حکومت طرز د يو هيواد په اقتصادي حالت پوري تړلې وي کله چې يو هيواد سياسي قوانين جوړوي نو په هيواد کې د پانګونې ، د بيکارۍ ،کرنيزو ،صنعت او نورو اقتصادي مسايلو په نظر کې نيول کيږي د يو هيواد اقتصادي پرمختګ لپاره سياسي اقدامات ترسره کيږي نو له دې کبله اقتصاد او سياست سره ډيرې نژدې اړيکې لري .

- اقتصاد او اخلاق : په اقتصاد کې د انسان هغه کړنې شاملې دي چې انسان څنګه شتمنۍ لاسته راوړي خپلې نامحدوده غوښتنې څنګه پوره کړي دغيرقانوني لارو لاسته راغلې شتمنۍ په اقتصاد کې نه راځي .له پورتنيو څرګندونو څخه رامالوميږي چې اقتصاد او اخلاق پخپلو کې مهمه اړيکه لري .

- اقتصاد او تاريخ : اقتصاد او تاريخ هم ډيرې لرغونې اړيکې لري يو اقتصاد پوه د تاريخ تر مطالعې وروسته دا معلومولی شي چې په تيرو وختو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د اقتصادي ناورینونو ،د پیسو پرسوب،بې کاري او د نورو اقتصادي ستونزو د رامنځته کیدو سببونه څه ول .همداسې د تاریخ مطالعه یو اقتصاد پوه ته د ډیرو مسایلو په اړه معلومات ورکوي څو په راتلونکې کې ښه پریکړه وکړي.

اقتصاد له سیاست ، تاریخ او اخلاقو څخه علاوه له نورو علومو سره هم اړیکې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اقتصادي قوانین

د داسې اصولو جوړول چې د کړنو د اجرا په وخت کې په پام کې نیول کیږي قانون بلل کیږي په ټولو علومو کې طبیعي دي او که ټولنیز هر یو خپل قوانین لري .اقتصادي قوانین د انسان لپاره د هغه طرزالعمل متعلق معلومات تهیه کوي چې اړیکه د اړتیاوو د ډیرښت او د وسایلو د کمښت سره وي د ساري په توګه د یو توکي قیمت ټیټ شي نو خلک هغه ډیر اخلي او کله چې یې قیمت لوړ شي نو په کم مقدار یې اخلي چې دا یو اقتصادي قانون دی .

د اقتصادي قوانینو ځانګړتیاوې : اقتصادي قوانین لاندې ځانګړتیاوې لري :

- مفروضات : کله چې موږ دااقتصادي قوانینو په اړه خبرې کوو موږ تل یو څو خبرې فرضوو چې د قانون مفروضات ورته ویل کیږي که په دغو مفروضاتو کې تبدیلي راشي نو اقتصادي قوانین سم نه ثابتیږي د ساري په توګه د تقاضا قانون وایي : که نور عوامل ثابت وي نو د قیمت له کمښت سره تقاضا ډیریږي او که قیمت لوړ شي تقاضا کمیږي . له پورتني مثال څخه څرګندیږي چې د تقاضا قانون هغه وخت سم دی کله چې نور عوامل ثابت وي دغو عواملو ته مفروضات وایي چې په لاندې ډول دي :

♣ د مصرفونکو په عوایدو کې تغیر نه وي راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د مصرفونکو په خوښه ، عادت او سینګار کې بدلون نه وي راغلی .
- د متبادلو توکو په قیمتونو کې تغیر نه وي .
- د مصرفونکو په شمیر کې بدلون نه وي .

• اختیار : اقتصادي قوانین اختیاري دي که د چا خوښه وي عمل پرې کولای شي او که د چا خوښه نه یې پرې کوي .

• خوښمن : د اقتصادي قوانینو عملي کول په زور نه دي بلکې دا خوښمن کار دی د هر چا خوښه ده که څوک یې مخالفت کوي او که عمل پرې کوي .

• په حقیقت ولاړ : اقتصادي قوانین په حقیقت ولاړ وي په هر ځای او هر وخت سم وي د ساري په توګه : سپما=عاید-لګښت له دې څخه موخه دا ده چې سپما هغه وخت رامنځته کیږي کله چې زموږ عواید ډیر وي نسبت لګښت ته چې دا قانون په هر ځای کې او هر وخت سم دی.

• تولنیز : د اقتصادي قوانینو بڼه ټولیزه وي ،مقداري بڼه نه لري د نورو اقتصادي پیښو له تجزیې کار اخلي طبیعي علوم مقداري اندازه بیانوي د ساري په توګه دوه برخې هایدروجن یوه برخه اکسیجن په هر ځای کې او به جوړوي لیکن په اقتصاد کې موږ داسې نه شو ویلی چې که د یو توکي قیمت له لسو افغانیو څخه شلو ته پورته شي نو تقاضا یې نیمیږي په اقتصاد کې هر څه په ټولیز ډول څیړل کیږي اقتصادي قوانین د یوې ځانګړې ډلې استازولي نه کوي بلکې یوې ټولې د روښانه اکثریت استازولي کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- معیار : د نورو ټولنیزو علومو په نسبت اقتصادي قوانین ډیر معیاري وي ځکه اقتصادي حرکتونه او غوښتنې موږ د پیسو په وسیله روښانولی شو خو نور ټولنیز علوم په پیسو نه شو.

- بشري کړنو مطالعه : په اقتصادي قوانینو کې موږ یوازې بشري کړنې تر مطالعې لاندې نیسو.

- د اقتصادي قوانینو جوړښت : اقتصادي قوانین جوړیږي نه بلکې د انساني ارتجاعیت په وسیله په خپله جوړیږي . د ساري په توګه که د یو توکي قیمت ټیټ وي خلک یې ډیر اخلي خو کله چې قیمت لوړیږي نو خلک یې په کم مقدار اخلي چې دغه قانون د خلکو د ارتجاعیت په اساس جوړیږي او د تقاضا قانون دی.

په اقتصادي او نورو قوانینو کې توپیر

په اقتصادي او سیاسي قوانینو کې توپیر : سیاسي قوانینو څخه موخه هغه قوانین چې د حکومت له خوا عملي کیږي چې دا قوانین د حکم په څیر کارول کیږي چې مراعتول یې په ټولو وګړو حتمي دي او که څوک یې عملي نه کړي نه نو سزا هم ورکول کیږي ،که حکومت وغواړي سیاسي قوانین لمنځه وړلی شي خو اقتصادي قوانین په خپله جوړیږي او که چا عملي نه کړل سزا پرې نشته او که څوک وغواړي دغه قوانین لمنځه نه شي وړلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اقتصادي او اخلاقي قوانینو کې توپیر : د اخلاقي قوانینو موخه د ټولنې اصلاح کول وي چې خپلواکه بڼه لري اخلاقي قوانین د مذهب او ټولنې د دود په وسیله جوړ شوی وي چې دا قوانین دا پریکړه کوي چې دا کار وکړه دا مه کړه د ساري په توګه د مور او پلار درناوی کول ،په اخلاقي قوانینو عمل کول په ټولنه عزت پیدا کول او که عمل پرې ونه کړو نو عزت مو کمیږي اخلاقي قوانین په یوې سیمې پورې تړلي وي خو اقتصادي قوانین په خپله جوړیږي که عملي یې نه کړي نو په خپله به ځانته زیان رسیږي اقتصادي قوانین نړیوال وي .

اقتصادي او طبیعي قوانین : طبیعي قوانین د طبیعي علومو(کیمیا ،فزیک) قوانین وي دا قوانین د وسایلو او پایلو ترمنځ په خپلواک ډول یو ځای شوي او رامنځته شوي دي چې په هر ځای او هر وخت قایم وي د ساري په توګه د فزیک یو قانون دی که د نړۍ په هر ځای کې یو توکی پورته واچوې بیرته ځمکې ته رالویږي چې دې قانون ته د ثقل قانون ویل کیږي طبیعي قوانین قاطع وي د طبیعي قوانینو اړیکه غیر ژوندیو سره وي خو اقتصادي قوانین قاطع نه دي په خپله جوړیږي له انسانانو سره اړیکه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اقتصاد د علم ګټې

اقتصاد یو ټولنیز علم دی چې د انسان په پرمختګ کې له انسان سره مرسته کوي د اقتصاد د اهمیت په اړه مالتس وایي : اقتصاد یوازنی علم دی چې ټول خلک پرې خبر او معلومات لري او په اقتصادي پرمختګ کې مرسته کوي . ووټن د اقتصاد د علم په اړه وایي تر هغه پورې یو انسان متمدن نه شي کیدای تر څو چې د اقتصاد د علم په اړه معلومات ونه لري همدارنګه پروفیسور پیګو وایي : د اقتصاد د علم زده کړه د علم په توګه نه بلکې د اقتصادي ستونزو د حل لپاره باید زده شي ،هنري لیکي د یو انسان لپاره د اقتصاد د علم زده کړه د هر انسان اړتیا او اخلاقي مسوولیت دی د اقتصاد علم زده کړه د انسان ذهن ته پراختیا ورکوي ،په اوسني وخت کې څوک د اقتصاد د علم په اړه پوهه ونلري نو هغه ته لوستی انسان نه شو ویلی ،د کارګرو د حقوقو دفاع،پانګوالو ته د ښې ګټې برابرول،د صنعتکارانو ،کروندګرو لپاره د بازار د پیدا کیدو د کاروبار د ډولونو او د کاروباري موقو پیدا کول ،د لګښتونو لپاره لارښوونه،د شتمنۍ عادلانه ویش ، دانسان د ژوند د سطحې لوړوالی او نور د اقتصاد علم ګټې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نړیوال اقتصادي سیستمونه

## International economic systems

په اقتصاد کې د انسان هغه کړنې تر مطالعې لاندې نیول کیږي چې د محدودو وسایلو په مرسته د نامحدودو غوښتونو د پوره کولو لپاره تر سره کیږي چون دغه کړنې انسان په ټولنه کې ترسره کوي نو له دې کبله یې یو له بل سره اړیکې پیدا کیږي د کړی بڼه اختیاروي چې اقتصادي نظام ورته وایي یو نومیالي اقتصاد پوه اقتصادي نظام داسې تعریف کړی دی :اقتصادي نظام هغه اداري رانغاړي چې د یو هیواد وګړي یې د دې لپاره رامنځته کوي چې خپل محدود وسایل داسې وکاروي تر څو خپلې نامحدودې غوښتنې پرې پوره کړي د یو هیواد اقتصادي نظام دا پریکړه کوي چې د خلکو لاندې پوښتنو ته څنګه ځواب ووایي :

1. څه شی پیدا کړي؟ : د یو هیواد اقتصادي نظام لومړی په دې بحث کوي چې د هیواد وګړي څه شي ته اړتیا لري چې د تولید وسایل پرې وکارول شي او د خلکو د اړتیا وړ توکي تولید کړي.

2. څنګه یې تولید کړي ؟ :په اقتصاد کې دویمه پوښتنه دا چې څنګه یې تولید کړو له څنګه یې تولید کړو څخه موخه دا چې د تولید عوامل په څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقدار سره یو ځای کړو څو د تولید لګښت کم او تولید ډېر کړو دا هغه وخت ترسره کېږي د تولید عوامل په ښه توګه وکارول شي.

3. د چا لپاره تولید ؟ درېيمه پوښتنه دا چې تولید دکومو خلکو لپاره تر سره کړي چې دهغوی اړتیاوې پرې پوره شي

4. وسایل څنګه وویشي ؟ په هیوادونو کې شته وسایل څنګه وویشل شي ایا دغه وسایل له خلکو سره وي او که له حکومت سره او که په ګډه وي څلورمه پوښتنه د همدې لپاره ترسره کېږي چې د پورتنیو پوښتنو د حل لپاره بېلا بیلې لارې کارول شي چې اقتصادي نظامونه ورته وایي او په لاندې ډول ترې یادونه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بازار اقتصادي نظام

## Market Economy

د بازار اقتصادي نظام هغه اقتصادي سیستم دی چې په هغو کې د پرېکړو د نیولو او معاملو د اجرا په وخت کې د تولید پر وسایلو د خصوصي ملکیت مخکوالی په نظر کې نیول کیږي. د ملي اقتصاد په کچه د اقتصادي معاملو او پروسو پلان او انسجام په متمرکزه سراسري بڼه نه وي هر اقتصادي واحد ځانګړی پلان او د کړنو تدبیرونه په بازار کې د موجودو سیالیو او د خرڅلاو د قیمتونو پر بنسټ جوړوي. د ځانګړو اقتصادي واحدونو پلانونه چې هر یو بیل بیل د بازار د نرخونو سره په تړاو کې وي جوړیږي او د ټول ملي اقتصاد په کچه د همدې ځانګړو پلانونو یوځایي پیوند او ارزونه د ملي اقتصاد د پلان او وړاندې لید لپاره په کاریږي پانګوال نظام د خصوصي ملکیت د تقدس پر بنسټ ولاړ دی او د بازار اقتصاد د آزادو سیالیو له لارې د انسانانو د اړتیاوو د پوره کولو په میکانیزم دریدلي دي یا په بل عبارت، د تولید پر وسایلو خصوصي ملکیت دبازاردآزادوسیالیو له لارې د ټولنې د اړتیاوو له پوره کولو سره ټینګ تړلي دي او د ډېرو پوهانو په نظر ، یو یې له بله ، د تصور او عملي کارونې وړ نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بازار د اقتصادي نظام بنې

د بازار اقتصاد یو لرغونی تاریخي اقتصادي نظام دی چې د بشري ټولنې د تاریخي تکامل سره سم يې وده موندلې او د ملي ټولنو له اړتیاوو اود نړیوالو شرایطو له غوښتنو سره سم يې بدلون موندلی دی د تاریخ په اوږدو او په تیره بیا د شلمې پیړۍ په بهیر کې د بازار د اقتصادي نظام نوي ډولونه رامنځته شوي، چې ځینې غوره بیلګې يې د آزاد بازار (لبرال مارکیټ)، ټولنیزبازار (سوسیال مارکیټ)، د چاپیریال ساتني ټولنیزبازار (سوسیال ایکالوژیک مارکیټ) یادولای شو.

### آزاد بازار:

د بازار اقتصادي نظام بیلابیلې بڼې لري یو له هغو بڼو څخه د آزاد بازار (لبرالمارکیټ) اقتصادي بڼه ده چې په هغو کې تولید او لګښت په آزاده توګه د بازار د لارې اداره کیږي دولت په مستقیمه توګه په بازار کې مداخله نه کوي او یوازې د غیرمستقیمې لارې د بازار په پروسو کې لاس وهلی شي د ساري په توګه، دولت کولای شي چې ځیني دولتي محصولات بازار ته وړاندې کړي، په سیالیو کې برخه واخلي او یانوي قوانین جوړ او عملي کړي په آزاد بازار کې هر څوک خپلې شخصي ګټې لټوي او د هغو د ترلاسه کولو لپاره تولید کوي، خدمتونه وړاندې کوي، په اقتصادي معاملو کې برخه اخلي او له دې لارې په آګاهانه او یا نا آګاهانه بڼه د غونډې ټولنې دژوند د سطحې په لوړولو کې رول ادا کوي داحتمي نه ده چې یو څوک د ټولنې ته د خدمت په عالي درک او

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساس په اقتصادي پروسو کې مسوولانه ونډه واخلي، بلکې يوازې د شخصي ګټو د تر لاسه کولو په هدف اقتصادي کار يې په آخري پايله کې د ټولنې د ژوندانه د ښه والي او هيواد او هيوادوالو ته د خدمتونو خواته کشوي.

د آزاد بازار په اقتصادي سيستم کې د قراردادونو آزادي يو له غوره ځانګړنو څخه دهدولت د کار او د نورو اقتصادي معاملو په تړونونو کې لاس وهنه نه کوي. هر څوک د شخصي تشبث، د کار او شغل د انتخاب آزادي لري او کولای شي پخپله آزاده اراده دهغو په اړه تصميم ونيسي او د آزادو قراردادونو له لارې د قانون په چوکاټ کې له نورو سره سياليو ته داخل شي د آزاد بازار بله ټاکونکې ښنه د مصرف او مصرفوونکو آزادي ده همدا شان د شغل او مسلک آزادي هم د آزاد بازار له غوره بيلوونکو بيلګو څخه ده دا ټول بياد توليد پروسايلو د خصوصي مالکيت پر بنسټ ولاړ دي.

د توليداتو او خدمتونو قيمتونه د هغو ښتنان پخپله خوښه په خپلواکه توګه ټاکي او دا په بازار کې د عرضې او تقاضا د انډول له لارې پخپله تنظيمېږي. په آزاده توګه ټاکل شوي قيمتونه بيا پخپله د بازار بيلانس ساتي او د ځينو محصولاتو د اړتيا څخه د زيات توليد(اضافه توليد) مخه نيسي.

د ازاد بازار په اقتصادي نظم کې بازارته د هر چا مخه خلاصه ده هر توليدوونکی کولای شي خپل مال په آزاده توګه وړاندې کړي او هر مصرفوونکی هم کولای شي په آزاده توګه د خپلې اړتيا وړ شيان پخپله خوښه انتخاب او مصرف کړي بازار ته آزاده لاس رسي ددې سبب کيږي چې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



توليدوونکی هاند وکړي، تر څو د مصرفونکو د مينې او ذوق سره برابر توليد وړاندې کړي، نوي نظرونه رامنځته شي، ورځ په ورځ د ټاکلي شي نوي موډلونه اودنويو خدمتونو ډولونه توليداو رواج شي.

د توليد پر وسايلو د خصوصي ملکيت،ازادي سيالۍ او ازاده سيالۍ چې د اقتصادي ليبراليزم اساسي ستنې دي چې د ادم سميت په نظر د ټولنې د ژوند د سطحې د لوړوالي لپاره لومړني شرطونه دي .

. ټولنيز ژوندانه په عمل کې هم دا وښوده چې اقتصادي لبراليزم د اقتصاد صنعتي کېدو او د پيداوارنو ظرفيت او تنوع ته چټکتياورکړه چې په پايله کې يې پانګوال نظام زغرده وده وکړه داپروسه بيادټولنيزو پراخه پرګنوله بيوزلۍسره هم ملګرې ده اوپه پايله کې يې دبډايانواوبيوزلانو ترمنځ واټن ورځ تر بلې زياتيږي.

سره له دې چې د اقتصادي لبراليزم طرفداران په اروپا او امريکا کې ټول په بنسټيزه توګه د اقتصاد د ځواک له پاره کارکوي، خو تر منځ يې ټاکلي توپيرونه هم شته په اوسني وخت کې د لبراليزم نظريه د سياست د ډګر په څير په اقتصادي برخه کې هم له هغه پخوانۍ جاذبې څخه لويدلې او د پام وړ پلويان نه لري.

په ډيرو بحثونو کې داسې هم اوريدل کيږي چې د آزاد بازار اقتصاد د افغانستان په اساسي قانون کې د افغانستان لپاره د اقتصادي سيستم په حيث

(c) ketabton.com: The Digital Library



منل شوي دي دا خبره سمه نه ده د افغانستان په اوسني اساسي قانون کې د آزاد بازار اقتصاد نه، بلکې یوازې د بازار اقتصادي سیستم د هیواد د ملي اقتصاد له پاره منل شوی او د هغو د بڼو(اشکالو) د انتخاب له پاره لارهآزادهپرېښودلشوې ده.

ټولنیز بازار (سوسیال مارکېټ):

د ټولنیز بازار اقتصادي سیستم چې د بازار د اقتصاد ځانګړې بڼه ده، د پانګوالۍ درژیم د سیالیوپربنسټ دولت ته داواک اودنده ورکوي چې په اقتصادي موضوعګانو کې سیاسي–ټولنیز اصلاحات تر لاس لاندې ونیسي، ټولنیز عدالت او سیاسي ثبات ته لومړیتوب ورکړي او د ټولنیزو مساواتو په لار کې ګام واخلي.

د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د ټولنیز بازار اقتصادي سیستم مطرح شو او د هغو د پراختیا او پر مختګ په لارکې ګامونه واخیستل شول. په پانګوالاقتصادي نظام کې د ټولنیزو مسئلو د نښېګنې او د بېوزلو او محرومو طبقو او قشرونو په ګټه د دولت لاسوهنې ته ځکه اړتیاده چې پخپل سر او آزادې پانګوالۍ لخوا ډېر ځله د هیواد محرومان او ټولنیزي اړینې چارې له پامه غورځول کیږي او پایله یې دټولنیزیووالی او سیاسي ثبات د لمنځه تلو سبب کیږي. د پانګوال اقتصاد همدا خپل سرې ودې د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې په رامنځته کېدو کې د پام وړ رول ولوباوه الفرید مولر ارمک او اوډویګ ایر هارډله نظره د ټولنیز بازار ښېګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داده چې د آزاد بــازار مثبتــې خــواوې ســاتي، د اقتصــادي ځواکمنتيــا او د توليــداتو او خـدماتو د تنـوع لـه بهيـره ننګـه کـوي، خـو پـه عـين وخـت کـې د هغو دمنفي اړخونو او بدواغيزومخنيوي کوي، په ټولنيز ژوندانـه کـې د ګټـې د ترلاسه کولو په خاطر د آزاد بازار د رقابتونو د ورانوونکي اغيزې مخه نيسي او دڅومحدودوکســـــــانوپه لاس کــــــې داقتصــــــــادي ځـــــــواک دانحصـاراوتمرکزدماتولوله پـاره دټـولنې پـه ګټـه مناسـب اوقـانوني تدبيرونـه نيسي. او په عين حال کې د ملي يووالي، ټولنيز مصئونيت، امنيت، سولې او عدالت د تأمين او تحکيم په لار کې هم پوره ګامونه تر لاس لاندې ونيول شي.

په ټولنيز بازار کې د دولت ځای او رول د آزاد بـازار څخـه فـرق لـري دلتـه دولت دآزادبازارپه څير په اقتصادي چارو کې پاسيف رول نه لري، بلکې په فعاله توګه په اقتصادي معاملاتو کې برخه اخلي او په هغه ځای کې چې اقتصـادي پروسـې د ټـولنيزو، سياسي چارو دمـوازنې د لمنځـه تلـو سبب کيـږي، فعـال دفـاعي او اصلاحي تدبيرونه نيسي. په دې حال کې د دولت غوره ټوليز سياسي هدفونـه او تدبيرونه د کار په بازار کې، د شـتمنيو د جوړولـو پـه سياسـت کـې، د کورونـو د جوړولو او توزيع پـه سياسـت کـې، د ښـوونې او روزنـې پـه چـارو کـې د عايـداتو پورتـه کيـدو او معاشـاتو پـه انـدازه او ويـش کـې مداخلـه او داسـې نـور تـر لاس لاندې نيول کيدای شي. هدفدادی چې اقتصادي پرمختـګ او د مـادي نعمتونـو پريمـانې د ملت د عـامو وګـړو تـرمنځ د کشـمکش سبب نـه شـي، بلکـې د آزادې سـيالۍ پـه پايلـه کـې د رامنځتـه شـوي پرمختللـي اقتصـادي ځـواک پـه واسطه ټولنيزعدالت،پيوسـتون اوپرمختـګ تضـمين کـړي دټـولنيز اقتصـادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارکېټ نظام داسې شرایط رامنځته کولای شي چې دملي اقتصاد پرمختګ دټولنیزعدالت، پیوستون اوترقۍ سره ټینګ تړاو ولري، نه داسې چې دبې امنۍ، ټولنیز ناورین او سیاسي بې ثباتۍ سبب وګرځي. د ټولنیز بازار کله د سوسیالیزم او پانګوالي نظامونوترمنځ دریېمه اقتصادي لار هم نومول شوې ده، خو ډیر پوهان د داسې اصطلاح استعمال سم نه بولي په نړۍ کې د سوسیال بازار غوره نمونه د آلمان اقتصادي نظام دی چې د ملي اقتصاد د پر مختګ سره یوځای د افرادو ټولنیز مصئونیت هم تضمینوي په سوسیال بازار کې دولت مکلفیت لري چې بیوزلو، زړو، معیوبو، بیکارو او نورو ټولنیزو مرستو ته اړوکسانو اودهغواولادونوته دژوندلومړنۍ اړتیاوې د ټولنې په منځګړې کچه ورسوي هر څوک حق لري چې مناسب خوراک او څښاک، د سمو جامو د اغوستلو او د معیاري کور د اوسیدلو امکانات ولري. په هیوادکې دهراوسیدونکیروغتیا د دولت لخوابیمه ده هرڅوک حق لري چې ددولت له بودجې اوټولنیزو فنډونوڅخه ورته د زده کړې او ښوونې او روزنې شرایط برابر شي. دکوچنیانودزدهکړېاو تحصیل امکانات د هغوی د میندو او پلرونود ټولنیز موقف او شتمنۍ تابع نه وي دولت مکلف دی چې د قانون له مخې د هر چا استعداد ته د ودې مخه خلاصه او تري بشپړه ننګه وکړي په دې توګه د سوسیال مارکېټ په نظام کې د کور، کالي، ډوډۍ، صحت او سواد ستونزو ته د حل د لارو موندل د دولت له مکلفیتونو څخه شمیرل کیږي .

دچاپیریال ساتنې ټولنیز بازار

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت په تیرېدو سره د بشري ټولنې د پايښت لپاره د چاپيريال اهميت زياتيږي او د هغو د سالم ساتلو دنده د انسانانو په وړاندې ورځ په ورځ غوره کيږي. ډيرې اقتصادي کړنې  د انسانانو د ژوند په چاپيريال منفي اغيزه کوي له همدې کبله د بازار د اقتصادي نظام د ټولنيز بازار  تر څنګ د شلمې پيړۍ په آخرو کې د دچاپيريال ساتنې ټولنيز بازار تيوري هم رامنځته شوه او وده يې وکړه ددې نظريې او عملي اقتصادي نظام هدف دادی چې د اقتصاد (ايکانومي) او د ژوند د چاپيريال (ايکالوژي) تر منځ بيلانس وساتل شي.

د شلمې پيړۍ تر دويمې نيمايي پورې دا نظريه چليده چې طبيعي ذخيرې پريمانه او ډيرې دي. دژوند دچاپيريال له طبيعي زيرموڅخه وړيا ګټه اخيستل کېده  د شلمې پيړۍ په دويمه نيمايي او په تيره بيا د اوومې لسيزي وروسته دې نظريې زور واخيست چې د ژوند چاپيريال پخپله زيات ارزښت لري او بايد د توليد له داسې ميتودونو او د اقتصادي کړنو له داسې سيستمونو څخه کار واخيستل شي چې د انسانانو د ژوند پر چاپيريال يې ناوړه اغيزې کمې وي. دلته بايد اقتصادي ګټې او چاپيريال ته د زيان رسيدو ترمنځ سنجش وشي او خالصه اقتصادي ګټه بايد د ژوند د چاپيريال د تاوان له لارې لاسته رانه وړل شي که په سوسيال بازار کې د ټولنيز او سياسي مصئونيت او ثبات موضوع په نظر کې نيول کېده، په سوسيال ـ ايکالوژيک مارکېټ کې د هغو تر څنګ د ژوند د چاپيريال ساتنه هم په پام کې نيول کيږي. په دې اقتصادي نظام کې د اقتصادي ګټو د ترلاسه کولو له پاره د ژوند د چاپيريال خرابولو ته اجازه نه ورکول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اقتصادي کړنو او له هغې لارې د مادي ګټو د ترلاسه کولو په لار کې د ژوند د چاپيريال د خرابۍ د مخنيوي په خاطر ټاکلي معيارونه او ميتودونه کاريږي. د نمونې په توګه ويلای شو چې د توليدي .اقتصادي فعاليت په پايله کې دکاربن ډای اکسايد د توليد د اندازې پر معيار د چاپيريال ماليه ټاکل کيږي هر څوک او هر اقتصادي ، توليدي کامپلکسچېډيرکاربنډای اکسايد توليدوي، د ډيرې ماليې پر ورکولو مکلف وي يا هر څوک چې ډيره انرژي مصرفوي په هماغه اندازه دچاپيريال ماليه اينبودل کيږي داسې ډيرنورميتودونه هم شته چې په اقتصادي فعاليتونوکې دچاپيريال د تخريب په مخنيوي اوکمښت کې مثبت رول لوبولای شي.

دچاپيريال ساتنې ټولنيز بازارکې دولت د چاپيريال د ساتنې له پاره په بازار او اقتصادي معاملو کې فعاله مداخله کوي او هر څوک د ګټې د ترلاسه کولو په خاطر د چاپيريال په تخريب کې آزادي لاسوهنې ته نه پريږدي دلته دا هم په نظر کې نيول کيږي چې په توليدي .اقتصادي پروسه کې څومره انرژي مصرفيږي او په چاپيريال يې اغيزه څومره ده؟

د چاپيريال د ساتنې د مؤسسو لخوا داسې هڅې رواني دي چې د ژوند د چاپيريال د قيمت د معلومولو او د بازار په معاملو کې داخلولو له پاره د هغو د سنجش په خاطر څرګندکمي مقياسونه رامنځته کړي، چې تر ټاکلې اندازې پکې بريالي هم دي دا نظريه ورځ تر بلې غښتلې کيږي چې د ژوند او فعاليت چاپيريال بايد چاته د ورېا څيزونو په حيث د اقتصادي فعاليتونو لپاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختیار کې ورنه کړل شي دا د دولت د عمومي شتمنۍ په حیث وګڼل شي او پر استعمال یې قیود وضعه او قیمت پرې کېښودل شي. د بلې خوا د تولید په پروسه او نورو اقتصادي معاملو کې د انرژۍ مصرف تر کنترول لاندې ونیول شي او د برق، تیلو، ګازو او نوره انرژۍ باندې مالیه جګه شي.دایکالوژیک ـ ټولنیز بازار په نظام کې هدف دا هم دی چې د راتلونکو نسلونو له پاره د ژوند طبیعي چاپیریال سالم وساتل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سوسيالیزم اقتصادي نظام

د سوشـيالیزم کلمـه د نـړۍ پـه هـر ګـوټ کـې کـارول کيـږي او تـل پـه سياسـي ،اقتصادي او پوهنيزو بحثو کې پر خبرې کيږي.سوشياليزم د مفهـوم او مانـا لـه مخې تقريبا دوه زره څلورسوه اتـه ديرش کالـه وړانـدې موجـود و.خـو دلفظ او کلمې لـه مخـې د نولسـمې پيـړۍ محصـول دی او دنولسـمې پيـړۍ پـه سـر کـې رامنځتـه شـوی چـې پـه اقتصـادي کتـابونو کـې ددغـې کلمـې د حقيقـي پيـدا کوونکي تر منځ اختلاف شتون لري په ځينو کتابونو کـې د سوشـياليزم د کلمـې پيدا کوونکی رابرټ اوون ښودل شوی مګر د فرانسـې نوميالي عـالم پيـر لـرو پـه خپل کتاب کې (ګرودو سامار) داسې ذکر کړی چې د سوشياليزم کلمه لومړی مـا استعمال کړې.

د سوشــياليزم تعريــف : ډيــرې سياســې او اقتصــادي ټــولنې خپلــې طريقــې سوشيالستي بولي مګر په نظرياتو او کړنو کې يو له بل سره توپيرشـتون لـري د ساري په ډول انارشستانځانونه سوشيالستان بولي خو د خپلو نظرياتو لـه مخـې پـه فرديـت را څرخـي د فـرد پـه اصـلاح کـې د ټـولنې اصـلاح وينـي حکومـت او ديکتاتوري نه خوښوي همدارنګه کمونسـتان او مارکسسـتان هـم د سوشـياليزم نارې وهي مګر هغوی وايي چې د ټولنې اصلاح د فـرد اصـلاح ده چـې دحکومـت او ديکتاتورۍ طرفدار دي د پورتنيو توپيرنو لـه کبلـه د سوشـياليزم تعريفـول هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزمن کار دی خو بیا هم کولای شو په لاندې ډول یې تعریف کړو: سوشیالیزم د هغه ښوونځي او طریقې څخه عبارت دی چې عقیده لري چې د پانګوال نظام د مالکیت او کار ډول ظالمانه دی باید د ټولنې له لورې ورته تغیر ورکړل شی.همدارنګه سوشیالستان وایي د ټولنیزو مسایلو د حل لپاره باید په ټولنیز ډول اقدام وشي او د ثروت سرچینې باید د ملت په لاس کې ورکړل شید تولید وسایل د دولت او یا ټولنیزو اتحادیو او کوپراتیفونو په ملکیت کې ورکول کیږي. په داسې نظام کې شخصي ملکیتونو ته اجازه ورکول کیږي، خو د خصوصي ملکیتونو شته والی د دولتي قانون له مخې منعه وي.

له شخصي مالکیت څخه موخه پرهغه شتمنیو د شخص تصاحب دی چې د هغه د شخصي او کورنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ترې کار اخیستل کیږي، خو د نورو د کار د ګټې د خپلولو او استثمار لپاره نه شي کارول کیدای د ساري په توګه، د اوسیدلو کور، جامې، بایسکل، موټر، هغه اندازه ځمکه چې یو شخص او د هغه د کورنۍ غړی پخپله پکې کار وکړي او همدا ډول نور ټول هغه څه چې یو څوک یې د خپل شخصي او کورني ژوند لپاره کاروي.

ددې په وړاندې خصوصي مالکیت د تولید پر وسایلو دافرادو له هغه ډول تصاحب څخه عبارت دی چې د افرادو د شخصي او کورنیو اړتیاوو څخه زیات وي او د هغو په واسطه د نورو هغو کارګرانو او مسلکي کسانو د کار څخه ګټه اخیستل کیږي چې د همداسې وسایلو د نشتوالي له کبله په خپله په مستقل ډول په تولیدي او خدماتي فعالیتونو کې برخه نه شي اخیستلای د تولیدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسايلو څخه بې برخې کارګران او ماهران د خپل ژوند د اړتياوو د لاسته راوړو او په خپله تحصيلي څانګه کې د کار د موندلو لپاره دې ته اړ وي چې د کوم بل پانګوال سره چې د مناسبو توليدي وسايلو څښتن دی، کار وکړي په پايله کې د خپل کار او لاس د محصولاتو ګټه په لږه او يا ډيره اندازه د هغو د کار ورکوونکي پانګوال لاس ته ورځي.

ددې لپاره چې د شخصي او خصوصي مالکيت تر منځ موضوع ښه څرګنده شي دلته به د يوې ټوټې ځمکې مثال راوړو:

که يو څوک شخصي ځمکه ولري، په هغه کې پخپله دی او د هغه د کورنۍ غړي کار او توليد وکړي او پيداوار يې هم د خپل کور د اړتياوو لپاره ولګوي، نو د ځمکې ټوټه د هغه شخصي ملکيت دی او په سوشياليزم کې يې د ساتلو او کاله کولو حق لري خو که چيرې يو څوک په ځمکه کې پخپله کار نه کوي، خپله ټوټه ځمکه چاته په اجاره، کرايه او يا ده کروندګر ته په کروندګرۍ ورکړې وي، نو دا ځمکه د هغه په خصوصي مالکيت اوړي او په سوشياليزم کې يې د ملکيت او د هغو په وسيله د بل چا د کار او زيار د ګټې د خپلولو حق نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سوشیالیزم ته د رسیدو مراحل

- نیوکه :د سوشیالیزم ښوونځي اصولاً د ټولنې پر موجوده انتظامونو نیوکې کوي دوی په ټولنه کې د طبقاتو د له منځه وړلو لپاره کار کوي چې دلته دوه ډوله اقدام غواړي یو ډله وایي چې ډېر ژر باید بدلون راشي بله ډله وایي چې لومړی باید سیاسي ،اقتصادي ،ټولنیز او کلتوري خیړنه وشي بیا بدلون راشي.
- هیله: سوشیلستان هیله لري چې د راتلونکي زماني خلک به کوښښ وکړي چې د تولید اوسنی نظام چې سم نه دی بیرته کړي او دهغه پر ځای یو داسې نظام ټینګ کړي چې د مساوات پر پایو ولاړ وي.
- عمل: په ټولنه کې سوشیالستي نظام ته د رسیدو لپاره د سوشیلستانو تر منځ اختلاف موجو دی یو ډله یې د عمومي انقلاب طرفدار دي چې په هغو کې المانی کارل مراکس او ملګري یې د دې نظرې ملاتړي دیکارل مارکس یوازې داسې نه وایي چې انقلاب دې وشي بلکې هغه عقیده لري چې دا ډول انقلاب کیدونکی او راتلونکی دی.هغه د پانګوال نظام څخه مخالف و او په ټوله نړۍ کې کارګرو ته همدا یوه خبره کوله د نړۍ کارګرو یو له بل سره متحد شئ کارل مارکس او دهغه ملګرو سوشیالیزم ته د رسیدو لپاره د کارګرو انقلاب او د یو څه وخت لپاره د هغوی دیکتاتوري غواړي،پانګوال نظام ټولنه په دوه طبقو ویشید مارکس په عقیده تاریخ د طبقاتو ترمنځ د کشمکشو او اړودوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه عبارت دی نه دملتونو د جنګ څخه تاریخي پیښې د اقتصادي قدرت او زور لاندې پیدا شوي.

د کارل مارکس دا نظریه په عملي ډګر کې په اوسنۍ روسیه کې د ناکامۍ سره مخ شوه د مارکس ، انګلز او لېنن سوشیالستي مفکوره د نړۍ په نورو هېوادنو کې هم خپل ارزښت له لاسه ورکړو:

د سوشیالیزم بنسټیز اصول:

۱. ټولنیز ملکیت: پـه سوشیالیزم کې خصوصي ملکیت شتون نه لري د تولید ټول وسایل(ځمکه، کار، پانګه، مدیریت) د حکومت به لاس کې وي.
۲. خصوصي کاروبار وجود نه لري:پـه سوشیالیزم کې خصوصي کاروبار وجود نه لري ټول خلک له حکومت سره کار کوي او د دولت نوکران وي.
۳. د شتمنۍ مساوي ویش: په سوشیالیزم کې ټول کاروبار د حکومت پـه کې وي له کاروبار څخه چې کومه ګټه تر لاسه کیږي د حکومت خزانې تـه ځي او په ټولنیزو کارونو یې لګوي.
۴. کاروبار: په سویشالیزم کې ټولو خلکو ته کار د حکومت له خوا ورکول کیږي.
۵. د پلانونو جوړول:په سوشیالیزم کې یوه اداره وجود لري چې د حکومت لپاره ټول اقتصادي پلانونه جوړوي چې تر ډېره بریده په دې پلانونو کې د دولت سیاسي مرامونه په پام کې نیول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. فکري اتحاد: په سوشیالیزم کې ټول خلک یو نظر لري د سوشیالیزم لپاره کار کوي او د کپټلیزم خلاف وي.

د سوشیالیزم او کمونیزم تر منځ توپیر:

کمونیزم اوسوشلیزم عموماً دواړه یودبل پرځای استعمالیږي ځکه دغه دواړه مکتبونه دکپیټلزم خلاف دي ددغو دوو مکتبونو ترمنځ ډېرورته والی او هم ډېرتوپیر وجودلري خوپه توپیر پوهیدل یې ځکه ستونزمن دي چې مختلفو ټولنو (هیوادونو) د دواړو اقتصادي مکتبونو ګڼ شمېر ډولونه عملي کړي او دا دواړه مکتبونه یې دتعصب ،یوا ړخیزه قضاوت په رڼا کې اودخپلې خوښې سره سم تعریف ، ورته اوسره بېل کړی دی. لیبرالان غواړي چې پریکړې دټولوافرادوسره شریکې شي البته دافرادو په ترجیح کې مګر محافظه کاران غواړي او وایي چې پریکړې باید دڅومحدودو نفرو تر منځ سره شریکې شي البته دیوه فرد په ترجیح.

سوشلیزم عموماً اقتصادي نظام یاښونځي ته راجع کیږي خو کمونیزم بیا هم پر اقتصادي او هم پرسیاسي ښوونځي دلالت کوي. دکمونیزم له مخې دخدماتواواجناسوتوزیع دافرادو اړتیاوو پراساس رامنځ ته کیږي خو سوشالیزم بیا استدلال کوي چې د خدماتو او اجناسوتوزیع دافرادو دهلوځلو پر بسنټ رامنځ ته کیږي.

په کمونیستي اقتصاد کې دکپیټلیزم لپاره ځای نه شته خو سوشالیزم بیا وایي، څرنګه چې ثروت دخلکوترمنځ توزیع کیږي نو کېدای شي د کپټلیزم ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخونه په سوشیلیستي اقتصاد کي ځای ولري سوشیالیزم هغه ښوونځی دی چي وايي کارګره طبقه باید منابع په ټولیزه اوډیموکراتیکه توګه ترلاسه کړي چي وکولای شي دټولني داکثریت دبهبود لپاره اجناس تولید کړي. کمونیزم هغه ښوونځي ته وايي چي په ټولنه کي باید نه دطبقې استحصالوونکي، استحصالېدونکي اونه تېرى کوونکي اوتېرى کېدونکي باید وجود و لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اسلامي اقتصادي نظام

اسلام یوازې د مذهبي رسوماتو دین نه دی بلکې د انسان د ژوند یو مکمل قانون دی ،د مسلمانانو د ژوند هر ځانګه مطالعه کوي ،اسلام مسلمانانو ته په اقتصادي برخه کې هم لارښوونه او رهبري کوي اسلام چې په اقتصادي برخه کې مسلمان ته کوم اصول وړاندې کړي په عملي کولو به یې انسان تل خوشاله او له سکون څخه ډک ژوند تیروي دا نور اقتصادي نظامونه انسان ته یوازې ددې نړۍ اړتیاوو په پوره کیدوباندې تاکید کوي خو اسلامي اقتصادي نظام ددې نړۍ تر څنګ د اخرت د بریالیتوب لپاره هم کار کوي اسلامي اقتصادي نظام په هغه ځای کې پلی کیږي چې خلک مسلمانان وي . اسلامي اقتصادي نظام په هغو ادارو او اشخاصو مشتمل دي چې د خدایي احکامو لاندې جوړ وي تر څو د اسلامي هیوادنو خلک محدود وسایل څنګه وکاروي تر څو هغه غوښتنې چې اسلام ورته اجازه ورکړې پوره کړي د اسلامي اقتصادي نظام اصولو سرچینې قران الکریم،نبوي سنت او اجتهادي سرچینه. اسلامي اقتصاد تر دوهم نړیوال جنګ پورې همداسې د نورو علومو سره ګډ پاتې شو ، په دغه دوران کې زیات اسلامي هیوادونه د دوهم نړیوال جنګ څخه وروسته آزاد شول په دغه وخت کې اسلامي هیوادونه د خپلو ویجاړو سستمونو ترڅنګ د اقتصادي سیستم جوړولو او بیا پر پښو درولو په هڅه کې شول ځکه دغه سستمونه د نړیوال جنګ او د کفارو د حملو په وجه له منځه وړل شوي وو ، څرنګه چه په هغه وخت کې نور اقتصادي سیستمونه په سود ولاړ وو ، او سود د اسلام له نظره ناروا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



«د اسلامي اقتصاد او نورو اقتصادي سیتمونو ترمینځ ډېر توپیرونه شته او یواځې سود نه دی» نو ځکه دوی دا اړتیا ولیده چه خپل اقتصادي سیستم د اسلام د اصولو او قوانینو په چوکاټ کې جوړ کړي.

په هر صورت لکه څرنګه مو چه وړاندې ذکر وکړ چه انفرادي هلې ځلې په دې بریالۍ نه شوې چه اسلامي اقتصاد دیوه مستقل علم په ډول نړیوالو ته ور وپیژني ، نو د جمعي هلو ځلو اړتیا پیدا شوه تر څو پورې چې په کال ۱۹۷۶ د فبروري په میاشت کې په اسلامي اقتصاد باندې لومړنی نړیوال کانفرانس په مکه مکرمه کې جوړ شو او په دې وسیله اسلامي اقتصاد دیوه مستقل علم په ډول دنیا ته معرفي شواو دغې داسلامي اقتصاد په مشهورتیا او پدې لاره کې دکار کولو لپاره لاره برابره کړه ددغه کنفرانس په جوړولو کې ډاکتر محمد نجات الله صدیقي، ډاکتر محمد عمر او پروفیسر خورشید احمد فعال رول ولو بولو په دغه کنفرانس یا سمینار کې د ډاکتر محمد نجات الله صدیقي لخوا دپخوانیو اسلامي علماوو د اقتصادي نظریاتو په باب یوه مقاله یا رساله وړاندې شوه، دغې مقالې په اسلامي اقتصاد باندې د بحث کولو تهداب کېښود.

. په قران شریف کې د اقتصاد کلمه د اعتدال په مانا ذکر شوې د لقمان په مبارک ایت کې راغلي ( په خپل تګ کې میانه رو اوسه).حضرت محمد (ص) په خپل مبارک حدیث کې د اقتصاد د کلمې په اړه ویلي دي : ((که څوک په ژوند کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



میانه رو او معتدل وي څښتن تعالی به د هغه روزي زیاته کړي او که څوک اسراف وکړي نو څښتن تعالی به هغه محروم کړي.))

د اقتصاد کلمه په عربي ژبه کې هم د اعتدال او میانه روۍ مانا لري او په اسلام کې د افراط او تفریط په مقابل کې کارول شوې ده .

د څښتن تعالی د قوانینو په حدودو کې د فکر ،طبیعت ،شتمنۍ او کار د کارونې په وجه د فرد او ټولنې د اړتیاوو د لرې کولو ،هوساینې او ګټورتوب په موخه د کړنو تر سره کولو ته اقتصاد وايي.د څښتن تعالی د لارښونې له مخې د هغو قوانینو او اصولو څخه عبارت دی چې د هغو په کار اچولو او مراعتولو په صورت کې تولید او شتمنۍ ډیرېږي ،د کار او تعاون له مخې د ټولنې افرادو ته په عادلانه ډول رسیږي لکه څرنګه چې په ځمکه او اسمان کې د ټولو موجوداتو مالک څښتن تعالی دی او پیدا کوونکی هم همدا دی او حقیقي مالک یې هم څښتن تعالی دی .اسلامي اقتصادي نظام د نړۍ د نورو اقتصادي سیستمونو د کړنو نظریاتو سره د مبدا او ماهیت له نظره توپیر لري .د اسلامي اقتصاد د ظوابطو او قوانینو سرچینه الهي احکام دي .

د اسلام په ټولو اقتصادي کړنو او تشبثاتو کې عدل،انصاف،حق ،پیزوینه او اخلاق داخل دي .

د اسلامي اقتصادي نظام ځانګړتیاوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلامي اقتصادي نظام بنسټيزې ځانګړتياوې په لاندې ډول دي :

1) د ژوند د لومړنيو اړتياوو پوره کول : اسلامي اقتصادي نظام انسان پرمختګ ته بنسټيز اهميت ورکوي ،په ټولنه کې ټولو افرادو ته د ژوند د لومړنيو اړتياوو په پوره کولو زور ورکوی .د انسان بنسټيزې اړتياوې خوراک،لباس،اوسيدل،ښوونه او روزنه ،روغتيايي اسانتياوې دي.

2) خصوصي ملکيت : په حقيقت کې د هر څه مالک څښتن تعالی دی کوم توکي چې د انسان په ملکيت کې وي د امانت بڼه لري ،انسان هغه د څښتن تعالی او د رسول (ص) په طريقې د کارولو پابند دی تر څو د څښتن تعالی د خوښې وړ وګرځي او انسان د نړۍ او اخرت د بريالیتوب سبب ګرځي ،اسلام خصوصي ملکيت ته اجازه ورکوي مګر دا ملکيت ازاد او خود مختاره نه دی .

3) د جايداد کارول : د جايداد په کارونې اسلام چې کوم بنديزونه لګولي په لاندې ډول دي :

- اسلام د جايداد د بې ځايه کارونې څخه منع کړې
- په اسلامي اقتصادي نظام کې هيڅوک جايداد د ټولنې په خلاف نه شي کارولای
- په ټولنه کې د بې وزله او اړمنو خلکو د ده پر جايداد حق لري
- که څوک پور ته په رښتيا اړتيا ولري بايد انکار ونه کړي
- له زکات پرته هم بايد له بې وزلو سره مرسته وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



4) د توکو او چوپړتیاوو کارول : په اسلامي اقتصادي نظام کې د ډیرو توکو او چوپړتیاوو په کاروني بندیز دی لکه شرابو ،پوډر،چرس ،د مړو حیواناتو غوښه .همدرانګه د عیش عشرت د توکو کارول هم اسلام نه خوښوي . په اسلام کې د ټولنې هر فرد دټولنې په چوپړ مکلف دی ،اسلام د څو نفرو پرځای ټولې ټولنې په خوشالۍ زور اچوي .

5) د حکومت دندې : په یوې اسلامي ټولنې کې د حکومت دندې په لاندې ډول دي :

- د خلکو لپاره د اسلامي اصولو پر اساس د ژوند برابرول او د اړتیا په وخت کې له سختۍ کار اخیستل
- ټولو خلکو ته د ژوند د اسانتیاوو برابرول
- په بازار کې د ښه چاپیریال جوړول او د چلبازانو او غلو مخه نیول
- د اقتصادي پرمختګ او پانګونې لپاره اقدامات تر سره کول
- د شتمنۍ د ناانډول ویش مخه نیول

6) غیرسودي نظام : په اسلامي اقتصادي نظام کې سود منع دی چې ورسره د ظالمانو مخه نیول کیږي او ټولنه له طبقو ساتل کیږي شمتنۍ له یو څو لاسونو څخه ټولنې ته ورکول کیږي او د ټولنې په خیر کارول کیږي.

7) د کار اهمیت :اسلام کاریګر د پانګوال رحم ته نه پریږدي بلکې د هغوی د حقوقو مکمله ساتنه کوي اسلام کار ته ډیر اهمیت ورکوي او هغه روزي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار په وسیله تر لاسه شوې وي ډیره یې بهتره ګڼي او داسې حکم کوي چې کاریګر ته د هغه اجوره د خولو له اوچیدو مخکې باید ورکړل شي .

8) د زکات ورکړه : په اسلامي ټولنې کې په هر عاقل،بالغ مسلمان چې د زکات شرایط ولري زکات ورکول فرض دي او د اسلامي اقتصادي نظام مهمه ځانګړتیا ده .

9) دشتمنۍ د راټولوني ممانعت : اسلام د جایزو لارو څخه راغلې شتمنۍ د ټولونې اجازه نه ده ورکړې ځکه خوځښت یې دریږي او دا شتمنۍ دځو نفرو لاسو ته ورځي ،ټولنه غیراخلاقي کیږي نو ځکه اسلام د شتمنۍ ټولول نه خوښوي .

10) د وراثت قانون : په اسلام کې د شتمنۍ ویش د وارثت د قانون پر اساس تر سره کیږي له کوم شخص سره چې شتمنۍ له خپلو اړتیاوو څخه ډیرې وي پاتې برخه د وارثینو تر منځ وویشل شي نو وارثت د قانون پر اساس شتمنۍ په خپله دوران پیدا کوي .

11) دکسب خپلواکي : په اسلام کې د حلال رزق د ګټلو لپاره چې هر ډول کسب ټاکي خپلواکي لري .

12) د مساوات نه شتون : په اسلامي اقتصادي نظام کې شتمنۍ مساوي نه ویشل کیږي او په اسلامي اقتصادي نظام کې هیڅ وخت دا نه دي ذکر چې د ټولو انسانانو د ژوند سهولتونه باید مساوي وي . په اسلامي اقتصادي نظام کې هر فرد په ټولنه کې برابره درجه لري .زکات،عشر او د وارثت په وسیله په ټولنه کې شتمنۍ په منصفانه ډول ویشل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم څپرکی

## د شتمنۍ پیدا ابنت

په تولیز ډول د شتمنۍ پیدا ابنت د نوو توکو رامنځته کولو ته وایي خو موږ دلته تیروتنه کوو ځکه ماده د مادي د قانون له مخې موږ نه شو پیدا کولی او نه یې لمنځه وړلی شو د شتمنۍ د پیدا ابنت څخه زموږ موخه د مادي پیدا کول نه بلکې د هغې په افادیت کې د ډیریبنت راوستل دي نو معلومه شوه چې د اقتصاد په علم کې د شتمنۍ پیدا ابنت څخه موخه د یو توکي د ارزبنت ډیر والی دی د ساري په ډول کله چې موږ لرګي په ځنګل کې پرې کړو په ارزبنت کې یې ډیر والی راځي خو کله چې ترې فرنیچر جوړ کړو ارزبنت یې لاپسې ډیریږي د لاندې درې طریقو په وسیله د یو توکي افادیت لوړیږي او د شتمنۍ د پیدا ابنت سبب ګرځي :

I. د توکو بڼه بدلول : د توکو بڼې ته په تغیر ورکولو سره د هغه افادیت لوړیږي د مثال په ډول له کاغذ څخه د کتابونو جوړول.

II. د توکو د ځای بدلول : د توکو د ډیر پیدا کیدو له ځای څخه هغه ځای ته د توکي لیږدول چې په کمه اندازه پیدا کیږي او توکو ورسره ارزبنتمن کیږي د ساري په ډول د لرګیو په ځنګل کې د لرګیو ارزبنت ټیټ وي خو کله چې ښار ته راوړل کیږي نو د لرګیو ارزبنت هم ورسره ډیریږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



III. د توکو د وخت بدلول : کله چې توکي هغه وخت ته وساتل شي چې تقاضا ورته ډېره وي ارزښت يې لوړيږي د ساري په ډول لکه د ژمي په موسم کې د اوبلونو ګازو يا د سون د توکو د قيمت لوړوالی .

د شتمنۍ د پيدايښت لارې چارې : د شتمنۍ د پيدايښت لپاره بايد لاندې هڅې تر سره شي :

1. له ځمکې،سيندونو ،سمندرونو څخه د هغو توکو ترلاسه کول چې په کې شتون لري د ساري په ډول په سيندونو يا سمندرونو کې د کبانو نيول .
2. له ځمکې ،هوا او اوبو څخه د هغو شيانو ترلاسه کول چې دوی نه وي پيدا کړي د بيلګې په توګه له اوبو څخه د بريښنا جوړول.
3. د صنعت په وسيله له اومو موادو څخه د مصنوعاتو جوړول د ساري په ډول له مالوچو رخت جوړول .
4. د توکو ليږد له يو ځای څخه بل ځای ته ياني د ليږ راليږد له وسايلو څخه کار اخيستل .
5. مصرفونکو ته مخامخ چوپړتياوې برابرول د ساري په ډول ښوونه،روغتيا پالي او نور .

د شتمنۍ په پيدايښت اغيزه اچونکي عوامل : د شتمنۍ په پيدايښت لاندې عوامل اغيزه اچوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



I. طبيعي عوامل : له طبيعي عواملو څخه موخه هوا ،باران،زمکه،کانونه او نور که مناسب وي نو د شتمنۍ د پيداينبت لپاره ښه وي او که چيرته دغه عوامل مناسب نه وي نوبيا د شتمنۍ پيدا کول کميږي.

II. د پيداينبت وسايل : په نوي وسايلو شتمنۍ ډيره پيدا کيږي او په وروسته پاتې وسايلو شتمنۍ کمه پيدا کيږي د ساري په ډول که يو توکی په لاس جوړ شي ډير وخت او په لړه اندازه جوړيږي خو که همدا کار په ماشين تر سره شي نو ډير ژر او ډيره پيمانه به توليد شي.

III. د ليږد راليږ وسايل : د ليږ د راليږد وسايل که چيرې پرمختللي وي نو په هيواد کې سوداګري او صنعت پراختيا مومي شتمنۍ هم په اسانه رامنځته کيږي خو برعکس بيا شتمنۍ په اسانه نه رامنځته کيږي .

IV. د هيواد حالت : که چيرته په هيواد کې امنيت وي سياسي استحکام موجود وي نو هلته د شتمنۍ پيداينبت ډيريږي خو برعکس بيا شتمنۍ په اسانه نه رامنځته کيږي .

V. د بانکوالۍ نظام : که د هيواد د بانکوالۍ نظام پياوړی وي، کاروباري خلکو ته په وخت پانګه برابريږي په هيواد کې د شتمنۍ پيداينبت ډيريږي خو که دا نظام وروسته پاتې وي بيا د شتمنۍ پيداينبت هم کم وي.

VI. نفوس : د يو هيواد د نفوس هم د شتمنۍ په پيداينبت کې رول لري که د هيواد نفوس له وسايلو څخه ډير وي نو بيا د شتمنۍ پيداينبت کم وي او که د نفوسو شمير له وسايلو کم وي نو بيا د شتمنۍ پيداينبت ډير وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



VII. د کاريګرو لاس رسی : که په هیواد کې د کاريګرو شتون ډیر وي نو د شتمنۍ پیدا ښت ډیر وي او که شتون ونه لري نو بیا د شتمنۍ پیدا ښت هم کم وي .

# د تولید عوامل

هغه وسايل چې د هغو په وسیله انسان د شتمنۍ د پیدا ښت عمل تر سره کوي د تولید عوامل ګڼل کیږي چې په لاندې ډول دي :

## ځمکه Land:

په عامه ژبه له ځمکې څخه موخه د ځمکې سطحه ده چې انسان پرې ګرځي راګرځي د اوسیدو لپاره ځای او د خوړو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره کرنه پرې تر سره کوي خو په اقتصاد کې په ځمکه کې ټول هغه طبیعي وسايل چې موږ یې په وړیا ډول ترلاسه کوو شامل دي په دې کې ټول هغه وسايل شامل دي چې د ځمکې لاندې یا له پاسه وي خو افادیت ولري . مګر کم یافته نه وي موږ چې هر څومره وغواړو په مصرف یې ورسوو د ساري په ډول هوا ،اوبه نور.

پروفیسور الفرد مارشال په خپل کتاب (د اقتصاد علم اصول) د ځمکې تعریف داسې کوي : له ځمکې څخه موخه هغه ټول طبیعي وسايل دي چې طبیعت د انسان د ښګڼې لپاره په وړیا ډول پیدا کړي د ساري په توګه د اوبه ،هوا ،رڼا ،ګرمي او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروفیسور فریزر بیا د ځمکې د تعریف په اړه وایي : له ځمکې څخه موخه ټول هغه طبیعي وسایل دي چې د عوایدو د ډېروالي سبب ګرځي،افادیت لري او محدود وي په ځمکه کې شته طبیعي وسایل :د ځمکې سطحه چې د اوسیدو او کرنې لپاره وي ،کانونه،اوبه،ځنګلونه، هوا ، غازات، رڼا ، کبان، حیوانات، طبیعي بندرونه، بیلابیلې قوتونه چې په تولید کې مرسته کوي.

د ځمکې ځانګړتیاوې : ځمکه د تولید د عامل په توګه بیلا بیلې ځانګړتیاوې لري چې د همدې ځانګړتیاوو په اساس له نورو عواملو سره توپیر لري :

1. طبیعي ډالۍ : ځمکه د انسان د هڅې په پایله کې نه ده رامنځته شوې بلکې د څښتن تعالی له خوا انسان ته په وړیا او بې له کاره ورکړل شوی که انسان هر څومره هڅه وکړي یو سانتي متر به هم پیدا نه کړي.
2. ځانګړې مقدار: د ځمکې مقدار معلوم دی هیڅ څوک نه شي کولی د ځمکې په مقدار کې زیاتوالی راولي لیکن انسان په خپله هڅه ډېره ګټه ترې پورته کولی شي.
3. حاصل خیزۍ کې توپیر : ټولې ځمکې یوشان نه وي ځینې ډېرې حاصل خیزې ،ځینې لږې او ځینې هیڅ فصل نه کوي.
4. په ځمکو کې توپیر : ځمکه ټوله په یو ځای کې شتون نه لري ځینې په بازارکې ځینو بندونو کې ځینې د کرنې لپاره وي .
5. د لیږد قابلیت : ځمکه له یو ځای څخه بل ځای ته نه لیږدول کیږي د ساری په توګه د لغمان ځمکې خوست ته یا بلخ ته ولیږد وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



6. خپلواکه بنه : ځمکه د نورو توليدي وسايلو په نسبت پايداره اوکه کله له زيان سره مخ هم شي د تل لپاره لمنځه نه ځي.

7. بنستيز حيثيت : ځمکه د توليد په عواملو کې بنسټيزه او مرکزي بڼه لري له ځمکې پرته د توليدد نورو عواملو شتون ناممکنه دی .

8. محدودو توليد : د ځمکې توليد محدود وي د ډيرې پانګې او کار په زياتوالي سره په کې نامحدوده نه ترلاسه کيږي .

د ځمکې اقتصادي اهميت :ځمکه د يو هيواد په اقتصادي پرمختګ کې اساسي ونډه لري چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو:

- کرنيز پرمختګ : د يو هيواد کرنيز پرمختګ د هيواد دځمکې سطحې او هوا پورې اړه لري،که ځمکه حاصل خيزه ،مناسب باران او مناسبې اوبه ورکړل شي نو کرنيز توليدات ډيريږي .
- صنعتي پرمختګ : د يو هيواد اقتصادي پرمختګ په اومو موادو پورې اړه لري په کوم هيواد کې چې اومه مواد ډير وي نو هغه هيواد په صنعتي لحاظ بنه پرمختګ کوي د ساري په ډول کوم هيوادونه چې ډير کانونه لکه تيل ،ګاغذ ،سکاره او نور لري ډير صنعتي پرمختګ کوي او کړی دی .
- د ليږد راليږد وسايل : د ليږد را ليږد وسايل سړکونه،د اورګاډو لارې او بحري لارې په ځمکه جوړيږي چې د هغوی په وسيله توکي له يو ځای څخه بل ځای ته په اسانۍ سره ليږدول کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د ژوند سطحه : په کوم هیواد کې چې طبیعي وسایل( کانونه،ځنګلونه او نور) په ډېره اندازه موجود وي د خلکو د عواید د لاسته راوړولو وسایل ډیر وي نو د خلکو د ژوند سطحه هم لوړه وي.
- د اوسیدو ځای : ځمکه د تولید نورو وسایلو ته د اوسیدو د ځای مانا لري یانې مزدور،پانګوال په ځمکه اوسیږي چې د اقتصادي ژوند ټولې برخې صنعت،سوداګري ټوله په ځمکه تر سره کیږي.
- قیمتي کانونه : په ځکه کې سره او سپین زر او نورې قیمتي کانې شتون لري چې دبیلابیلو توکو په جوړه ولو کې ترې کار اخیستل کیږي چې د شتمنۍ جوړښت ډېریږي.
- بریښنا : په اوبو د بریښنا د بندونو جوړول رڼا او صنعتي پرمختګ رامنځته کوي .
- ځنګلونه : له ځنګلونو څخه لرګي، ونو څخه میوې او نور ګټې ترلاسه کولای شو .

په اقتصادي پرمختګ کې د ځمکې ونډه : د یو هیواد په اقتصادي پرمختګ کې اساسي ونډه لري له ځمکې پرته د تولید عمل ناممکنه دی ځمکه د ګرځیدو راګرځیدو او دکناستلو ځای دی ،له ځمکې پرته کرنه ناممکنه ده له اوبو،ځنګلونو او کانونو پرته ژوند څنګه ممکن دی ؟ د یو هیواد په اقتصادي پرمختګ کې ځمکه لاندې رول ترسره کوي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- طبيعي چاپيريال : په يو هيواد کې اقتصادي پرمختګ د هغه هيواد په حاصل خيزه ځمکه ،باران،هوا  پورې تړاو لري که د يو هيواد ځمکه حاصل خيزه وي او کانونه ونه لري دغه هيواد يوازې کرنيز هيواد وي اوپه صنعتي لحاظ وروسته پاتې وي .
- اومه مواد : د ځنګلو او کانونو په وسيله اومه موادو برابروي  په کوم هيواد کې چې ځنګلونه او کانونه شتون ولري هغه هيواد په صنعتي لحاظ پرمختګ کوي .
- سوداګريز بندورنه : که د يو هيواد ساحلونه  نړيوال سوداګريز بندرونه ولري نو کولی شي له نړۍ سره ښې سوداګريزې اړيکې ولري په  سوداګرۍ کې ښه ګټه وکړي .
- بريښنا : کوم هيواد چې ډيرې رواني  اوبه لري د بريښنا په توليدولو سره چې اوس مهال د اقتصادي پرمختګ عامل ګڼل کيږي  کولای شي ښه ګټه واخلي .
- د ليږد راليږ وسايل : د ځمکې پر مخ د هر ډول ليږد وسايلو جوړول ممکن دي د ساري په ډول سړکونو ،ريل وي جوړول که يو هيواد سمه ځمکه ولري  کولای ډير ژر اقتصادي پرمختګ تر سره کړي .

## کار (labour)

د توليد دويم عامل کار دی ،د انسان لپاره د ډير شيانو د جوړولو لپاره د ځمکې تر څنګ کار ته اړتيا ده تر څو تر سره يې کړي. د ساري په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزدور،کروندګر،بانکوال او نور .په اقتصاد کې کار هغه ذهني او فزيکې کړن دی چې د اجورې يا د معاش لپاره تر سره کيږي .پروفيسور مارشال کار داسې تعريف کړی :له کار څخه موخه هغه ذهني يا فزيکي هلې ځلې دي چې لويو او يا کوچنيو موخو د لاسه راوړلو لپاره تر سره کيږي .

همدرانګه پروفيسور جيونز کار داسې تعريفوي : کار له هغه ذهني او فزيکې کړن څخه عبارت دی چې دتفرح پر ځای د اجورې لپاره تر سره کيږي.همدرانګه يو بل اقتصاد پوه کار داسې تعريفوي : په کار کې ټولې هغه کړنې شاملې دي چې اجورې لپاره تر سره کيږي چې دغه اجوره په مخامخ ډول يا د يو داسې توکي ورکول چې د اخيستلو او خرڅولو قابليت ولري . د کار په تعريف کې لاندې ټکي شامل دي :

- انساني هڅې : په اقتصاد کې کار هغه کړن ته ويل کيږي چې د انسان په وسيله تر سره کيږي .د وحشي ځناورو او ماشين الاتو په وسيله تر سره شوی کړن کار نه ګڼل کيږي .
- ذهني او فزيکې کړنه : په کار کې د انسان ذهني او فزيکي کړنې شاملې دي په دې شرط چې د اجورې لپاره ترسره شوی وي. د ساري په ډول د مزدوري کول فزيکي کار دی او درس ورکول دا يو ذهني کار دی.
- مادي اجوره : په اقتصاد کې کار هغه کړن ته ويل کيږي چې مادي بدله ولري که د تفريح ، مذهبي او کوم ټولنيز کړن وي په کار کې نه راځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دکار ځانګړتیاوې

1. کار له مزدور څخه لرې نه وي : کار هیڅ وخت له مزدور څخه لرې نه وي دا په دې مانا چې داسې هیڅ وخت نه کیږي انسان د په کور ناست وي او کار په کارخانه کې ترسر کیږي.ځکه چیرته چې کار وي هلته به کارګر هم وي .
2. کار نه زیرمه کیږي : د نورو شیانو په څیر کار نه زیرمه کیږي داسې نه کیږي چې کاریګر د دوه کالو کار وساتي او بیا یې په یوه ورځ ترسره کړي یا ټول کال بیکاره وي او د کال په اخر کې د ټول کال کار په اخري ورځ ترسره کړي.
3. ضایعه شوی کار نه تر لاسه کیږي : که یو کارګر په یوه ورځ کار ترسره نه کړي نو ددغې ورځې کار یې تل لمنځه ځي .
4. کار لږ لیږدونکی دی : موږ کولی شو چې مادي شیان له یو ښار څخه بل ښار ته یا له یوه هیواد څخه بل هیواد ته ولیږدو خو د کاریګر لیږدول اسانه نه دي ځکه مزدور د نورو ځایو له ژبو ،دود و دستور سره بلد نه وي . ځکه خو ادم سمتې هم په خپل کې کتاب لیکي چې په نړۍ کې تر ټولو سخت لیږد د مزدور دی.
5. په کار کې توپیر : د کاریګرو ترمنځ کار توپیر لري ځیني کاریګر ښه وړتیا لري باسواده وي یا ښه جسماني ځواک لري او ډیر کار کوی خو ځیني بیا داسې نه وي.
6. غیرارتجاعي عرضه : که چیرته په بازار کې کاریګرو ته اړتیا پیښه شي نو موږ نشو کولی په لږ وخت کې بازارته کاریګر عرضه کړو ځکه کاریګر د کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر وخته ډېر وخت لري چې تيار شي ځکه د کوچينانو لويول او هغو ته ښوونه کول ډېر وخت نيسي.

7. کاريگر خپل کار خرڅوي : کاريگر د اجورې په بدله کې پانگوالو ته کار ترسره کوي نوله دې کبله پانگوال بايد له کاريگر سره ښه چلند وکړي.

8. اجوره او د کار وړتيا : اجوره د کاريگر له وړتيا سره مخامخ اړيکه لري که يو کاريگر ډېره کاري وړتيا لري نو اجوره هم ډېره اخلي.

د کاري وړتيا عناصر : د يو کاريگر کاري وړتيا په لاندې عناصرو پورې تړاو لري:

❖ جسماني او ذهني قابليت : که يو کاريگر ښه جسم او ښه اخلاق ولري کولی شي چې ډېر کار ترسره کړي او په توليد کې زياتوالي راولي همدرانگه ارثي خواص هم د کاريگرو په کاري وړتيا اغيزه لري ځيني کاريگر په ارثي ډول ډېر خواريکښ او دهغو کاري وړتيا هم لوړه وي .

❖ اخلاق له کاري وړتيا سره مخامخ اړيکه لري که يو کاريگر ايمانداره او امانت دار وي خپل وخت نه ضايع کوي. ټول وخت په کار تيروي طبيعي خبره له نورو هغو کاريگرو چې بيځايه وخت تيروي ډېره کاري وړتيا لري.

❖ ټولنيز حالت : د يو هيواد ټولنيز حالت هم په کاري وړتيا ډېره اغيزه لري ځکه کاريگر ته مناسبه اجوره ور نه کړل شي د کاريگر کاري وړتيا هم کميږي ځکه له هغه سره د کار جذبه لمنځه ځي همدرانگه که د پانگوال او کاريگر ترمنځ اړيکې ښه وي او پانگوال له کاريگرو سره ښه چلند کوي ورسره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاریګرو کاري وړتیا لوړېږي همدرانګه کاریګر ته د کار مطابق اجوره ورکړي نو هغه هم په کاري وړتیا کې ښه ثابتیږي.

❖ ښوونه او روزنه : د ښوونې په وسیله کاریګر د کار په اړه معلومات حاصلوي او د روزنې په وسیله کاریګر خپل کار په ښې طریقې سره پیژني نوله دې کبله د روزل شوي او ناروزل شوي کاریګر ترمنځ لوی توپیر شتون لري روزل شوی کاریګر په لږ وخت کې ډیر کار ترسره کوي او نا روزل شوي یې نشي تر سره کولی.

❖ اوبه او هوا : د کوم هیواد چې هوا ډیره ګرمه یا ډیره یخه او یا هم وچه وي نو هلته کاریګر تر ډیره وخته کار نه شي تر سره کولای هلته د کاریګرو کاري وړتیا کمه وي خو برعکس چیرته چې هوا نرمه مناسبه وي هلته کاري وړتیا هم ډیره وي همدرانګه کاري چاپیرال هم د کاریګر په کاري وړتیا ډیره اغیزه لري که ښه چاپیریال وي نو د کاریګرو کاري وړتیا ورسره هم ډیریږي.

❖ د ژوند سطحه : د ژوند سطحه د کاریګر په کاري وړتیا ډیره اغیزه لري که په کوم هیوا د کې د کاریګرو اړتیاوې پوره کیږي نو دهغوی کاري وړتیا هم ډیریږي .

❖ د کار وخت : که کاري وخت ډیر وي او کاریګر په کې دمه نه شي کولای نو بیا د کاریګرو کاري وړتیا هم راکمیږي خو که چیرې کاري وخت کم وي نو د هغوی کاري وړتیا لوړیږي.

❖ د پرمختګ موقع : که کاریګرو ته د پرمختګ لارې هوارې وي نو د هغوی په کاري وړتیا مخامخ اغیزه لري د هغوی په کاري وړتیا کې زیاتوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي او که د پرمختګ موقع نه وي نو بيا د هغوی په کاري وړتيا بده اغيزه لري او د هغوی کاري وړتيا ورسره کمېږي همدرانګه که صنعتکار يا پانګوال لايقه سړی وي او کارېګرو ته د پوهې ، خوښې او مخکنۍ (تجربه) په اساس کار ورکړي د کارګر په وړتيا کې زياتوالی راځي همدرانګه د کاريګر لپاره په خپله خوښه کار ټاکل چې هغه ورسره مينه لري ځکه يو کار چې په مينه ترسره کېږي هغه تر هغه کاره ډېره بهتره دی چې په زور يا ناخوښه توګه تر سره کېږي .

❖ د کار ويش : هر کاريګر ته د هغه په خوښه کار ورکول په کاري وړتيا کې زياتوالی راولي ځکه هغه د کار په اجرا کولو سره په هغه کار کې ښه وړتيا پيدا کوي او په ښې طريقې سره يې ترسره کوي .

❖ د کار تحفظ : د کار تحفظ د کاريګر په وړتيا کې زياتوالی راولي او که کاريګر کاري تحفظ ونلري او هغه دا ويره ولري چې که پانګوال هر وخت وغواړي کاريګر له کاره لرې کولای شو نو بيا د هغه په کاري وړتيا بده اغيزه لري.

❖ د عوايدو لګښت : که کاريګر خپل عوايد په ښو خوړو او ښو لباسونو باندې په لګښت ورسوي نو د هغه ورسره کاري وړتيا ډېرېږي خو که خپل عوايد په شرابو او نور مضرو لارو ولګوي نو بيا د کاريګر کاري وړتيا راکمېږي .

## د کار ويش (Division of labour)

په اقتصاد کې د کار له ويش څخه موخه د يو کار ويش په څو برخو دی چې هر کارګر يې د کار يوه ځانګړې برخه ترسره کوي د ساري په توګه که موږ وغواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یوه څوکۍ جوړه کړو نو یو کارګر به لرګي اره کوي،دویم به په کې میخ وهي ،دریم به څوکۍ جوړوي او څلورم به پالش ورکوي.

د کار ویش لاندې ډولونه لري :

1. د مسلک پر اساس : د کار په دې ډول ویش کې کارونه د مسلک په اساس ویشل کیږي د کار په دې ډول ویش کې یو کارګر کار له پیل څخه تر پایه تر سره کوي د ساري په توګه موچي،ترکاڼ او نور .
2. د مغلقتوب پر اساس : دکار په دې ویش کې یوکار د مغلقتوب له وجې کار په څو مراحلو ویشل کیږي هر کارګر د کار یوه برخه مخ ته وړي یا یې ترسره کوي له نورو مراحلو سره هیڅ کار نه لري د ساري په ډول د موټر جوړول چې ټایرونه یو شخص تړي ،رنګ یې بل کارګر کوي ،همداسې ماشین تړل او نور کارونه هر کارګر خپل کار ترسره کوي.
3. سیمه ایز ویش : ځینې سیمې په طبیعي لحاظ د یو ځانګړي توکي په تولید کې تخصص لري او د هغه په سبب مشهور وي د ساري په توګه دافغانستان غالۍ .

د کار د ویش ګټې: د کار ویش لاندې ګټې لري :

• د کاري وړتیا زیاتوالی : د کار په ویش کې کارګر هغه کار سرته رسوي چې د هغه لپاره ډېر مناسب وي چې د کارګر کاري وړتیا ډیریږي او د کار معیار ورسره لوړ ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په مهارت کې ډېروالی :د کار په ویش کې یو کارګر یو کار په مسلسل ډول ترسره کوي ورسره کار په ښې طریقې سره ترسره کېږي او دهغه په اجرا کولو کې ښه مهارت لري.
- په روزنه کې اسانوالی : د کارپه ویش کې د دې پر ځای چې کارګر ته د ټول کار په اړه معلومات ورکړې، یوازې د هغه کار په اړه معلومات ورکول کیږي چې سرته یې رسوي نو له دې کبله په لږ وخت کې هغه روزل کیږي .
- د نوښتونو امکان : کله چې کارګر یو کار ترسره کوي نو ټوله پاملرنه یې همدا یو کار ته وي هڅه کوي تر څو دا کار په ښې طریقې سره سرته ورسوي د ډېرې پاملرنې له سببه ډېر نوښتنونه کوي.
- د وسایلو ښه کارول : که یو کارګر ټول کارونه په خپله ترسره کوي نو د بیلابیلو وسایلو اړتیا پیښیږي خو د کار په ویش کې یو کارګر یوازې د یو کار یوه برخه ترسره کوي یوازې هغه وسایل کاروي چې د دې کار پورې تړوا لري او نور وسایل وزګار پاتې کیږي چې ورسره وسایل ښه کارول کیږي .
- د لیږد زیاتوالی : هر کار په جزوي برخو کې ډېر سره ورته والی لري نو له دې کبله یو کارګر له یوه صنعت څخه بل صنعت ته په اسانۍ سره لیږدول کیږي .
- تولید لګښت کموالی : د کار د ویش په وجه تولید ډیریږي نو له دې کبله في واحد جنس باندې لګښت را کمیږي او مصرفوونکي توکي په ښه بیه تر لاسه کوي ، د کار د ویش په وجه په تولید کې ډېر والی راځي چې ورسره ملي تولیدات هم ډیریږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کار بوج : د کار د ویش په وجه په انسان د کار بوج کمیږي که یو کار هر څومره سخت وي کارګر د هغه کار یوازې یوه برخه تر سره کوي او د کار بوج پرې نه راځي همدارنګه کاریګر هر کار په خپله خوښه ترسره کوي او له بوج څخه لرې وي .
- دکاري وخت کمښت : د کار د ویش په وجه کارګران د ماشینونو په مرسته په لږ وخت کې ډیر کار ترسره کوي او دهغوی په کاري وخت کې کمښت راولي .

د کار د ویش زیانونه: د کار ویش د ګټې تر څنګ لاندې زیانونه هم لري :

- نا خوښه : د کار د ویش په سبب یو کارګر هر ځل یو کار تر سره کوي نو د یو کار تکرر د کارګر زړه وهي او کار په ډیرې دلچسپی سره یې نه ترسره کوي چې ورسره د توکو معیار راټیټیږي تل د یوه کوچني کار ترسره کول د پرمختګ هڅې کموي .
- د لیږد کمښت : د کار د ویش په وجه یو کار یوازې د یو کار په یوه برخه کې پوهه پیدا کوي چې د کارګر د کار ساحه ډیره محدودیږي او د هغه په لیږد کې کمښت راځي او ورسره د بې کارۍ ګوانښ هم رامنځته کیږي.
- د مسوولیت کمښت : د کار د ویش په وجه هر کارګر یوه برخه د کار سرته رسوي د یو کار په مکمله توګه د یو کار مسوولیت نه اخلي هر کارګر خپله دنده په بې پروایۍ ترسره کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د کارګر او پانګوال اړیکې : د کار د ویش په وسیله تولید کې ډیروالی راځي په کمپنیو کې د کارګرانو شمیر په زرګونو وي او د کمپنۍ مالک یو وي چې د دوی ترمنځ اړیکې ستونزمنې دي او د هغوی د غوښتنو د حل لپاره لازم اقدامات نه ترسره کیږي چې د کارګر او مالک ترمنځ ناسمه پوهه او همغږي رامنځته کوي.
- نړیوالې اړتیاوې : د کار د سیمه ایز ویش په اساس د نړۍ هیوادونه یو بل ته اړ دي دا حالت په سیاسي او اقتصادي لحاظ ډیر خطرناک وي په ځانګړې توګه د جنګ په دوران کې.
- یو پر بل انحصار : د کار د ویش په وسیله کارګران یو پر بل پسې تړلي وي که د یوې ځانګې کارګر نه راځي نو د بلې ځانګې کار مجبوره دی چې بیکاره پاتې شي .

پایله:

د کار د ویش په وسیله په تولید کې زیاتوالی راځي چې ورسره د توکو قیمت راټیټیږي ،د کارګرانو د کار په وخت کې کمښت رامنځته کیږي او د خپل ژوند د سمښت په اړه ډیر کار کوي ،د کار د ویش په وسیله وسایل په ښه توګه کارول کیږي او د کار دویش په وسیله په هیواد کې اقتصادي پرمختګ رامنځته کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نفوس (Population)

د تولید په عواملو کې کار یو مهم عامل دی چې د یو هیواد په نفوسو انحصار لري. په کوم هیواد کې چې نفوس ډیر وي کاریګر هم ډیر وي او د کوم هیواد نفوس چې کم وي د کاریګرو شمیر یې هم کم وي .یوه خبره د یادونې وړ ده چې په یو هیواد کې د شتمنۍ پیدا ابینت د کارګرو په شمیر نه بلکې د کارګرو په جسماني او ذهني وړتیا پورې تړاو لري امکان لري چې په یو هیواد کې د اوسیدونکو شمیر ډیر وي خو د شتمنۍ د پیدا ابینت له کبله وروسته پاتې وي د ساري په ډول د هندوستان هیواد نفوس نسبت امریکا ته ډیر دی خو د امریکا نفوس نسبت هندوستان ته ډیره شتمنۍ تر لاسه کوي په اوسني وخت کې د نفوسو مسئله د نورو اقتصادي مسایلو په څیر ډیره مهمه ده د کومو هیوادنو نفوس چې ډیر وي په هغه هیوادونه کې ګڼ شمیر اقتصادي او ټولنیزي ستونزې شتون لري نو له همدې کبله په اتلسمه زیږدیزه پیړۍ کې اقتصاد پوهانو دې مسئلې ته ځانګړې پاملرنه وکړه او د نفوس په اړه یې ځانګړې نظریات ورکړل ماتهس یو انګلیسي عالم وو چې د نفوسو په اړه تحقیق ترسره کړی دی د نوموړي په وخت کې کارګران په ستونزو کې ول ځکه د هغوی اجوره کمه وه ،د توکو قیمتونه لوړ وو ،ماشینونو د کارګرانو ځای ونیوه نو له دې کبله کارګران بیکاره شول مالتهس د کارګرانو دغه حالت ته پاملرنه وکړه د هغوی د بې وزلۍ او افلاس د معلومولو لپاره اراده وکړه د دې کار د ترسره کولو لپاره هغه د نړۍ ډیرو هیوادنو ته سفرونه وکړل او خپل نظریات یې په یوه مقاله (د نفوسو په اصولو ) کې څرګند کړل چې په کال **1798**ز کې خپره شوه . وروسته له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور تحقیق او تاریخي شواهدو څخه یو ځل بیا په کال **1803**ز کې دا مقاله خپره شوه مالتهس په کې خپل نظر داسې څرګند کړو : له یوې خوا د ځمکې مقدار ثابت دی چې ورسره د خوراکي توکو د پیدا کیدو وسایل محدود دي خو له بلې خوا انساني نسل په تیزۍ سره زیاتوالی مومي او که د دغه زیاتوالي مخه ونه نیول شي قحطي به رامنځته شي . د نوموړي په مقاله کې لاندې ټکي دخیل دي :

1. د نفوسو او خوراکي توکو د تولید ډیربښت : د نفوس ډیربښت نسبت د خوراکي توکو نسبت ته ډیر دی مالتهس یو حسابدان هم وو چې خپله خبره یې د ریاضي په ژبه څرګنده کړې ده د یو هیواد د نفوس د ډیربښت هندسي سلسله ده **1-2-4-8-16-32-64** نسبت سره وي خو د خوراکي توکو ډیربښت یې حسابي سلسله **1-2-3-4-5-6-7-8** نسبت سره وي چې د خوراکي توکو تولید نسبت د نفوسو ډیربښت ته ډیر کم دی .
2. دوه ګونی نفوس :د مالتهس د نظر په اساس کې نفوسو وده په خپل حال پاتې شي نو په پنځو کالو کې دوه برابره کیږي ،پنځوسو کالو کې څلور چنده او په سل کالو کې اته برابره کیږي د نفوسو شمیر به دومره ډیر شي چې د خوارکي توکو ټول وسایل به پوره نشي او انسانان به یو بل ووژني .
3. د نفوسو د ودې د مخنیوي تدابیر : د مالتهس د نظرې په اساس د نفوس د ودې د مخنیوي لپاره باید د لاندې دوو طریقو کار واخیستل شي :

- اختیاري طریقه : په اختیاري طریقه کې انسان په خپله هڅه کوي تر څو د نفوسو د ودې مخه ونیسي چې هغه لارې په لاندې ډول دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د واده وروسته کول
- له اخلاقي اصولو کار اخیستل
- د واده نه کول
- د کورني پلان عملي کول
- د تولد په اصولو عمل کول
- د مذهب پیروي

- طبیعي طریقه : که د نفوسو وده په فطري ډول پربښودل شي او هیڅ رنګه اختیاري طریقه د نفوسو د ودې د مخنیوي لپاره ونه کارول شي خو طبیعي طریقه کولای شي چې د نفوسو د ودې مخنیوي وکړي له طبیعي طریقې څخه موخه د الله تعالی له لورې په ځانګړې سیمې نازلیږي :

- زلزله
- جنګ
- سیلاب
- قحطي
- اور او نور

4- تیاره راتلونکی : که چیرته د نفوسو وده په خپل حال پاتې شي نو د نفوسو شمیر به دومره ډیر شي چې خلکو ته به د اړتیاوو د پوره کولو لپاره وسایل شتون ونه لري او نړۍ به له یوې خطرناک حالت سره مخ شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مالتهس په نظرې نيوکې

د مالتهس په نظرې نوو اقتصاد پوهانو له غور وروسته لاندې نيوکې کړيدي :

- د حسابي فارمولې ناسم کارول : د يو رياضي دان په توګه هغه فارمول چې مالتهس وړاندې کړی و په عملي ژوند کې د تطبيق وړ نه دی د نړۍ په يو هيواد کې هم د نفوسو وده په هندسي نسبت او د خوراکي توکو توليد په حسابي نسبت په سمه توګه نه سنجول کيږي خو يوه خبره چې په نړۍ کې د نفوسو وده نسبت د خوراکي توکو ډيرښت ته ډيره ده خو مالتهس چې کومه حسابي فارموله وړاندې کړی وه ناسمه او بې بنسټه وه .
- خوړو په توليد کې زياتوالی : له مالتهس څخه وروسته کله چې په نړۍ کې صنعتي اوښتون رامنځته شو نو د صنعتي او کرنيزو توکو د توليد په برخه کې له ماشينونو څخه کار واخيستل شو چې ورسره د خوراکي توکو توليد ډير شو دغه ډيرښت کله کله د نفوسو له ډيرښت څخه هم ډير وي.
- د ژوند د سطحې لوړ والی : د مالهتس نظريه په هر هيواد کې سمه نه ثابتيږي ځکه په اوسني وخت کې نړۍ کې داسې هيوادونه شتون لري چې په اقتصادي لحاظ ډير پرمختللي دي دنفوسو د ډيرښت سره سره بيا هم د هغوی د ژوند سطحه لوړه ده نو له دې کبله د هغه دا نظريه چې د دغو هيوادنو راتلونکې به تياره وي ناسمه ده.
- کار ډير والی : د مالتهس د نظرې په اساس چې انسا ن په دې نړۍ کې له خيټې سره پيدا شوی او په ټولنه بوج دی خو په حقيقت کې انسان په نړۍ کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیتې سره پیدا شوی خو الله پاک هغه پښې ،لاسونه او مغز هم ورکړی دی.کنین د هغه د دې نیوکې په مقابل کې ویلي دي چې د انسان معده له لومړۍ ورځې څخه کار پیلوي خو کار بیا شل کاله وروسته پیلوي .

- ناهیلي : مالتهس ویلي وو چې د انسان راتلونکې تیاره ده نو له دې کبله انسان د خپلې راتلونکي په اړه ناهیلی وو او د کار احساس یې له منځه تللو .
- اخلاقي بربادي : مالتهس د نفوسو د ډېرښت د درېدو لپاره انسان باید په خپله خوښه ځینې تدابیر ونیسي د ساري په ډول د تولید مخنیوی او په کورنې پلان عمل کول چې په اصل کې فحشا او نورو کارونو ته لمن وهل دي د کار انسانانو ټولنیز اخلاق خرابیوي.
- ناسمه عقیده : د مالتهس د نظریې پر اساس چې طبیعت (نعوذ بالله) الله د خوراکي توکو په تولید کې ناکام شوی چې په مذهبي لحاظ دا عقیده ناسمه ده ځکه الله پاک انسان ته بیلا بیل نعمتونه هم ورکړي دي چې ترې ګټه پورته کړي همدارنګه په نړۍ که کوم توکي ته اړتیا پیښه شي نو د نړۍ له نورو هیوادنو څخه یې واردیږي .
- د ځمکې کارول : نومیالي اقتصاد پوه کولن کلارک د ځمکې په اړه ویلي چې که چیرته ځمکه په ښه توګه وکارول شي نو کولای شي د ځمکې د اوسني نفوسو لپاره لس برابره خوراکي توکي برابر کړي. د خوراکي توکو کمښت نه رامنځته کیږي مالتهس د خپلې نظریې بنسټ د تولید د کمښت په قانون ایښې چې د هغه په اساس د ځمکې تولیدات کمیږي خو په اوسني وخت کې د نوي ماشین الاتو په وسیله د ځمکې تولیدات ډیریږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



♣ اقتصادي پرمختګ : د مالتهس د نظريې په اساس داسې معلومېږي چې په نړۍ کې د نفوسو ډېرښت ستونزې زېږوي او هيواد له اقتصادي ستونزو سره مخامخېږي ليکن هغه هيوادونه چې د نفوسو شمير يې کم وي، هغوی نه شي کولای چې له خپلو طبيعي وسايلو څخه ګټه پورته کړي، خو که نفوس يې ډېر وي کولای شي چې له خپلو سرچينو څخه ښه ګټه پورته کړي او ښه اقتصادي پرمختګ وکړي.

پايله

ترکومه ځايه چې د توکو او نفوسو د ډېرښت موضوع ده هغه ثابته او په خپل حال ده د نفوسو ډېرښت د توکو د توليد څخه ډېر دی د مالتهس د وخت په مقابل کې کرنې او صنعت په طريقو کې اوښتون رامنځته شو د کار د ويش او ماشينونو په دوران کې د ليږد راليږد په وسايلو کې ښه والی او ارزاني رامنځته شوله نوله دې کبله د توکو توليد له حده ډېر پرمختګ وکړو چې په اوسني وخت کې د توکو توليد د نفوسو له ډېرښت څخه لوړ دی خو که مالتهس د خپلې نظريې لپاره دا شرط ايښی وای چې که د توليد طريقو کې کوم بدلون رانه شي او په دې صورت کې د نفوسو ډېرښت له توکو څخه ډېر وي نو په دې صورت کې د مالتهس نظريه سمه ثابتيده .

د نفوسو نوې نظريه : د مالتهس د نظريې د نيمګړتياوو له کبله يوې نوې او ټولنيزې نظريې ته اړتيا پيښه شوه چې پروفيسر کنين او يو شمير نورو اقتصاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهانو د دغې اړتیا په نظر کې نیولو سره د نفوسو په اړه یوه نوې نظریه وړاندې کړه چې د نفوسو معیاري نظریه ورته وایي د نفوسو دې نظریې د معیاري نفوسو د نظرېې بنسټ کېښودو. معیاري نفوس هغه نفوس ته ویل کیږي چې شمیر یې د هیواد د تولید د وسایلو مطابق وي چې دهغه په شتون کې د خلکو سړي سر عواید لوړیږي .که نفوس له معیاري نفوس څخه کم وي تفریط نفوس ورته وایي چې په دې صورت کې د هیواد نفوس له ټولو وسایلو څخه ښه ګټه نه شي پورته کولای او ډیر وسایل بیکاره پراته وي په دې حالت کې کورنۍ تولید کم وي او سړي سر عاید هم کم وي د دې برعکس که د نفوسو شمیر له معیاري نفوسو څخه ډیر وي نو د نفوسو افراط ورته وایي په دې صورت کې د سړي سر عاید کم وي ځکه چې له وسایلو څخه د ګټې پورته کونې لپاره لږو خلکو ته اړتیا وي خو په دې وخت کې د خلکو شمیر ډیر وي ، د معیاري نفوسو پیژندنه پروفیسور کنین په خپل کتاب شتمنۍ کې داسې کړې : په یو معین وخت کې د ځانګړو حالاتو لاندې د یوې کمپنۍ د کارکوونکو ځانګړي شمیر څخه موږ ډیر عاید تر لاسه کړو او که په دې لږ تغیر راشي زموږ عواید ورسره کمیږي همداسې د نفوسو په معامله کې د انسانانو یو داسې معیاري شمیر ته اړتیا وي چې د هغوی په شتون کې موږ ډیر سړي سر عاید ترلاسه کړو که په نفوسو کې ډیرښت او یا کمښت راشي زموږ په عاید کې به توپیر راشي د معیاري نفوسو دنظریې د وضاحت لپاره یو مثال ورکوو یو کرنیز فارم دی چې لس جریبه ځمکه لري چې په دې فارم کې د بیلابیلو کارکونکو تولیدات په لاندې جدول کې توضیح کوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



| د ځمکې مقدار | کارګرو شمیر | ټول تولید | اوسط او سرې سر تولید |
|---|---|---|---|
| 10 جریبه | 1 | 40 ټنه | 40 ټنه |
| 10 | 2 | 100 | 50 |
| 10 | 3 | 180 | 60 |
| 10 | 4 | 200 | 50 |
| 10 | 5 | 200 | 40 |

په پورتني جدول کې څرګندیږي که چیرته په لس جریبه ځمکه کې یو کار ګر کار کوي نو هغه یې په ښه صورت نه شي کرلی نو له دې کبله په ټول تولید او منځني تولید کې کموالی راځي او که د ځمکې په همدې ټوټې دوه کارګران واچوو نو په ټول تولید او منځني تولید کې ډیروالی راځي خو که چیرته درې کارګران په کار واچوو نو منځنی تولید ډیریږي چې په دې ځمکه معیاري کارګر باید درې وي که له دریو کارګرانو څخه ډیر شي په منځني تولید کې کمښت راځي اوکه له دریو کم شي بیا هم په منځني تولید کې کمښت راځي .همداسې د یو هیواد نفوس هم وي که نفوس له معیاري شمیر څخه کم وي نو د هیواد له وسایلو کار نه اخیستل کیږي چې په پایله کې په ټول تولید او منځني تولید کې کمښت راځي او که نفوس ډیر شي او مناسب حد ته ورسیږي نو د تولید وسایل په ښه توګه کارول کیږي چې په ټول او منځني تولید کې ډیربښت راځي .دا خبره باید په نظرکې ونیسو چې د معیاري نفوسو نظریه د یو ځانګړي مقدار یا حد نوم نه دی چې د هغه په شمیر او حد کې د نوو وسایلو په رامنځته کیدلو سره بدلون راځي که د

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو هيواد وسايل کم وي خو ډير کم نفوس وي بياهم دا نفوس معياري نفوس نه دی که چيرته د يو هيواد نفوس ډير وي او ورسره وسايل هم ډير نو بيا هم معياري نفوس دی.

د نفوسو د معياري نظريې ځانګړتياوې:

1. معياري نفوسو کې تغير : د نفوسو معياري نظريه ثابت او ځانګړی حد نه لري د نوو وسايلو په پيدا کولو او کارولو سره په کې تغير راځي که د يو هيواد وسايل کم وي او نفوس يې هم کم وي خو وسايل يې ډير کم وي نو د هغه هيواد معياري نفوس نه دی خو که د يو هيواد نفوس ډير وي خو وسايل يې هم ډير وي د دغه هيواد نفوس معياري دي.

2. د نفوسو ډيربنت : د نفوسو په ډيربنت سره تل په لوږه ،افلاس او غربت کې زياتوالی نه رامنځته کيږي بلکې هغه هيوادونه چې ډير نفوس لري هلته د نفوسو ډيربنت د اقتصادي پرمختګ لپاره ګټور وي.

3. د توليد وسايل : د نفوسو د نوي نظريې په وسيله موږ کولای شو چې دا پريکړه وکړو چې د هيواد د وسايلو په نظر کې نيولو سره په کوم هيواد کې نفوس ډير دی او په کوم کې کم.

نيوکې

- عملي کولو وخت : د دې نظريې تطبيق په عملي ژوند کې ډير ستونزمن کار دی د هيواد د معياري کولو لپاره ډير اعدادو او ارقامو ته اړتيا وي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر وخت ونيسي که فرض کړو چې د هيواد معياري نفوس برابر شو له لږ وخت وروسته بيرته بدليږي او اخيستل شوي ارقام او اعداد بې ګټې پاتې کيږي .

- د معياري نفوس خيال : د معياري نفوسو نظريه يوه مبهمه نظريه ده چې موږ پرې پريکړه نه شو کولای .

پايله

د نفوسو نوي نظريه د مالتهس له نظريې څخه بهتره ده چې د نفوسو په د ډيربښت او کمښت په علمي لحاظ تر څيړنې لاندې نيسي مالتهس د نفوس ډيربښت څخه ويريدو ،خو معياري نظريه کې د حقيقت عنصر غالب دی چې ددې نظريې په اساس د نفوسو ډيربښت او کمښت کوم اهميت نه لري که د يو هيواد وسايل او نفوس دواړه ډير وي بيا هم کوم توپير نه لري او کولای شي چې خپلو وګړو ته د ژوند اسانتياوې برابرې کړي اوکه نفوس يې کم وي او وسايل يې هم کوي بيا هم کومه اغيزه نه لري نوله دې کبله ويلی شو چې د نفوسو معياري نظريه تر ډيره بريده د قبلولو وړ ده .

## پانګه Capital :

په عامه اصطلاح پانګه نغدي پيسې يا په بانک کې پيسو (حساب) ته وايي، خو ديو کاروباري شخص لپاره کاروباري وسايل نغدي پيسې ماشين الات

(c) ketabton.com: The Digital Library



پانګه ګڼل کيږي چې د پانګې مفهوم له دې سره توپير لري پانګه د شتمنۍ هغه برخه ده چې د نورې شتمنۍ دلاسته راوړلو لپاره کارول کيږي هغه شتمنۍ چې يوازې زمونږ غوښتنې پوره کوي او عايد پرې نه ترلاسه کيږي پانګه نه بلل کيږي لکه : که يو شخص موټر د خپل ځان لپاره کاروي دا پانګه نه ده خو که دغه موټر په کرايه ورکړي نو بيا پانګه ده يوه خبره د يادونې وړ ده چې يوازې هغه توکي په پانګه کې دخيل دي چې د عايد د ترلاسه کولو لپاره نه وي واخيستل شي که څوک زوړ موټر واخلي هغه په پانګه کې نه راځي او همدرانګه که څوک زوړ کور واخلي بيا هم په پانګه کې نه راځي ځکه زوړ کور نوی شوی نه دی ،يوازې د ملکيت حقوق يې له يوه شخص څخه بل شخص ته ليږدول شوي دي . په هيواد کې نوې شتمنۍ نه ده رامنځته شوی دپانګې په اړه اقتصاد پوهانو نظرونه ورکړي چې په لاندې ډول ترې يادونه کوو :

- ادم سمت : پانګه د يو شخص د شتمنۍ هغه برخه ده چې عايد پرې لاسته راوړي .
- ايس .ای. تهامس : له ځمکې پرته د افرادو او هيواد د شتمنۍ هغه برخه چې د نورې شتمنۍ په ترلاسه کولو کې مرسته کوي .
- الفرد مارشال : ټوله هغه جمع شوې شتمنۍ چې د يو توليدي فعاليت لپاره کارول کيږي پانګه بلل کيږي .
- ريکاردو : پانګه د يو هيواد شتمنۍ هغه برخه ده چې د شتمنۍ د لاسته راوړلو لپاره په لګښت رسيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- چیپ مین : پانګه هغه شی دی چې د شتمنۍ په پیدا کولو کې مرسته کوي .

د پانګې ځانګړتیاوې

- د پانګې ډیر والی د انسان د وس خبره ده د وخت په تیریدو سره په پانګې کې زیاتوالی راځي او په یو هیواد کې د دپانګې زیاتوالی د هیواد اقتصادي پرمختګ بنسټ جوړوي .
- لیږد وړ : پانګه د لیږد وړ ده پانګه له یو ځای څخه بل ځای ته په اسانۍ سره لیږدول کیږي .
- د پیدا ینښت نامحدوده ځواک : د کار او ځمکې د پیدا ینښت قوت محدود دی خو د پانګې د پیدا ینښت حد نامحدود .
- د شتمنۍ برخه : پانګه د شتمنۍ هغه برخه ده چې د عوایدو د زیاتوالي لپاره د توکو په شکل تر لاسه کیږي .

پانګه او نور عناصر

پانګه په عمومي ډول له نورو عناصرو لکه شتمنۍ ،پیسې ،ځمکه او عواید سره ګډه په یو مفهوم کارول کیږي دا په داسې حال کې ده چې یو له بل ستر توپیر لري ددې لپاره چې د پانګې په مفهوم ښه پوه شو نو لازمه ده چې له لاندې عناصر تشریح کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



1. پانګه او شتمنۍ : له شتمنۍ څخه موخه ټول هغه شیان دي چې زموږ اړتیاوې پرې پوره کیږي او لاندې ځانګړتیاوې لري :

- افادیت ولري
- کم پیدا وي
- د لیږد وړ وي

پانګه د شتمنۍ هغه برخه ده چې د عاید د لاسته راوړلو لپاره کارول کیږي،که شتمنۍ د غوښتنو د پوره کیدو لپاره وکارول شي پانګه نه بلل کیږي د ساري په ډول خوراک،لباس او نور .پانګه د شتمنۍ هغه برخه ده چې عاید پرې لاسته راځي .

2. پانګه او پیسې : له پیسو څخه مراد ټول هغه وسایل دي د تبادلې د وسیلې په توګه کارول کیږي پیسې پانګه نه ده خو هغه پیسې پانګه ده چې د شتمنۍ د لاسته راوړلو لپاره کارول کیږي د ساري په ډول په کاروبار کې پرتې پیسې پانګه بلل کیږي .

3. پانګه او عواید : پانګه د شتمنۍ هغه برخه ده چې عاید پرې لاسته راځي برعکس عاید هغه شتمنۍ ده چې د پانګې د کارونې څخه لاسته راغلې وي د ساري په ډول کله مو چې کور په کرایه ورکړی وي کور پانګه او کرایه یې عاید دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



4. پانګه او ځمکه : د پانګې او ځمکې ترمنځ یو شی ګډ دی چې دواړه په تولید کې لاس لري او دواړه د تولید عاملین دي خو لاندې توپیر لري :

- ځمکه د انسان په وسیله نه ده پیدا شوی خو پانګه بیا د انسان د هڅې په پایله کې رامنځته شوې .
- په ځمکه کې ډیروالی او کموالی نه راځي خو په پانګه کې ډیروالی او کموالی راځي او ځمکه څوک لمنځه نه شي وړلی خو پانګه ډیر ژر له منځه ځي .
- ځمکه له یو ځای څخه بل ځای ته نه لیږدول کیږي خو پانګه په زرګونه کیلومتره لرې لیږدول کیږي.

په اقتصادي پرمختګ کې د پانګې ونډه : د یو هیواد په اقتصادي پرمختګ ډیرمهمه ونډه لری لکه څرنګه چې د انسان وجود لپاره د وینې اړتیا ده همداسې د اقتصاد پرمختګ لپاره پانګه اړینه ده چې په لاندې ډول ترې یادونه کوو :

1. له طبیعي وسایلو څخه ګټه پورته کونه : انسان تر هغه وخته له طبیعي وسایلو څخه ګټه نه شي پورته کولای ترڅو چې پانګه تهیه نه کړي ،د کرنیزو توکو په تولید کې د کانونو په راویستلو کې او د نورو وسایلو د کارولو لپاره پانګې ته اړتیا ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. پراخه تولید : د پانګې په وسیله تولیدات ډیرېږي ځکه که څوک ډیره پانګه ولري کولای شي ډیر اومه مواد او نوي ماشین الات واخلي چې ورسره تولید ډیرېږي.

3. د تولید د لګښت کموالی : د پانګې په وسیله یوازې دا نه چې تولید ډیرېږي ورسره د تولید لګښت هم راټیټېږي د پانګې په مرسته د تولید عملیه تیزېږي ښه او باکیفتیه توکي ژر تیارېږي او ورسره في واحد لګښت راټیټېږي .

4. اقتصادي پرمختګ : په اوسني وخت کې د پانګې ارزښت دومره ډیر دی چې بې له پانګې یو کوچنی کاروبار هم نه پیلېږي دا یوازې د پانګې زور دی چې انسان په خپل ژوند کې په هر برخه کې پرمختګ کړی دی پانګه د هر هیواد اقتصاد حالت ټاکي په کوم هیواد کې چې ډیره پانګه وي په اقتصادي لحاظ پرمختللی وي او په کومو هیوادنو کې چې د پانګې کمښت شتون ولري هغه هیواد اقتصادي پرمختګ نه شي کولای ،د پانګې په وسیله د وګړو د ژوند سطحه لوړېږي .

5. د تولید عامل :د توکو په تولید کې ځمکه ،کار ،پانګه او اداره ټول برخه لري چې دریو کار ،ځمکې او ادراې انحصار په پانګې دی د ساري په ډول زموږ په هیواد کې کرنه دومره حاصل نه کوي لکه څومره چې پرمختللي هیوادونه کوی دا ځکه چې له هغوی سره نوی ماشین الات او ښې کیمیاوي سرې شته.

## متشبث Entrepreneur

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پخوانیو زمانو کې انسانانو خپلې اړتیاوې په خپله پوره کولې ،کارونه ساده وو او بازارونه محدود له صنعتي اوښتون وروسته د توکیو تولید پراخه شو نو له دې کبله یو داسې عامل ته اړتیا پیښه شوه چې د تولید عوامل سره یو ځای او د تولید چوپړتیاوې تر سره کړي ،اومه مواد واخلي ،د تولید پروسه ترسره کړي د کاروبار ګټه او زیان په ځان ومني چې داسې شخص ته متشبث ویل کیږي . متشبث د کاروبار بنسټ جوړوي ،د تولید عوامل سره یو ځای کوي د تولید د عواملو پیسې ادا کوي ،د ګټې په نیت د کاروبار بوج اخلي دساري په ډول د کارخانو مالکین،هټۍ وال،کروند ګر ټول متشبثین دي.

پروفیسور نیون متشبث داسې تعریفوي : داسې شخص یا اشخاص چې ځمکه ،کار او پانګه تنظیوي او داسې پریکړه کوي چې د تولید عوامل څومره یو ځای شي او کوم توکي تولید کړي.

د متشبث او اجیر ترمنځ توپیر

- ♣ د اجیر ګټه له مخکې څخه ټاکل شوې وي خو د متشبث ګټه له مخکې څخه نه وي ټاکل شوې که کاروبار یې ښه وو ښه ګټه او که ښه نه وي نو کیدای شي چې زیان هم وکړي.
- ♣ د اجیر ګټه کمه وي خو صفر یا منفي کیدای نشي خو د متشبث ګټه صفر او یا هم له زیان سره مخامخ کیدای شي.

په اقتصادي پرمختګ کې د متشبث ونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له صنعتي اوښتون وروسته د تولید په پروسه کې د ماشین کارول پیل شول او ورسره په تولید کې زیاتوالی هم راغلو ،کاروبار پراختیا پیدا کړه نو له دې کبله د یو داسې عامل اړتیا پیښه شوه چې پراخه کاروبار سنبال کړي او کاروبار د بریالیتوب په لور بوځي په اوسني وخت کې د تولید په عملیه کې له نوو او مغلقو ماشینونو کار اخیستل کیږي چې د کاروباري ادارو ترمنځ سخته سیالي روانه ده نوله دې کبله د کاروبار د بریالیتوب لپاره یوداسې پوه،ښه اخلاق لرونکي،موقع پیژندونکي او تجربه کار شخص ته اړتیا ده ،چې دې کار د متشبث اهمیت لاپسې ډیر کړی د کاروبار په بریالیتوب او ناکامۍ کې ډیره ونډه لري د وروسته پاتې هیوادنو د وروسته پاتې کیدو عامل دا هم دی چې ښه متشبثین نه لري خو پرمختللي هیوادونه بیا ددې خلاف ښه متشبثین لري د یو هیواد په اقتصادي پرمختګ کې متشبث لاندې رول تر سره کوي :

1. د تولید د عواملو یوځای والی : د تولید عوامل یو ځای نه وي له بیلا بیلو ځایو او اشخاص سره وي په خپل منځ کې یې اړیکه نه وي هر یو عامل په خپل سر تولید نه شي کولای متشبث دتولید عوامل سره یوځای کوي او تولیدي پروسه پرې مخ ته بیايي.
2. پراخه پیمانه تولید : په اوسني وخت کې تولید ډیر صورت نیسي نو له دې کبله یو ښه متشبث ته ډیره اړتیا ده څو کاروبار په ښه لور بوځي.
3. د بازار پراختیا : د تولیداتو په ډیروالي سره بازارونه پراخه شول د کاروباري ادارو ترمنځ سیالۍ سختي شوې نو له دې کبله یو داسې متشبث ته اړتیا ده څو توکي په ښه قیمت وپلوري همدارنګه کله چې کاروبار پراختیا پیدا کوي ورسره په هیواد کې خلکو ته د کار زمینه هم برابریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**4**. **دتوليد مغلق نظام** : په اوسني وخت کې د توليد نظام ډير مغلق دی نو ددې لپاره يو داسې شخص ته اړتيا ده څو په کاروبار ښه پوه شي د کاروبار په ګوانښونو وپوهيږي او دهغه مسووليت واخلي هغه بهرنی او کورنی پيښې چې کاروبار اغيزمنوي له هغوی څخه کاروبار په ښه توګه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تولید قوانین یا د حاصل قوانین

## Laws of production or Laws of Returns

تولید د تولید د څلورو عواملو (ځمکه،کار ،متشبث،پانګه) په پایله کې رامنځته کیږي که موږ وغواړو چې تولید ډیر کړو له دې څخه موخه دا ده چې د تولید عوامل باید ډیر کړو په عملي ژوند کې ځمکه او متشبث د خپلواکو عواملو په توګه ګڼل کیږي.که موږ غواړو چې تولید ډیر کړو نو باید پانګه او کار کې زیاتوالی راولو خو دا اړینه نه ده چې په کوم نسبت د تولید عوامل زیات کړو په هماغه اندازه دې تولید هم ډیر شي کله چې موږ د تولید په عواملو کې زیاتوالی راولو نو له لاندې دریو حالتو سره مخامخیږو :

I. یا به یې نسبت ډیر وي
II. یا به یې نسبت مساوي وي
III. یا به یې نسبت کم وي

چې پورتنیو ته د تولید درې قوانین وایي لومړی ته د حاصل ډیرښت قانون ،دویم ته د حاصل استقرار قانون او دریم ته د کمښت قانون وایي چې په لاندې ډول هر یو تر مطالعې لاندې نیسو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حاصل د ډیرښت اویا د لګښت د کمښت قانون

## Law of increasing Return or Diminishing Cost

که په تولید کې د تولید د عواملو د زیاتوالي په نسبت ډیر ډیرښت راشي د ډیرښت قانون ورته وايي د ډیرښت په قانون کې ځمکه او تشبث ثابت ،پانګه او کار متحرک په نظر کې نیول کیږي د پانګې او کار په ډیرښت سره په تولید کې زیاتوالی راځي یا ورسره نهايي تولید ډیریږي . پروفیسور بنهم (Benhem) د ډیرښت قانون داسي تعریف کړی : د تولید د عواملو په مجموعه کې که د یو عامل په تناسب کې زیاتوالی راشي نو ورسره تر یو ځانګړي حد پورې په نهايي تولید کې هم ډیرښت راځي.د "بنهم"په نظر که په یو کاروبار کې د تولید عامل ثابت او د تولید په نورو عواملو کې یو شان زیاتوالی راشي ورسره په نهايي تولید کې تر یو ځانګړي حد پورې ډیرښت راځي دې ته د ډیرښت قانون وايي د ډیرښت قانون کولای شو په لاندې جدول کې ښه تشریح کړو :که له موږ سره د لس جریبه ځمکې لپاره یو تراکتور شتون ولري نو د پانګې او کار د بیلا بیلو واحدونو له کبله دا ډول تولیدات ترلاسه کوو:

| د پانګې او کار مقدار | ټول تولید | نهايي تولید |
|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| 1 | 100ټنه | 100ټنه |
| 2 | 300 ټنه | 200= 100-300 |
| 3 | 600ټنه | 300=300-600 |
| 4 | 1000ټنه | 400=600-1000 |
| 5 | 1500ټنه | 500=1000-1500 |

د پورتني جدول څخه راښکاريږي که د ځمکې مقدار ثابت وي او د نورو عواملو په مقدار کې زياتوالی راشي په توليد کې د هغوی په نسبت ډير زياتوالی راځي دساري په ډول که د پانګې او کار مقدار (1) وي نو ټول توليد 100ټنه وي خو که د پانګې او کار مقدار دوه برابره شي ټول توليد د 200پرځای 300سوه کيږي چې دغه ته د ډيرښت قانون ويل کيږي .د ډيرښت قانون کولای شو په لاندې ګراف کې هم ښه روښانه کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې تاسو دوه مستقيم خطونه چې د wtاو we نامه يادېږي وينئ او د w په نقطه کې سره يو بل پرې کوي .د wtمستقيم خط د کار او پانګې واحدونه ښکاره کوي .د we مستقيم خط د نهايي توليد مقدار راښييکله چې موږ يو واحد کار او پانګه ولرو نو زموږ ټول توليد سل ټنه کيږي خو کله چې د کار او پانګې يو واحد بل وراضافه کړو چې ټول دوه واحده شي نو ټول توليد د دې پر ځاى چې دوه سوه ټنه شي درې سوه کيږي او نهايي توليد دوه سوه ټنه چې همداسې ادامه لري له ګراف څخه هم راڅرګنديږي چې که د کار او پانګې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



واحد وي ټول تولید سل ټنه خو کله چې د کار او پانګې واحدونه دوه کيږي د دې پر ځای چې دوه سوه شي دري سوه کيږي .

د لګښتونو د کمښت د حاصل د ډيرښت د قانون دويم نوم دی ځکه کله چې د پانګې او کاريګر په مقدار کې ډيرښت راوستل شي ورسره په منځنيو لګښتونو او يا نهايي لګښتونو کې کمښت راځي چې کولای شو لاندې جدول ته هم ځير شو :

| د پـــانګې او کارګر اندازه | ټول توليد | ټول لګښت | منځنی لګښت |
|---|---|---|---|
| 1 | 100 | 1000 | 10=1000/100 |
| 2 | 300 | 2000 | 6.67=2000/300 |
| 3 | 600 | 3000 | 5 =3000/600 |
| 4 | 10000 | 4000 | 4=4000/1000 |
| 5 | 15000 | 5000 | 3.33=5000/1500 |


منځني لګښتونه = ټول لګښتونه/ټول توليد . منځني لګښتونه موږ ته د ټول لګښت پر ټول توليد ويشو ورسره موږ ته منځني لګښتونه په لاس راځي .

په پورتني جدول کې ځرګنديږي چې د کار او پانګې د يو واحد له کبله سل ټنه توليد صورت نيسي چې ټول لګښت پرې زر افغانۍ راځي او منځنی لګښت يې لس افغانۍ کيږي .خو کله چې د پانګې او کار واحدونه دوه کيږي ټول توليد

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې سوه ،ټول لګښت دوه زره افغانۍ او منځنی لګښت 6.67 ته راښکته کیږی چې همداسې ادامه پیدا کوي هر څومره چې د کار او پانګې واحدونه ډیر شي منځنی لګښت ورسه کمیږي کولای شو په لاندې ګراف کې هم روښانه کړو .




ګراف کې مورږ او تاسو ګورو چې کله چې د کار او پانګې واحد یو وي منځنی لګښت لس افغانۍ وي خو کله چې د کار او پانګې واحدونه دوه کیږي منځنی لګښت مخ په ښکته راځي منځنی لګښت یا مصرف 6.67 ته راښکته کیږي چې همداسې ادامه پیدا کوي .

د حاصل د ډیربنت او د لګښت د کمښت د قانون فرضیات :

(c) ketabton.com: The Digital Library



♣ د تولید د عواملو ښه یو ځای کیدل : د دې قانون د سم ثابتولو لپاره دا خبره باید فرض کړای شي چې تر اوسه د تولید عواملو د یو ځای کیدو ښه حد نه دی تیر د تولید د عواملو ښه یو ځای کول هغه وخت وي چې د توکو د تولید په وخت کې لګښتونه کم تر کمه شي .

♣ د برخو ښه : دا قانون هغه وخت عملي کیږي چې د تولید متغیرو عواملو ښه یو شان وي او هیڅ ډول بدلون په کې نه وي راغلی .

♣ د تولید طریقه : د دې قانون د سم ثابتولو لپاره باید د تولید په طریقه کې توپیر رانه شي .

## I. دحاصل یا د لګښت د استقرار قانون : د استقرار قانون د

ډېرښت او کمښت قانون ترمنځ دی دا قانون هغه وخت پلي کیږي چې د ډېرښت قانون ودریږي او د کمښت قانون پیل نه وي د استقرار قانون کولای شو داسې تعریف کړو : که د تولید په یو عامل کې زیاتوالی راشي خو په نهایي تولید کې زیاتوالی را نه شي د استقرار قانون ورته وایي .چې کولای شو په لاندې جدول کې یې ښه روښانه کړو :


| د پانګې او کار مقدار | ټول تولید | نهایي تولید |
|---|---|---|
| 1 | 100ټنه | 100ټنه |
| 2 | 200 ټنه | 100= 100-200 |
| 3 | 300 ټنه | 100=200-300 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| 4 | 400 ټنه | 100=300-400 |
| 5 | 500 ټنه | 100=400-500 |

په پورتني جدول کې موږ ګورو د پانګې او کار په یو واحد سره ټول او نهایي تولید سل ټنه کيږي خو کله چې د پانګې او کار واحدونه دوه کيږي ورسره ټول تولید هم دوه سوه ټنه کيږي او نهایي تولید یو ځل بیا سل ټنه کيږي چې همداسې ادامه پیدا کوي او تر اخره په نهایي تولید کې ډېربښت او یا کمښت نه راځي .کولای شو په لاندې ګراف کې هم توضیح کړو:




په پورتني ګراف کې تاسو وینئ کله چې د تولید او پانګې واحد یو وي د نهایي تولید اندازه سل ټنه ده خو کله چې د کار او پانګې واحد له یو څخه دوه کړو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهايي توليد کې ډېر والی نه راځي همداسې د دريو ،څلورو او پينځو واحدونو په زياتوالي سره سره بيا هم نهايي توليد سل پاتې کيږي .


د حاصل د استقرار قانون ته د لګښتونو د استقرار قانون هم وايي ځکه د نوي توکو توليد لپاره په لګښت نه ډېربنت او نه کمښت راځي کولای شو په لاندې جدول کې ورته ځير شو :

| د پــــانګې او کار اندازه | ټول توليد | ټول لګښت | منځني لګښتونه |
|---|---|---|---|
| 1 | 100 کمپله | 1000 | 10=1000/100 |
| 2 | 200 | 2000 | 10=2000/200 |
| 3 | 300 | 3000 | 10=3000/300 |
| 4 | 400 | 4000 | 10=4000/400 |
| 5 | 500 | 5000 | 10= 5000/500 |

پورتني جدول کې تاسو ګورئ چې د کار او پانګې د واحد په مرسته سل کمپلې توليديږي چې ټول لګښت يې زر افغانۍ کيږي او منځنی لګښت يې لس افغانۍ دی خو کله چې د کار او پانګې واحدونه دوه کيږي توليد دوه سو کمپلو ته لوړيږي ټول لګښت يې دوه زره افغانۍ کيږي خو منځنی لګښت بيا هم لس افغانۍ کيږي په همدې ترتيب د نورو واحدونو په ډېربنت سره په منځني لګښت کې زياتوالی نه راځي .کولای شو په لاندې ګراف کې هم توضيح کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې تاسو ګورئ که هر څومره د پانګې او کار په واحدونو کې زياتوالی راشي په منځني لګښت کې زياتوالی يا کموالی نه راځي .

د دې قانون فرضيات :

- اومو موادو عرضه : د اومو موادو عرضه بايد په بازار کې دومره وي چې که په بازار د تقاضا په زياتوالي سره سره په قيمت کې تغير رانه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ♣ د تولید عواملو بدله : د تولیداتو د ډیربښت په وجه پانګې او کار ګر ته ډیره اړتیا پیښېږي خو د تقاضا په زیاتوالي سره سره باید بدله یو شان وي لکه لګښتونه،وجوره او سود نرخ .
- ♣ د کار ویش : د دي قانون سم ثابتولو لپاره باید کار دویش په نظام کې توپیر رامنځته نشي .

II. د حاصل د کمښت یا د لګښت ډیربښت قانون : که موږ هر ځومره د کار او پانګې په مقدار کې زیاتوالی راولو د ځمکې په نهایي تولید کې تر یو ځانګړي حد پورې زیاتوالی راځي چې دغه حد ته معیاري حد ویل کیږي .کله چې دغه حد ته رسیږي نو بیا که د کار او پانګې په مقدار کې هر ځومره زیاتوالی راولو په نهایي تولید کې کمښت راځي چې دې قانون ته د حاصل د کمښت قانون ویل کیږي .که په تولید کې زیاتوالی د تولید د عواملو د زیاتوالي په نسبت کم وي نو دې ډول قانون ته د حاصل د کمښت قانون وایي .پروفیسور بنهم د حاصل د کمښت قانون داسې تعریف کړی : که د تولید د عواملو په مجموعه کې د یو عامل په تناسب کې زیاتوالی راشي له یوې نقطې وروسته د دغه عامل په نهایي تولید کې کمښت راځي . همدارنګه پروفیسور الفرد مارشال د حاصل د کمښت قانون په اړه وایي : که ګروند ګر په ځمکه د پانګې او کار واحدونه له یو ځانګړي مقدار ځخه زیات کړي نو د ځمکې تولید د هغوی په نسبت کمیږي په دې شرط چې د کرنې په هنر کې بدلون رانه شي چې کولای شو په لاندې جدول کې ښه روښانه کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library




| د پانګې او کار مقدار | ټول تولید | نهايي توليد |
|---|---|---|
| 1 | 100ټنه | 100ټنه |
| 2 | 180 ټنه | 80= 100-180 |
| 3 | 240ټنه | 60=180-240 |
| 4 | 280ټنه | 40=240-280 |
| 5 | 300ټنه | 20=280-300 |

په پورتني جدول کې تاسو ګورئ چې د کار او پانګې د يو واحد توليد سل ټنه دی خو کله چې د پانګې او کار په مقدار کې زياتوالی راځي د هغه په نسبت په نهايي توليد کې کمښت راځي . همدرانګه کولای شو په لاندې ګراف کې هم روښانه کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې تاسو ګورئ کله چې د کار او پانګې واحد یو نهایي تولید سل ټنه وي خو کله چې د کار او پانګې واحدونه دوه کیږي نهایي تولید اتیا ټنه کیږي او کمښت په کې راځي همدارنګه د نورو واحدونو په زیاتوالي سره په نهایي تولید کې کمښت راځي ګراف مخ ښکته راځي.

د حاصل د کمښت د قانون دویم نوم د لګښت د ډیرښت قانون دی ځکه کله چې موږ په تولیداتو کې ډیرښت راولو نو د کار او پانګې په عواملو کې ډیرښت راولو چې ورسره په منځینو لګښتونو کې ډیروالی راځي لاندې جدول ته ځیرشئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library




| د پانګې او کار اندازه | ټول تولید | ټول لګښت | منځنی لګښت |
|---|---|---|---|
| 1 | 100 | 1000 | 10=1000/100 |
| 2 | 180 | 2000 | 11.11 = 2000/18 |
| 3 | 240 | 3000 | 12.50=3000/240 |
| 4 | 280 | 4000 | 14.29=4000/280 |
| 5 | 300 | 5000 | 16.67=5000/300 |

تاسو په پورتني جدول کې ګورو کله چې د کار او پانګې واحد یو وي ټول تولید سل ټنه ټول لګښت یې زر افغانۍ او منځنی لګښت یې لس افغانۍ ده خو کله چې د کار او پانګې واحدونه دوه شي ټول تولید 180 ټنه کیږي ټول لګښت دوه زره افغانۍ او په منځني لګښت لوړیږي له لسو افغانیو څخه 11.11افغانیو ته پوره کیږي په همدې ترتیب د نورو واحدونو په زیاتوالي سره په منځني لګښت کې زیاتوالی راځي چې همداسې ادامه پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې ښودل کيږي که د کار او پانګې واحد يو وي منځنى لګښت لس افغانۍ خو که د کار او پانګې واحدونه دوه کړو منځنى لګښت 11.11ته لوړيږي همداسې که هر خومره د کار او پانګې واحدونه ډير کړو ورسره منځني لګښتونه ډيريږي .

د قانون فرضيات :د لګښتونو د ډيرښت د قانون فرضيات په لاندې ډول دي :

- تاکل شويو عاملينو په مقدار کې نه بدلونه : د لګښتونو د ډيرښت قانون هغه سم ثابتيږي چې ټاکل شويو عاملينو په مقدار کې تغير رانه شي څه چې پخوا ول هماغه پاتې شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د تولید په طریقه کې نه بدلون : د دې قانون سم ثابتولو لپاره باید دا خبره په نظر کې ونیول شي چې د تولید په طریقه هیڅ ډول بدلونه رانه شي .
- معیاري حد تیر شوی وي : د لګښتونو د ډېرښت قانون هغه وخت سم ثابتیږي کله چې معیاري حد تیر شوی وی معیاري حد هغه حد ته ویل کیږي چیرته نهایي تولید ډیر زیات وي
- د برخو بڼه : د تولید په کومو عواملو کې چې تغیر راوستل کیږي د ټولو برخو بڼه باید یو شان وي څکه د تولیداتو د کمښت ارتجاعیت له راټولیدو سره برخو سره نه وي بلکې تولید معیاري حد له تیریدو له وجې وي .

کولا ی شو د حاصل درې واړه قوانین په یو ګراف او جدول کې هم روښانه کړو :

په عملي ژوند کې چې موږ کله کاروبار پیلوو نو په پیل کې د پانګې او کار د واحدونو په اضافوالي سره په نهایي تولید کې ډېرښت راځي چې دلته د حاصل د ډېرښت قانون په عمل کې وي ،بیا یو داسې وخت را رسیږي چې د پانګې او کار د واحدونو په زیاتوالي سره نهایي تولید یو شان کیږي چې دلته د حاصل د مساوات قانون په عمل کې وي او بیا یو داسې حد رامنځته کیږي که د کار او پانګې په واحدونو کې هر څومره زیاتوالی راولو نو نهایي تولید په کمیدو وي چې دلته د حاصل د کمښت قانون په عمل کې وي .کولای شو په لاندې جدول کې ښه روښانه کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library




| دکار او پانګې واحدونه | ټول تولید | نهايي توليد | قوانين |
|---|---|---|---|
| 1 | 10 ټنه | 10 ټنه | د حاصل د ډېربښت قانون |
| 2 | 25 ټنه | 25-10=15 ټنه | |
| 3 | 45 ټنه | 45-25 = 20 ټنه | |
| 4 | 70 ټنه | 70-45 = 25 ټنه | د حاصل د يو شانوالي قانون |
| 5 | 95 ټنه | 95- 70 = 25 ټنه | |
| 6 | 120 ټنه | 120- 95 = 25 ټنه | |
| 7 | 140 ټنه | 140 – 120 = 20 ټنه | د حاصل د کمښت قانون |
| 8 | 155 ټنه | 155 – 140 = 15 ټنه | |
| 9 | 165 ټنه | 165 – 155 = 10ټنه | |
| 10 | 170 ټنه | 170 – 165 = 5 ټنه | |

په پورتني جدول کې ګورى کله چې د کار او پانګې په واحدونو کې زياتوالى راځي تر څلورو واحدونو پورې په نهايي توليد کې ډېربښت راځي چې دلته د حاصل د ډېربښت قانون په عمل کې وي . له دې وروسته د پنځم او شپږم واحد په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاتوالي سره نهایي تولید سره یو شان وي چې دلته د حاصل د یو شانوالي قانون په عمل کې وي له دې وروسته چې د کار او پانګې نور واحدونه زیات شول نو نهایي تولید په کې کمیږي چې دلته د حاصل د کمښت قانون په عمل کې وي کولای شو په لاندې ګراف کې هم روښانه کړو .




په پورتني ګراف کې تاسو دوه مستقیم خطونه GF او GH وینئ چې د G په نقطه کې سره یو بل پرې کوي. GF د کار او پانګې واحدونه ښيي او GH د نهایي تولید مقدار ښيي په لومړي سر کې تاسو ګورئ چې ګراف پورته خواته روان دی چې د حاصل د ډېرښت قانون موږ ته راښيي خو ګراف چې کله د eنقطې ته ورسیږي نو دا نقطه موږ ته د حاصل د یوشانوالي قانون راښيي د e له نقطې وروسته ګراف

(c) ketabton.com: The Digital Library



نزولی سیر نیسي چې موږ ته د حاصل د کمښت قانون راښیي. L,e او N درې خطونه موږ ته د حاصل درې قوانین راښیي.


همدرانګه کولای شو د لګښت درې قوانین هم په یو جدول او ګراف کې روښانه کړو :

| د کار او پانګي واحدونه | ټول تولید | ټول مصارف | منځني مصارف | قوانین |
|---|---|---|---|---|
| 1 | 10 ټنه | 1000 افغانۍ | 100 =10/1000 | د لګښت د کمښت قانون |
| 2 | 25 ټنه | 2000 افغانۍ | 80 =25 /2000 | |
| 3 | 45 ټنه | 3000 افغانۍ | 66.67 = 45/ 3000 | |
| 4 | 70 ټنه | 4000 افغانۍ | 57.14 =70/4000 | |
| 5 | 95 ټنه | 5000 افغانۍ | 52.63 =95/5000 | |
| 6 | 120 ټنه | 6000 افغانۍ | 50 =120/6000 | د لګښت د مساوات قانون |
| 7 | 140 ټنه | 7000 افغانۍ | 50 = 140/7000 | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 8 | 155 ټنه | 8000 افغانۍ | 51.61 =155/8000 | د لګښــت د ډېربنت قانون |
| 9 | 165 ټنه | 9000 افغانۍ | 54.54 =165/9000 | |
| 10 | 170 ټنه | 10000افغانۍ | 58.52=170/10000 | |




په پورتني ګراف کې تاسو ګورئ چې ګراف په لومړي سر کې مخ ښکته راځي دا په دې مانا چې دا د مصارفو کمښت ښيي بيا يو داسې ځای رارسيږي چې ګراف د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستقیم خط شکل نیسي چې د مصارفو یو شان والی ښيي او له دې وروسته ګراف بیرته مخ پورته ځي چې د مصارفو ډیرښت ثرګندوي .

## دتولیدونکو او مصرونکو نظریات

## تولیدونکو نظریه

د دې لپاره چې تولیدونکي ډیر تولید په لږ لګښت ترسره کړي د تولید عوامل باید داسې سره یوځای کړي چې لګښت د کمښت اخري حد ته ورسیږي ،په ګټور بازار کې تولیدات وپلوري او تولید ادامه پیدا کړي په پایله کې ویلي شو چې د تولیدونکو ته د تولید لګښت ځانګړی اهمیت لري ځکه د عوایدو او لګښت تر منځ توپیر د تولیدونکو ګټه جوړوي ،تولیدونکي باید خپل لګښت د کمښت اخري حد ته ورسوي تر څو ډیره ګټه تر لاسه کړي .

تولید هغه پروسه ده چې په هغې کې د تولید عوامل داسې سره یو ځای کیږي چې په توکو او چوپړتیاوو تبدیل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه اړيکه چې د توليد عوامل او د توليد مقدار په خپل منځ کې لري د توليد تابع ورته وايي د توليد عوامل کار ،پانګه او ځمکه په توليد کې ونډه لري .
کولای شو چې تابع په لاندې ډول وليکو :

$Q = F (K, V, L)$

= Q د توليد مقدار

= K پانګه

= V کار

= L ځمکه

د خپل کار د اسانتيا لپاره د ځمکې او پانګې مقدار د توليد په پروسه کې ثابت فرضوو. غواړم د توليد په پروسه کې يوازې د کار مقدار ارزيابي کړم . چې زموږ تابع لاندې بڼه اختياروي :

$Q = F (V)$

دکار مقدار= توليد مقدار

پورتنۍ تابع موږ ته وايي که د کار د واحدونو په شمير کې زياتوالي او يا کموالی راولو نو په توليد به يې اغيزه څه وي .فرض کړی چې د ځمکې مقدار

(c) ketabton.com: The Digital Library




ثابت او ماشین الات هم په لاس کې لرو . په همدې ځکه لومړی یو کارګر کار کوي چې تر یو معلومې نېټې وروسته ي 20کیلو ګرامه غنم تولیدیږي. خو کله چې یو بل کارګر هم وراضافه کړو نو ټول تولید 50 کیلو ګرامو ته پورته کیږي په همدې ترتیب د نورو کارګرو په اضافه والي سره چې کوم تغیرات په تولید کې راځي په لاندې جدول کې روښانه شوي :

| د کارګرو شمیر | ټول تولید | نهایي تولید | منځنی تولید |
|---|---|---|---|
| 1 | 20 | 20 | 20 |
| 2 | 50 | 30 | 25 |
| 3 | 90 | 40 | 30 |
| 4 | 140 | 50 | 35 |
| 5 | 180 | 40 | 36 |
| 6 | 210 | 30 | 35 |
| 7 | 230 | 20 | 32 |
| 8 | 240 | 10 | 30 |
| 9 | 235 | 5 | 26 |

په پورتني جدول کې تاسو ګورئ کله چې په ځمکه یو کارګر کار کوي ټول تولید 20 کیلو ګرامه خو کله چې نور کارګران ور اضافه کیږي ټول تولید ورسره ډیریږي خو منځنی او نهایي تولید تر یو بریده لوړیږي خو بیا وروسته بیرته نزولی سیر نیسي او کمیږي. چې کولای شو په لاندې ګراف کې هم روښانه کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library







په پورتني ګراف کې تاسو ګورئ تاسو د تولید تابع ګورئ چې OV د کار واحدونه او OQ د تولید مقدار ښیي. د تولید تابع لومړی صعودي بڼه اختیاروي او د M تر نقطې پورې رسیږي او بیا نزولي لار نیسي .همدرانګه OW او WM سره یو شانوالی نه لري چې موږ ته راښي چې نهایي تولید د کار د عواملو په تغیر سره د نهایي تولید په مقدار کې تغیر راځي .نهایي تولید هغه تولید ته ویل کیږي چې د هر اضافه شوي کارګر څخه په لاس راځي .کولای شو چې د نهایي تولید اړیکه په دې ډول ولیکو : MP= Qn – Qn−n

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدرانګه د تولید د بیلا بیلو ډولونو تر منځ اړیکه په لاندې ګراف کې روښانه کړو :




د نهایي تولید سیر په لومړیو کې صعودي او بیا وروسته نزولي بڼه اختیاروي چې دا کړنه په کرنه کې ډیره عامه ده چې دې ته د نزولي بهرې قانون هم وایي. کله چې ټول تولید د کار په واحدونو وویشو نو منځنی تولید په لاس راځي چې مقدار یې په څلورمه ستنه کې ښودل شوی.

د ټول تولید ،نهایي تولید او منځني تولید د ګراف تر منځ اړیکه کولای شو په څلورو مرحلو کې روښانه کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



1. په لومړۍ مرحله کې ټول تولید ،نهایي تولید او منځنی تولید ډیریږي .د کار د هر واحد په زیاتوالي سره د تیر واحد په نسبت کې زیاتوالی راځي په دې مرحله کې د نهایي تولید مقدار د ډیربښت مقدار حد اکثر ته رسیږي .
2. په دویمه مرحله کې ټول تولید او منځنی تولید ډیریږي خو نهایي تولید کمیږي د دې مرحلې په اخر کې نهایي تولید له منځني تولید سره چې مقدار یې حد اکثر ته رسیږي مساوي وي .
3. په دریمه مرحله کې ټول تولید د ډیربښت خپل اخري حد ته رسیږي خو منځنی او نهایي تولید کمیږي دکار د بیلا بیلو واحدونو د زیاتوالي سره سره منځنی تولید کمیږي او د دې مرحلې په اخر کې صفر کیږي چې ټول تولید د ډیربښت خپل نهایي حد ته رسیږي .
4. په څلورمه مرحله کې ټول تولید کمیږي او نهایي تولید منفي لوری نیسي یانې د کار د یو واحد په زیاتوالي سره ټول تولید د ډیریدو پر ځای کمیږي چې منځنی تولید هم په دې مرحله کې کمیږي.

## لګښت Cost

په تیر مبحث کې مو د تولید او د تولید د عواملو ترمنځ په اړیکې خبرې وکړې نو په دې برخه کې غواړم د تولید لګښتونه تر څیړنې لاندې ونیسو .په تولید کې لګښت په حقیقت کې د تولید د عواملو قیمت دی چې د توکو او چوپړتیاوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تولید کې کارول کیږي .هغه اړیکه چې د تولید د مقدار او د تولید د لګښت ترمنځ ده د لګښت تابع ورته وايي. د تولید تابع او د لګښت تابع یو له بل سره مخامخ اړیکه لري .د لګښت تابع لاندې بڼه لري :

TC = F (Q)

(تولید مقدار)f= ټول لګښت

یانې د لګښت تابع د تولید مقدار دی.په ټولیز ډول د تولید لګښت د ثابتو او متغیرو لګښتونو باندې وېشو.

ثابت لګښت : هغه لګښت د چې د تولید د مقدار په تغیر سره تغیر نه خوري (تر یو معین مقدار پورې ثابت وي) ثابت لګښت ورته وايي .

متغیر لګښت : هغه لګښت ته ویل کیږي چې د تولید مقدار په تغیر سره په کې تغیر راځي .د لګښت تابع لاندې بڼه لري:

TC = FC + VC

متغیر لګښتونه + ثابت لګښتونه = ټول لګښت


اوس کولای شو چې د لګښت تابع داسې ولیکو :    TC = F (Q) +FC

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثابت لګښتونه + (تولید مقدار) **f** = ټول تولید


د ثابتو لګښتونو ګراف خطي او د **x** له محور سره موازي وي چې لاندي بڼه لري:





د متغیر لګښت ګراف د تولید د ګراف پر اساس رسمیږي موږ کولای شو د تولید په برخه کې د ګراف پر اساس د متغیر لګښت ګراف رسم کړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library






ټو لګښتونه د ثابت او متغیر له ټولګې څخه عبارت دي نو کولای شو په لاندې ډول یې ګراف رسم کړو :



(c) ketabton.com: The Digital Library



د ثابتو او متغیرو لګښتونو تر څنګ د لګښت یو شمیر نور ډولونه هم لري چې په لاندې ډول دي :

نهایي لګښت : نهایي لګښت د تولید د اخري واحد لګښت دی .یاني د نوي واحد د زیاتوالي لګښت دی .د مثال په توګه که د دوه واحدو ټول لګښت 95 افغانۍ وي که موږ دریم واحد وراضافه کړو ټول لګښت 115 افغانۍ کیږي چې د دریم واحد د نهایي لګښت د پیدا کولو لپاره 115 منفي 95کوو چې 20 په لاس راځي مانا دا چې دریم واحد نهایي لګښت 20افغانۍ دی . د تعریف پر اساس کولای شو تابع په داسې رسم کړو : MC = TCn – TCn−1

ټول منځني لګښتونه : کله چې ټول لګښتونه د تولید په مقدار وویشو نو ټول منځني لګښتونه په لاس راځي چې د تولید د هر واحد لګښت رابنيي چې تابع په دې ډول ده :

ATC = TC / Q

تولید مقدار/ ټول تولید = ټول منځني لګښتونه

متغیر منځني لګښتونه : کله چې متغیر لګښت د تولید په مقدار وویشو منځني متغیر لګښتونه په لاس راځی :

AVC = VC / Q

(c) ketabton.com: The Digital Library



تولید مقدار / متغیر لګښت = منځني متغیر لګښت

ثابت منځني لګښت : د ثابت لګښت ویش په ټول تولید څخه ثابت منځني لګښت په لاس راځي :


AFC = FC/ Q

تولید مقدار / ثابت لګښت = ثابت منځني لګښت

نهایي لګښت، ټول منځني لګښت ،ټول منځني ثابت لګښتونه او منځني متغیر لګښتونه ګرافونه په لاندې ډول دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library







قدرمنو لوستونکو د لا ښې پوهوني لپاره کولای شو د لګښت ټول ډولونه په لاندې جدول کې هم روښانه کړو :

| 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Q | FC | VC | TC | AFC | AVC | AC | MC |
| 1 | 60 | 30 | 90 | 60 | 30 | 90 | – |
| 2 | 60 | 40 | 100 | 30 | 20 | 50 | 10 |
| 3 | 60 | 45 | 105 | 20 | 15 | 35 | 5 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | 60 | 55 | 115 | 15 | 13 | 28.75 | 10 |
| 5 | 60 | 75 | 135 | 12 | 15 | 27 | 20 |
| 6 | 60 | 120 | 180 | 10 | 20 | 30 | 45 |




د لګښت د ګرافونو ترمنځ اړیکه : په پورتنۍ دستګا کې تاسو د لګښت د ټولو ګرافو تر منځ اړیکه وینئ چې لاندې څلور ناحیې ترې تشخیصې کیږي :

لومړۍ ناحیه : ټول لګښت ډیریږي خو نهایي لګښت د تولید مقدار په ډیر والي سره کمیږي او یو داسې نقطه (W) ته رسیږي چې نهایي لګښت خپل اخري حد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسيږي (m) .نهايي لګښت،منځنی ټول لګښت او متغير منځنی لګښت نزولی لار نيسي .

دويمه ناحيه : په دويمه ناحيه کې ټول لګښت زياتوالی مومي او نهايي لګښت صعودي لار نيسي خو ټول منځني لګښتونه او متغير منځني لګښتونه نزولي لار نيسي .

دريمه ناحيه : په دريمه ناحيه کې نهايي لګښت او منځني متغير ډيريږي خو ټول منځني لګښتونه کميږي.

څلورمه ناحيه : په دې ناحيه کې د ټولو لګښتونو ګرافونه صعودي لار نيسي .

له پورتنيو څرګندونو څخه رامعلوميږي چې څنګه لګښت د توليد د مقدار په تغير سره تغير مومي . د دې پوښتنې ځواب چې توليدونکي تر کومې توليد کوي او لګښت ورکوي ؟ په هغه بازار پورې اړه لري چې دوی په کې کړنې تر سره کوي .

## دويم ـ د مصرفوونکو نظريه :

افاده : د هر مصرفوونکي غوښتنې نامحدودې او وسايل يې محدود دي او تل هڅه کې وي تر څو په لږو وسايلو ډيرې غوښتنې پوره کړي او سکون تر لاسه کړي .له يو توکي څخه لاسته راغلی سکون کولای شو چې په واحديا اعدادو

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوم کړو . د ساري په ډول يو شخص دوه ګېلاسه شيدې څکي نو ويلي شو چې دا شخص چې په اقتصاد کې ده ته مصرفونکی وايي 50،10،5واحدونو يا اعدادو په وسيله سکون ترلاسه کړو په اقتصاد کې له افادې څخه موخه د توکي هغه وړتيا ده چې د انسان د يوې غوښتنې د پوره کيدو قابليت ولري. د ساري په توګه د لوږې د لرې کولو لپاره ډوډۍ او د دتندې د لرې کولو اوبه ته اړتيا ده چې اوبه او ډوډۍ افاديت لري د افادې د ښو پيژندلو لپاره لاندې توپيرونه اړين دي :

افاده او ګټه : بعضې خلک افاده او ګټه په يوه مانا کاروي دا په داسې حال کې ده چې افاده او ګټه يو له بل سره لوی توپير لري ډيری وخت ليدل کيږي چې يو توکی انسان ته زيان رسوي خو افاديت لري د ساري په توګه د شراب څښل انسان ته زيان رسوي خو د انسان د يوې غوښتنې د پوره کيدو توان لري همداسې زهر د انسان د مرګ غوښتنه پوره کوي ځکه په زهرو کې افاديت شتون لري نو ځکه ويلې شو چې ټول ګټه لرونکي توکي افاديت لري خو ټول افاديت لرونکي توکي ګټه لرونکي توکي نه دي.

افاده او سکون : له افادې څخه موخه د يو توکي هغه خاصيت دی چې د انسان د يوې غوښتنې د سکون سبب ګرځي دا په دې مانا چې افاده په توکو کې دخيله ده او سکون د افادې تر کارونې وروسته تر لاسه کيږي .

د افادې بيلابيل ډولونه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړنۍ افاده : کله چې موږ یو توکی موږ په لږ لږ مقدار کارو د توکي د لومړي مقدار په کارونې سره چې کوم افادیت ترلاسه کوو دې ته لومړنۍ افاده وایي د ساري په توګه د ډوډۍ خوړلو په وخت چې د لومړی مړۍ څخه کومه افاده حاصلیږي دې ته لومونۍ افاده وايي.

نهايي افاده : کله چې په یو وخت کې یو انسان د یو توکي څو برخې په متواتر ډول کاروي له هرې برخې چې کارونکي افادیت اخلي دې ته نهایي افادیت وایي.

ټوله افاده : کله چې د توکو د برخو په کارولو سره مصرفوونکو په ټولیز ډول له کوم افادیت ترلاسه کوي دې ته ټوله افاده وايي. کله چې مصرفوونکي د کوم توکي له یوې برخې ټول افادیت ترلاسه کړي نو دې ته د یو برخې ټول افادیت وايي.

مثبته افاده : افاده په هغه صورت کې مثبته وي چې غوښتنه په پوره توګه پوره شوې نه وي او مکمل سکون نه وي ترلاسه شوی. مکمل سکون هغه وخت ترلاسه کیږي چې نهایي افادیت صفر شي.

صفر افاده : افاده هغه وخت صفر کیږي چې سکون په مکمله توګه تر لاسه شي او د دې توکي د نورو کارولو په وجه سکون نه ترلاسه کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



منفي افاده : افاده هغه وخت منفي کیږي کله چې د یو توکي مسلسل کارولو له کبله سکون مکمل تر لاسه شي او کله چې دا توکی نور کارول کیږي انسان ته تکلیف رسوي .کولای شو په لاندې جدول کې هم روښانه کړو :

| منه | ټوله افاده | نهايي افاده | لومړنۍ افاده |
|---|---|---|---|
| لومړی | 20 | 20 | لومړنۍ افاده |
| دویمه | 35 | 15=20-35 | مثبته افاده |
| دریمه | 45 | 10=35-45 | - |
| څلورمه | 50 | 5=45-50 | - |
| پینځمه | 50 | 0=50-50 | صفر افاده |
| شپږمه | 45 | 5-=50-45 | منفي افاده |
| اوومه | 35 | 10-=45-35 | منفي افاده |

له پورتني جدول څخه راڅرګندیږي چې د لومړنۍ کاروني څخه شل سلنه افاده حاصلیږي چې دې ته لومړنۍ افاده وايي د دویمې منې په خوراک سره افاده 35 ته لوړیږي چې دې ته نهايي افاده وايي همداسې د دریمې او څلورمې نهايي افاده 5او 10 ده خو کله چې پینځمه منه وخوري نو په مکمله توګه سکون حاصلیږي نو دلته افاده صفر کیږي له دې وروسته بیا افاده منفي لور نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نهايي افادې د کمښت قانون

موږ په ورځني ژوند کې وينو کله چې موږ د کوم توکي کارونه پيل کړو په لومړي سر کې دا توکي موږ ته ډير سکون راکوي افاده يې هم ډيره وي خو کله چې موږ دا توکی په مسلسله توګه و کارو نو افاديت يې ور ور کميږي اخر يو داسې وخت راځي چې موږ د دې توکي کارول بندو په اقتصاد کې د انسان دې کړن ته د افادې دکمښت قانون وايي .په اقتصاد کې د شتمنۍ د ويش مهم او اساسي قانون دی. دا قانون د ايچ ايچ ګوسن له خوا په کال **1854**ميلادي کال کې وړاندې شو چې وروسته بيا مارشال په ښه انداز وړاندې کړو .

که نور عوامل ثابت وي د يو توکي د هر برخې له کاروني وروسته د هغه په افاديت کې نسبت وروسته ته کمښت راشي نو د افادې د کمښت قانون ورته وايي .ډاکټر مارشال په دې اړه وايي : په يو وخت کې يو ډول توکي مسلسل کارول د هغه توکي د نور په کارلو سره د هغه په افاديت کې کمښت راځي .

همدارنګه چيپ مين په دې اړه وايي : کله چې يو توکی له موږ سره په ډيره پيمانه شتون ولري نو موږ يې په ډيره کمه پيمانه د نور غوښتو تمه لرو .

| د شربت ګيلاس | ټوله افاده | نهايي افاده |
|---|---|---|
| **1** | **12** | **12** |
| **2** | **22** | **10=12-22** |
| **3** | **30** | **8=22-30** |


(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| 4 | 36 | 6=30-36 |
| 5 | 40 | 4=36-40 |
| 6 | 42 | 2=40-42 |
| 7 | 43 | 1=42-43 |

په پورتني جدول کې مورږ او تاسو ګورو د شربتو د لومړي ګيلاس له کبله ټوله افاده دولس او نهايي افاده يې هم دولس ده خو کله چې دويم ګيلاس و څښنو ټوله افاده يې دوه ويشت کيږي او نهايي افاده يې کميږي همداسې د دريو ،څلورو او نورو ګيلاسونو په کاروني سره په نهايي افاده کې کمښت راځي.

کولای شو په ګراف کې هم روښانه کړو :



(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتني ګراف کې وينو کله چې لومړی ګيلاس وکارول شي نهايي افاده دولس کيږي خو کله چې دويم وکارول شي نهايي افاده لسو ته راښکته کيږي او ګراف نزولي سير نيسي.

د نهايي افادې د کمښت د قانون فرضيات :د اقتصاد په علم کې هم د نورو قوانيو په څير د يو قانون د سم ثابتولو لپاره بايد يو څو خبرې فرض کړي چې دې ته د قانون مفروضات ويل کيږي . که دا مفروضات وي قانون سم ثابتيږي او که نه سم نه ثابتيږي د نهايي افادې د کمښت قانون لاندې مفروضات لري :

1. د برخو مناسب مقدار : د نهايي افادې د سم ثابتولو لپاره بايد د توکي برخې مناسبې وي که چيرته په برخې ډيرې کوچنۍ وي نو نهايي افاده د کمښت پر ځای نوره هم زياتيږي د ساري په توګه کله چې يو انسان تږی وي د دې پر ځای چې يو ګيلاس اوبه ورکړل شي يو غړپ ورکول کيږي نو د هغه تنده لاپسې ډيريږي او کميږي نه . او که د غړپ پر ځای يو ګيلاس ورکړل شي نو سمدستي يې نهايي افاديت کميږي .

2. يو شان ځانګړتياوې : د دې قانون د سم ثابتولو لپاره دا خبره هم بايد فرض کړای شي د کوم توکي برخې چې کارول کيږي بايد يو شان بڼه او ځانګړتياوې ولري د هرې برخې وزن،بڼه حجم او خوند بايد يو شان وي .د ساري په توګه کله چې موږ منه معيار نيسو ټولې منې بايد يو شان وي داسې نه چې يوه کوچنۍ او بله غټه وي او يې په خوند کې توپير وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. مسلسل کارول : د دې قانون د سم ثابتولو لپاره دا خبره هم بايد په نظر کې ونيول شي چې توکي بايد په مسلسله توګه وکارول شي او که مسلسل ونه کارول شي دا قانون سم نه ثابتيږي. د مثال په توګه که يو شخص يوه منه سهار او يوه ماښام وخوري نو د منې افاده نه کميږي .

4. د مصرفوونکو عايد :د دې قانون سم ثابتولو لپاره يو شرط دا هم دی چې د مصرفوونکي په عايد کې تبدلي رانشي ځکه کله چې يو انسان عادي مامور او يو باسيکل لري خو کله چې د انسان وزير شي نو سمدستي موټر اخلي نو دلته د باسيکل افاده صفر کيږي دا په داسې حال کې ده چې له دې انسان سره د باسيکلونو په شمير کې زياتوالی نه دی راغلی. همدرانګه د مصرفوونکي په ذهنيت کې تغير هم دا قانون سم نه ثابتوي ځکه يو شخص ام خوري خو کله چې په ياد شي چې ډاکتر له امه څخه منع کړی سمدستي د ام خوړل دروي نو دلته خو د ام په افاديت کې کمښت نه راځي بلکې د انسان په ذهن کې تغير راځي .

5. دود او دستور کې توپير : د دې قانون د سم ثابتولو لپاره دا خبره هم بايد په نظر کې ونيول شي چې د خلکو په دود دستور کې توپير نه وي راغلی ځکه کله چې د يو توکي دود لاړ شي خلک يې نه اخلي دا په داسې حال کې ده چې د توکي په مقدار کې به تغير نه وي راغلی مګر افاديت به يې کم شوی وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نهايي افاديت د کمښت د قانون استثنات يا حدود

بعضې داسې وختونه وي چې دا قانون هلته نه تطبيقيږي اويا د يو څه وخت لپاره معطليږي چې دې حالت ته موږ د قانون حدود يا استثنات وايی د نهايي افاديت د کمښت قانون لاندې استثنات لري :

- پوه او هنر : د پوهې او هنر د حاصلولو برخه کې دا قانون نه تطبيقيږي د پوهې د ترلاسه کولو لپاره چې يو انسان څومره مطالعه کوي علاقه يې لا پسې ډيريږي . که غور وکړو کله چې انسان يو کتاب څو څو ځله مطالعه کړي نو زړه يې ور څخه توريږی چې د پوهې او هنر په برخه کې هم دا قانون تر يو بريده تطبيقيږي .
- پيسې او شتمني : د پيسو او شتمني په برخه کې هم دا قانون سم نه ثابتيږي ځکه انسان په طبيعي لحاظ حريص دی که پيسې او شتمني په ډير مقدار ولري نورې هم غواړي د دې سبب دا دی چې د انسان غوښتني نسبت وسايلو ته ډيرې دي نو ځکه تل د خپلو غوښتنو د پوره کولو په موخه د پيسو او شتمني د ترلاسه کولو په موخه هلې ځلې کوي .
- کارول او د شمير ډيرښت : بعضې داسې توکي شته چې څومره ډير کارول کيږي او په شمير کې ډيرښت راشي افاديت يې نه کميږي د ساري په توګه که په يو ښار کې موبايل ډير شي نو ډير خلک يې کاروي افاديت يې نور هم ډيريږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نمود او نمایش : هر انسان په فطري ډول ځانپالی وي د نورو په وړاندې د عزت د ترلاسه کولو په موخه په نمود او نمایش ډیر زیار باسي هغه د نمود او نمایش وسایل ډیر کاروي چې د دې توکو په ډیر کارولو سره یې افادیت نه کمیږي نو ځکه په دې توکو دا قانون تطبیقیږي همدارنګه انسان تل د اقتدار او واک په ترلاسه کولو پسې ګرځي او هر څومره چې ډیر تر لاسه کړي افادیت یې نه کمیږي لاپسې ډیریږي د دې تر څنګ په نشه یي توکو هم دا قانون نه طبیقیږي ځکه د نشه یی توکو مسلسل کارول د انسان عادت ګرځي او تل هڅه کې چې ډیر تر لاسه کړي او افادیت یې نه کمیږي .

د نهایي افادې د کمښت قانون له مفروضاتو او استثناتو سره سره بیا هم ډیر مهم قانون دی او په دې هر هوښیار انسان پوهیږي چې د یو توکي مسلسل کارول د هغه افادیت کمیږي .د تقاضا قانون هم د نهایي افادې د کمښت په قانون ولاړ دی د نهایي افادې دکمښت قانون له مخې د یو توکي ډیر کارول د هغه په افادیت کې کمښت راځي نو له دې کبله مصرفوونکی غواړي د یو توکي نور وپیري چې د هغه قیمت ټیت شي چې د انسان له دې رویې څخه د تقاضا قانون اخیستل شوی او هغه دا ده چې د قیمت په ټیټوالي سره تقاضا ډیریږي او د قیمت په جګوالي سره تقاضا کمیږي ،همدرانګه مصرفوونکي ته لارښونه کوي چې هغه باید دومره توکي وپیري چې نهایي افاده یې له قیمت سره برابره وي که نهایي افاده یې له قیمت څخه ډیره وي نور اخلي اوکه نه همدرانګه د قیمت په ټاکلو کې هم له مورږ سره مرسته کوي ځکه مورږ هغه توکي پیرو چې قیمت او افاده یې سره مساوي وي د دتر څنګ د مالیې په ټاکلو کې هم دا قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



له موږ سره مرسته کوي ځکه شتمن بايد ډيره ماليه ورکړي ځکه له هغو سره شتمني ډير شتون لري او افاديت يې هم ورته ډير نه وي او غريب بايد لږ ورکړي ځکه له هغو سره شتمني کمه کوي او ډير افاديت ورته لري .

## د نهايي افادې د مساوات قانون

د نهايي افادې د کمښت مطابق د يو توکي مسلسل کارول د هرې راتلونکې برخې نهايي افاده کميږي او يو داسې ځای را راسيږي چې نهايي افاده يې صفر کيږي. يو هوښيار انسان يو توکی په دومره مقدار هم نه کاروي چې نهايي افاده يې صفر ته ورسيږي بلکې دې حالت ته له رسيدو مخکې هغه بل توکي ته مخه کوي د ده له کارولو وروسته بل توکي ته مخه کوي هغه په بيلابيلو توکو ځکه مصارف کوي چې له ټولو توکو نهايي افاده مساوي ترلاسه کړي چې په اقتصاد کې دې قانون ته د نهايي افادې د مساوات قانون وايي .

که له يو مصرفوونکي سره يو داسې توکي شتون ولري چې په ډيرو برخو کې کارول کيږي او مصرفوونکی دا توکي داسې وکاروي چې له ټولو برخو يو شان نهايي افاده ترلاسه کړي نو دې ته د نهايي افادې د مساوات قانون وايي .ډاکتر الفرد مارشال د نهايي افادې د کمښت قانون داسې تعريف کړی دی :

که له يو شخص سره يو داسې توکي شتون ولري چې له يو څخه په ډيرو کارونو کې کارول کيږي او دا توکي يوازې په هغو کارونو داسې وکاروي چې له ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مساوي نهايي افاده ترلاسه کړي .کولای شو چې په لاندې جدول کې هم روښانه کړو:

| د پیسو واحدونه | غنم | غوړي | بوره |
|---|---|---|---|
| 1 | 16 | 14 | 12 |
| 2 | 14 | 12 | 10 |
| 3 | 12 | 10 | 8 |
| 4 | 10 | 8 | 6 |
| 5 | 8 | 6 | 4 |
| 6 | 6 | 4 | 2 |
| ټوله نهایي افاده | 66 | 54 | 42 |

په پورتني جدول کې تاسو ګورئ چې له یو شخص سره ټولې شپږ افغانۍ شتون لري هغه غواړي چې غنم،غوړي او بوره پرې واخلي .که دا شخص ټولې افغانۍ په غنمو ورکړي نو ټوله افاده یې 66واحده تر لاسه کوي او که غوړي پرې واخلي ټول افادیت یې 54واحده کیږي او که بوره پرې واخلي نو 42 واحده کیږي .که مصرفوونکی هوښیار وي نو ټولې پیسې به هیڅ وخت هم یوازې په غنمو ،غوړیو او یا بوره ونه لګوي .که هغه دري افغانۍ په غنمو ورکړي نو 12 واحده افاده تر لاسه کوي او که څلور نو 10 واحد افاده تر لاسه کوي او که څلورمه افغانۍ په غوړیو مصرف کړي نو 14واحده نهایي افاده ترلاسه کوي همداسې نوځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرفوونکی څلورمه افغانۍ په غوړیو لګوي او پنځمه افغانۍ هم په غوړیو لګوي ځکه له غنمو دلته ډیره افاده تر لاسه کوي . او شپږمه افغانۍ که په غوړیو ولګوي نو هغه 10 واحده نهايي افاده ترلاسه کوي او که په بورې يې ولګوي نو 14واحده نهايي افاده تر لاسه کوي . که مصرفوونکی دا ټولې افغانۍ داسې بدلې رابدلې ولګوي نو له ټولو لګول شويو پيسو څخه لاسته راغلی نهايي افاده سره مساوي وي نو له ټولې افادې څخه ډيره افاده ترلاسه کيږي .

که درې لومړۍ افغانۍ په غنمو ولګول شي نو ټوله افاده :

16+14+12=42 برخې

څلومه او پنځمه افغانۍ  په غوړیو لګوي ټوله افاده :

14+12=26برخې


شپږمه افغانۍ که په بوره ولګوي نو ټوله افاده :=12

داسې پيسې چې په بيلابيلو لارو چې ولګول شي نو ټوله لاسته راغلې 80 واحده افاده ترلاسه کوي که دا مصرفوونکی خپلې افغانۍ په بله طريقه ولګوي نو له 80 څخه ډيره نه شي ترلاسه کولای .

کولای شو چې په ګراف کې هم وښايو :

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې زر د غنمو نهايي افادې خط، ډذ د غوړيو نهايي افادې خط او ف ق د بورې د نهايي افادې خط راښيي. که درې افغانۍ په غنمو ،دوه په غوړيو او يوه افغانۍ په بورې مصرف کړي نو د پيسو د هر واحد نهايي افاده سره مساوي ده لکه څرنګه چې په ګراف کې معلوميږي . په دې ترتيب د پيسو کارول مصرفوونکو ته تر ټولو ډيره افاديت تر لاسه کوي که له دې پرته په هر لار وکاروي نو کم افاديت تر لاسه کوي که په بورې د يوې افغانۍ پر ځاى دوه افغانۍ ولګوي نو س ش او ښ ډيريږي په بورې د يوې افغانۍ د زياتولي په صورت کې د غنمو يوه افغانۍ کميږي په غنمو د يوې افغانۍ کم مصرف سره و

(c) ketabton.com: The Digital Library



ل ش م کمیږي . زیات شوی مقدار له کم شوی مقدار څخه لږ دی نو ځکه له پورتنې ترتیب څخه بل هر ترتیب کې مصرفوونکو زیان مومي.

دلته د پیسو د هر واحد نهایي افاده مساوي نه ده او په دې شکل کې هم ښکاري چې مصرفوونکو ته هغه وخت ډیر افادیت ترلاسه کیږي چې د هر واحد نهایي افاده سره مساوي وي .

د نهایي افادې د مساوات د قانون دویم نوم د استبدال دی ځکه مصرفوونکی خپلې پیسې په بیلا بیلو لارو لګوي تر څو له ټولو مساوي افاده تر لاسه کړي .همدرانګه د دې قانون دریم نوم ناپیلی دی ناپیلی ځکه ورته وایي چې مصرفوونکی په یو داسې ځای کې وي چې د ټولو توکو نهایي افاده مساوي وي نو ځکه توکی یو پر بل د برتري ورکولو څخه ډډه کوي .او د دې قانون څلورم نوم سکون دی دې قانون ته د سکون قانون ځکه وایي چې په دې قانون کې مصرفونکی پیسې په بیلا بیلو لارو لګوي تر څو ټوله افاده تر ټولو ډیره شي د ډیرې افادې په تر لاسه کولو سره مصرفوونکی ډیر سکون تر لاسه کوي .

د نهایي افادې د مساوات د قانون حدود : د قانون لپاره حدود په دې مانا کې په همدې حدودو کې قانون چلیږي چې د دې قانون لپاره په لاندې ډول دي :

- دود دستور او فیشن : بعضې مصرفونکي د توکو د نهایي افادې پر ځای دود دستور او فیشن په نظر کې نیسي .د ساري په توګه ښځې قیمتي لباس

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زيورات کاروي په دې توکو د پيسو له لګښت څخه مساوي افاده نه ترلاسه کيږي نو ځکه دا قانون دلته صدق نه کوي .

- معلومات : ځيني وخت مصرفوونکو ته د بازار په اړه معلومات نه وي نو ځکه د پيسو د مقدار د لګولو له کبله مساوي افاده نه شي ترلاسه کولی .
- بې پروايي : مصرفوونکي ځيني وخت د پيسو د لګښت په وخت کې بې پروايي کوي او د توکو افاديت په نظر کې نيسي او د پيسو واحدونه په لګښت رسوي نو ځکه مساوي افاديت نه ترلاسه کوي او دا قانون هم دلته نه پلي کيږي .
- د ويش وړ نه وي : ځيني داسې توکي وي که په وړ برخو وويشل شي نو کارول يې ستونزمن کيږي د ساري په توګه لکه موټر ،قالينه او نور په دې حالت کې هم مصرفوونکي نهايي افاديت نه شي تر لاسه کولای .

## د نهايي افادې د مساوات د قانون اهميت

- د شتمنۍ ويش : هر مصرفوونکی غواړي خپل وسايل داسې وکاروي چې ډير افاديت تر لاسه کړي نو دا قانون ورته لارښونه کوي چې په هغو توکو لګښت ونه کړي چې افاديت يې لږ وي بلکې په هغو توکو يې ولګوي چې ډير افاديت ولري او دتوکو افاديت سره مساوي تر څو ډيرسکون ترلاسه کړي .
- د شتمنۍ پيدا ينبت : متشبث له خپلو محدود وسايلو څخه د ډير ګټې د ترلاسه کولو تمه لري متشبث ډيره ګټه هغه وخت ترلاسه کوي چې د توليد وسايل ښه سره ګډ کړي د وسايلو ښه ګډ لپاره متشبث وسايل تبديل راتبديلوي تر څو يې ښه وکاروي له تبديلولو سره متشبث ته معلوميږي دکوم عامل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهايي افاديت کم وي د هغه پر ځای يو بل عامل چې ډير افاديت ولري کاروي نو له دې کبله متشبث ته دا قانون ور ښيي چې د توليد عوامل داسې وکاروي چې ډيره ګټه تر لاسه کړي .

- د شتمنۍ تبادله : د توکو تبادله او د ارزښت او قيمت په ټاکلو کې دا قانون ډير اهميت لري د توکو د تبادلې په وخت کې مصرفوونکی لږ افاديت لرونکي توکو په ډير افاديت لرونکي توکي تبادل کړي ډير سکون ترلاسه کوي .
- د شتمنۍ ويش : د ملي عايد ويش د پيدا ښت د هر عامل د نهايي افاديت پر اساس وي متشبث د هر عامل په مقابل کې ورکړه د هغه د نهايي افاديت مطابق کوي ځکه که د توليد د عامل بدله د هغه د نهايي افاديت څخه کم ورکړي نو د توليد لپاره د هغه ترلاسه کول ستونزمن کيږي .د نهايي افادې د مساوات قانون د ملي عايد ويش او د توليد د عواملو د بدلې په ټاکلو کې مرسته کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دريیم څپرکی

## تقاضا Demand

انسانان د خپلو غوښتنو په پوره کيدا پيسې ګرځي کله چې يو ښه شی ګورې د ترلاسه کولو په هڅه کې يې شي د انسان غوښتنې اړتياوې نه شي پوره کولای ځکه که اړتياوو غوښتنې پوره کولای شوای نو له مورږ سره د اوسيدو لپاره کور، د خوراک لپاره خواړه او د اغوستو لپاره کالي شتون لري خو موږ بيا هم غوښتنې لرو خو د غوښتنو د پوره کولو لپاره يوازې اړتيا بشپړه نه ده ګڼ شمير نور شيانو ته هم اړتيا ده دا خبره سمه ده تر څو چې په زړه کې د يو توکي د اخيستلو خواهش شتون ونه لري نو تقاضا نه رامنځته کيږي خو يوازې غوښتنه تقاضا نه ده غوښتنه هغه وخت په تقاضا بدليږي چې لاندې شرايط ولري:

1. د اخيستو ځواک: دانسان غوښتنه هغه وخت په تقاضا بدليږي چې د اخيستو ځواک يې ولري ياني د غوښتنې د پوره کيدا لپاره پيسې له ځانه سره ولري د ساري په ډول د يو ښه موټر غوښتنه هغه وخت تقاضا کيږي چې د اخيستو ځواک يې ولري که د اخيستو ځواک يې ونلري دا غوښتنه يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښته پاتې کیږي او تقاضا ترې نه جوړیږي نو په اقتصاد کې غوښتنه هغه وخت په تقاضا بدلیږي چې د یو توکي د اخیستو ځواک ولري .

2. د اخیستلو اراده : کله چې یو شخص د شي د ترلاسه کولو لپاره د غوښتنې په تقاضا د بدلیدو دویم شرط اراده ده چې دا شخص یې باید وکړي د ساري په ډول د یو شتمن سړي لپاره د یو لوکس موټر اخیستل اسانه کار دی او د اخیستلو ځواک یې هم لري خو که داسړی اراده ونه کړي نو د ده دا غوښتنه یوازې غوښتنه پاتې کیږي په تقاضا نه بدلیږي .

په اقتصاد کې تقاضا د یو شي د اخیستو غوښتنه ،د اخیستلو ځواک او د اخیستلو اراده چې درې واړه په وخت کې سره یو ځای شي تقاضا ترې جوړیږي او که یو ځای نه شي تقاضا نه بلل کیږي . پروفیسور بنهم تقاضا داسې تعریفوي : په ځانګړي وخت او ځانګړي قیمت د توکو هغه مقدار چې اخیستونکي یې د اخیستو قدرت ولري تقاضا بلل کیږي . کولای شو د تقاضا مفهوم په مساوات کې هم توضیح کړو : تقاضا= د اخیستلو ځواک+ د اخیستلو اراده .

په تقاضا او غوښتنې کې توپیر : د تقاضا د مفهوم د ښه پوهیدو لپاره اړینه ده تر څو په دې توپیر پوه شوو . په دې نړۍ کې هر شخص غواړي چې د خان په څیر ژوندتیر کړي د ژوند ښه وسایل ولري چې د دې ټولو ترلاسه کول یوه غوښتنه ده او دخلکو له دې غوښتنې څخه هغه وخت تقاضا جوړیږي چې د اخیستلو ځواک او اراده یې ولري کنه دا یوازې غوښتنه ده او بس .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په تقاضا او اړتیا کې توپیر

د تقاضا او اړتیا د توپیر د معلومولو لپاره یو مثال په نظر کې نیسو که یو شخص له خپل دفتر څخه څلور کیلومتره لرې اوسیږي ددې ستونزې د لرې کولو لپاره یو بایسکل ته اړتیا لري د ده دا اړتیا هغه وخت تقاضا کیږي کله چې د اخیستو ځواک او اراده ولري .

له قیمت سره د تقاضا اړیکه : تقاضا له قیمت سره مخامخ اړیکه لري که موږ ته د یو توکي د قیمت په اړه معلومات نه وي نو موږ د هغه توکي تقاضا نه شو معلومولی له قیمت پرته د تقاضا یادول بې مانا دي د ساري په ډول موږ نه شو کولای چې ووایو د غوړو تقاضا لس کیلو ګرامه ده لیکن داسې ویلي شو چې اته کیلو غوړو ته تقاضا ده چې د یو کیلو ګرام غوړیو قیمت پنځوس افغانۍ وي دا په دې مانا چې هر شخص د توکو قیمت ته ګوري بیا یې پیري کله چې د توکي په قیمت کې تغیر راشي په تقاضا کې هم تغیر راځي . کولای شو په لاندې جدول کې هم واضیح کړو :

| في کیلو ګرام قیمت ( افغانۍ ) | تقاضا (کیلو ګرام) |
|---|---|
| 50 پنځوس افغانۍ | 4 کیلو ګرام |
| 40 څلویښت افغانۍ | 8 کیلو ګرام |
| 30 دیرش افغانۍ | 12 کیلو ګرام |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| 20 شل افغانۍ | 16 کیلو ګرام |
| 10لس افغانۍ | 20 کیلو ګرام |
| 5پنځه افغانۍ | 25 کیلو ګرام |

تاسو په پورتني جدول کې ګورئ چې کله قیمت لوړیږي تقاضا هم کمیږي خو کله چې قیمت ټیټیږي تقاضا ډیریږي د ساري په ډول کله چې د منو قیمت پنځوس افغانۍ وي نو تقاضا ورته څلور کیلو ګرامه وي خو کله چې قیمت څلویښت افغانۍ کیږي تقاضا ورته اته کیلو ګرامه کیږي .کولای شو چې په ګراف کې یې هم توضیح کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې تاسو AOاو BOدوه مستقیم خطونه ګورئ چې د O په نقطه کې یو بل پرې کوي . په دې ګراف کې د OAخط د تقاضا مقدار ښيي او د OBخط د قیمت اندازه ښيي .کله چې د توکي قیمت 350افغانۍ وي نو تقاضا ورته 1وي خو کله چې 300 افغانیو ته راځي تقاضا ورته ډېرېږي او دوه کیږي همداسې تر اخره دا په دې مانا چې کله قیمت لوړېږي تقاضا کمیږي او کله چې قیمت ټیټیږي تقاضا ډیریږي .

د تقاضا قانون Law of Demand: د تقاضا قانون د مصرفوونکو هغه ارتجاعیت ښیي چې د یو توکي د قیمت په تغیر سره د هغو په تقاضا کې تغیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي  په ټولیز ډول داسې څرګندیږي کله چې  د یو توکي قیمت لوړ شي تقاضا یې کمیږي خو کله چې قیمت ټیټ شي تقاضا ډیریږي د قیمت او تقاضا دې اړیکې ته د تقاضا قانو ن وایي . پروفیسور مارشال د تقاضا قانون داسې تعریف کړی : که نور عوامل ثابت وي د یو توکي د قیمت په ټیټوالي سره تقاضا کې ډیربښت او د قیمت په جګوالي تقاضا کې کمښت راځي .

یو خبره د یادوني وړ ده چې د قیمت او  تقاضا تغیر کوم تناسب نه لري د ساري په توګه که د یو توکي قیمت دوه برابره شي مهمه نده چې تقاضا له پخوا څخه نیمه شي .کولای شو د تقاضا قانون په لاندې جدول کې هم توضیح کړو :


| في کیلو ګرام قیمت ( افغانۍ) | تقاضا (کیلو ګرام) |
|---|---|
| 30  دیرش افغانۍ | 5 کیلو ګرام |
| 25 پنځویشت افغانۍ | 10 کیلو ګرام |
| 20 شل  افغانۍ | 20 کیلو ګرام |
| 15پنځلس افغانۍ | 30 کیلو ګرام |
| 10لس افغانۍ | 40 کیلو ګرام |
| 5  پنځه افغانۍ | 50 کیلو ګرام |

په پورتني جدول کې ګورې کله چې د بورې قیمت  دیرش افغانۍ وي نو تقاضا ورته 5 کیلو ګرامه وي خو کله چې  قیمت لس افغانۍ کیږي نو تقاضا هم ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرېږي او 40 کيلو ګرامو ته رسيږي .د دې خبرې مطلب دا چې کله د بورې په قيمت کې جګوالى راځي تقاضا يې کميږي او کله چې د بورې په قيمت کې ټيټ والى راځي تقاضا يې لوړيږي .




د تقاضا قانون د معلومولو لپاره مو دوه مستقيم خطونه FCاو FM ويستلي چې د Fپه نقطه کې يو بل قطعه کوي چې FCد تقاضا مقدار او FMد قيمت اندازه رانښيي تاسو ګورو کله چې قيمت په P1 کې وي نو د تقاضا مقدار په Q1 کې خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې قیمت P2 ته راټیټیږي د تقاضا مقدار تغیر خوري Q2 ته لوړیږي . له ګراف څخه معلومیږي کله چې قیمت لوړ وي تقاضا کمه او کله چې قیمت ټیټ شي تقاضا ډیریږي چې همدې ته د تقاضا قانون وایي.

د تقاضا د قانون فرضیات : کله چې موږ د تقاضا د قانون په اړه خبرې کوو نو موږ په لومړي سر کې دا روښانه کړه چې د تقاضا قانون هغه وخت سم ثابتیږي کله چې نور عوامل ثابت وټاکل شي چې همدې عواملو ته د تقاضا د قانون فرضیات وایي او په لاندې توګه ترې یادونه کوو :

- د مصرفوونکو عواید : موږ د تقاضا د قانون په وخت د مصرفوونکو عواید ثابت په نظر کې نیسو ځکه که د مصرونکو په عوایدو کې ډیربښت راشي که قیمت پورته هم لاړ شي کیدای شي چې خلک په هماغه اندازه تقاضا ولري او که د مصرفوونکو په عوایدو کې کمښت راشي د قیمت په ټیټوالي سره سره بیا هم په تقاضا کې ډیربښت رانه شي .
- عادات او فیشن :د تقاضا قانون هغه وخت سم ثابتیږي چې د مصرفوونکو په عادت او فیشن کې تغیر رانشي که چیرته د مصرونکو په عادت او فیشن کې تغیر راشي د قیمت په جګوالي سره سره بیا هم خلک ورته ډیره تقاضا لري او پیري ېې.
- د متبادلو توکو قیمت : کله چې د یو توکي متبادل توکي وجود ولري کله چې د متبادلو توکو په قیمت کې تغیر راځي ورسره د دې توکي په قیمت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم تغير راځي نو د تقاضا د قانون د سم والي لپاره د متبادلو توکو قيمت ثابت نيول کيږي .

- د توکو بڼه : د تقاضا د قانو ن د سم ثابتوالو لپاره دا هم اړينه ده چې د توکو بڼه تغير ونه کړي ځکه که چيرته توکي د پخواني توکي سره په وزن ، خوند او شکل کې تغير ولري او کم افاديت ولري د قيمت په جګوالي سره سره بيا هم تقاضا نه ډيريږي اوکه د خوند ،وزن او شکل په سبب له پخواني توکي ښه وي د قيمت په جګوالي بيا هم تقاضا لري نو له دې کبله د تقاضا قانون سم نه ثابتيږي .

- د مصرفوونکو شمير : د تقاضا د قانون د سم والي لپاره اړينه ده چې د مصرفوونکو په شمير کې تغير رانه شي ځکه کله چې د يوتوکو د مصرفوونکو په شمير کې ډيرښت راشي نو د قيمت په لوړوالي سره سره بيا هم په تقاضا کې توپير نه راځي.

- د راتلونکي فکر : که چيرته دخلکو په ذهن کې د يو توکي د کمښت ويره شتون ولري د توکي د قيمت په جګوالي سره سره يې بيا خلک ډير اخلي ددې لپاره چې د تقاضا قانون سم ثابت شي د راتلونکي حالت سم په نظر کې نيول کيږی .

- د تقاضا په بڼه کې تغير : کله چې د خلکو د تقاضا په بڼه کې تغير راشی بيا هم د تقاضا قانون سم نه ثابتيږي د ساري په ډول يو سړی دی کله چې منې کيلو پنځلس افغانۍ شي يو کيلو هم نه اخلي خو ناڅاپه سړي ناروغه کيږي ډاکتر ورته وايي چې له منو پرته نور څه مه خوره نو سړی مجبور دی که منې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره قیمته شي بیا هم منې اخلي چې دلته د تقاضا په بڼه کې تغیر راځي چې دا حالت هم د تقاضا په قانون کې نه شته د خلکو د تقاضا بڼه باید تغیر ونه خوري .

- د توکو اعلانول : د تقاضا په قانون کې داسې هم ویل کیږي چې توکي د اعلان په وسیله په زړه راښکونکي او ښه انداز مه وړاندې کوئ ځکه چې په تقاضا کې یې ډیربښت رانه شي .
- نوي کارول : که د یو توکي نوي کارول رامنځته شي د قیمت په جګوالي سره سره بیا هم تقاضا ډیریږي د ساري په ډول کله چې د بریښنا کارول رامنځته شول د قیمت په جګوالي سره سره بیا هم خلک ډیر کاروي او تقاضا ورته شتون لري چې دلته هم د تقاضا قانون سم نه ثابتیږي .

د تقاضا د قانون استثنات: د تقاضا د قانو ن پر اساس کله چې د یو توکي قیمت لوړ شي تقاضا یې کمیږي خو کله چې قیمت ټیټ شي تقاضا ورته ډیریږي خو ځیني داسې حالتونه دي چې هلته د تقاضا قانون نه عملي کیږي .

1. ارزانه توکي : په ډیر کم قیمت لرونکو توکو دا قانون نه عملي کیږي ځکه یوه غریبه کورنۍ د غنمو پر ځای جوار کاروي خو کله چې جوار ډیر ارزانه شي دا کورنۍ د جوارو تر څنګه د غنمو کارول هم پیل وي نو ځکه د جوارو د قیمت له ټیټوالي سره سره بیا هم ورته تقاضا نه ډیریږي .
2. لوړ قیمت لرونکي توکي : لوړ قیمت لرونکي توکي چې شان او شوکت لپاره کارول کیږي دا قانون پرې نه کارول کیږي لکه سره زر ،سپین زر او نور ځکه د سرو قیمت راټیت شي بیا یې هم غریب خلک نه پیري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



3. په راتلونکي قيمت : كه په راتلونكي كې د يو توكي د قيمت د لوړيدو امكان وي بيا هم د تقاضا قانون سم نه ثابتيږي ځكه د يو توكي قيمت لوړ شي د تقاضا د قانون پراساس تقاضا يې بايد كمه شي مګر خلک په دې ويره كې وي چې نور هم لوړيږي بيا يې هم تقاضا کې ډيربنت راځي .

4. د توكي كمښت : كه مصروفوونكي د يو توكي په اړه دا خطر احساس كړي چې كيداى شي توكي كم شي نو د قيمت په ډير والي سره بيا هم خلک پيري دلته د تقاضا قانون سم نه ثابتيږي .

د تقاضا راټوليدل او پراخيدل **Extension and contraction of demand**:


كله چې په تقاضا كې تغير د قيمت د تغير په سبب رامنځته شي دې ته د تقاضا راټوليدل او پراخيدل وايي . كه قيمت ټيټ شي تقاضا ډيره شي دې د تقاضا پراختيا وايي او كه قيمت لوړ شي تقاضا كمه دې د تقاضا راټوليدل وايي . چې كولاى شو په لاندې جدول كې يې هم وښايو :

| د تقاضا پراختيا | | د تقاضا راټوليدل | |
|---|---|---|---|
| فـي كيلـو ګـرام قيمت | تقاضا | فـي كيلـو ګـرام قيمت | تقاضا |
| 4 افغانۍ | 2 كيلو ګرام | 1 افغانۍ | 8 كيلو ګرام |
| 3 افغانۍ | 4 كيلوګرام | 2 افغانۍ | 6 كيلو ګرام |
| 2 افغانۍ | 6 كيلو ګرام | 3 افغانۍ | 4 كيلو ګرام |
| 1 افغانۍ | 8 كيلو ګرام | 4 افغانۍ | 2 كيلو ګرام |

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتني لومړي جدول کې تاسو ګورئ کله چې د توکي قیمت ټیټیږي تقاضا ورته ډیریږي دا په دې مانا چې توکي تقاضا پراختیا مومي او دې ته د تقاضا پراختیا وايي په دویم جدول کې کله چې د توکي قیمت لوړیږي تقاضا یې کمیږي چې همدې ته د تقاضا راټولیدل وايي .کولای شو په لاندې ګراف کې هم وښیو :




په پورتني ګراف کې تاسو دوه مستقیم خطونه OWاو OX چې د Oپه نقطه کې سره قطعه کوي OWمستقیم خط د تقاضا مقدار او د OX مستقیم خط قیمت اندازه ښیي ، همدارنګه تاسو په ګراف کې ګوري کله چې قیمت په P1 کې وي د تقاضا مقدار په Q1 کې وي . کله چې قیمت P3 شي تقاضا ورسره راټولیږي له

(c) ketabton.com: The Digital Library



Q1څخه Q3 ته رالوېږي .خو کله چې قيمت له P1څخه P2 ته راولېږي تقاضا ورسره پراختيا مومي له Q1 څخه Q2 ته مخه کې تقاضا ورسره پراختيا مومي .

د تقاضا لوړېدل او ټيټېدل Rise and Fall of Demand: کله چې په قيمت کې تغير نه وي راغلی خو په تقاضا کې تغير راشي او يا قيمت کې تغير راشي خو تقاضا کې تغير رانه شي دې د تقاضا لوړېدل او ټيټېدل وايي .

د تقاضا لوړېدل : کله چې د يو توکي قيمت تغير نه وي کړی خو د ځينې عواملو لکه د فيشن ،د عوايدو ډيرښت په وجه په تقاضا کې ډيرښت راغلي وي او يا د يو توکي قيمت لوړ شوي وي خو تقاضا کې تغير نه وي راغلی دې ته د تقاضا لوړېدل وايي .

1. قيمت هماغه وي تقاضا کې ډيرښت راغلی وي
2. قيمت لوړ شوی وي خو تقاضا پخوانۍ وي .

کولای شوو په لاندې جدول کې موضوع ښه روښانه کړو په لومړي جدول کې موږ قيمت تغير نه وي کړي تقاضا ډير شوي وي روښانوو:

لومړی جدول

| في کيلو ګرام قيمت | تقاضا |
|---|---|
| 30 افغانۍ | 5 کيلو ګرام |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | |
|---|---|
| 30 افغانۍ | 10 کیلو ګرام |
| 30 افغانۍ | 15 کیلو ګرام |

په پورتني جدول کې ګورئ چې د یو کیلو منهو قیمت 30 افغانۍ وي د ځینو عواملو له کبله په تقاضا کې تغیر راغلو تقاضا له پنځو کیلو ګرامو څخه لسو کیلوګرامو او له لسو څخه پنځلسو ته پورته شوې همدارنګه کولای شو په لاندې ګراف کې هم وښیو :

(c) ketabton.com: The Digital Library






په ګراف کې تاسو ګورئ چې کله چې قيمت ديرش افغانۍ وي تقاضا خط په **D1** کوي خو د ځينو عواملو له کبله په همدې قيمت د تقاضا خط له **D1** ځخه **D2** ته لوړيږي چې همدې ته د تقاضا لوړيدل وايي.


دويم جدول

(c) ketabton.com: The Digital Library



| في کیلو ګراف قیمت | تقاضا |
|---|---|
| 30 افغانۍ | 10 کیلو ګرام |
| 40 افغانۍ | 10 کیلو ګرام |
| 50 افغانۍ | 10 کیلو ګرام |

په پورتني جدول کې ګورئ کله قیمت دیرش افغانۍ وي د تقاضا مقدار لس کیلو ګرامه وي خو کله چې قیمت له دریشو افغانیو څخه څلوېښتو افغانیو ته لوړ شي بیا هم په تقاضا کې تغیر نه راځي تقاضا په پخوانۍ بڼه شتون لري تقاضا هماغه لس کیلو ګرامه وي چې کولای شو په لاندې ګراف کې هم وښایو :



(c) ketabton.com: The Digital Library




تاسو په پورتني ګراف کې وينئ کله چې د توکو قيمت ډيرش افغانۍ وي د تقاضا مقدار لس ټنه وي او د تقاضا ګراف په AD1 کې وي خو کله چې د توکو قيمت له ډيرشو افغانيو څخه څلويښت افغانيو ته لوړ شي په تقاضا کې بيا هم تغير نه راځي تقاضا په خپل حال پاتې کيږي او د تقاضا خط له AD1 څخه AD2 ته ليږدول کيږي.

د تقاضا تيتيدل: کله چې قيمت پخوانۍ وي او تقاضا کمه شي او يا کله چې قيمت کم شي خو تقاضا کمه نه شي دې ته د تقاضا تيتيدل وايي چې کولای شو په لاندې جدول او ګراف کې يې روښانه کړو:

| في کيلو ګرام قيمت | تقاضا |
|---|---|
| 30 افغانۍ | 15 کيلو ګرام |
| 30 افغانۍ | 10 کيلو ګرام |
| 30 افغانۍ | 5 کيلو ګرام |

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني جدول او شکل کې تاسو ګورئ چې قيمت پخوانۍ دی خو د ځينو عواملو په وسيله په تقاضا کې تغير راغلی له پنځو څخه لسو او له لسو څخه پنځلسو ته لوړيږي . چې د تقاضا خط له D څخه D1 ته او D2 ورسره تغير خوري .


خو په دويمه برخه کې تقاضا ثابته ده او په قيمت کې کمښت راغلی .کولای شو په لاندې جدول او ګراف کې دا هم روښانه کړو :

| | |
|---|---|
| في کيلو ګراف قيمت | تقاضا |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| 30 افغانۍ | 10 کیلو ګرام |
| 20 افغانۍ | 10 کیلو ګرام |
| 10 افغانۍ | 10 کیلو ګرام |




په پورتني ګراف او جدول کې تاسو ګورئ چې تقاضا تغیر نه خوري خو قیمت تغیر خوري خو تقاضا د بیلا بیلو عواملو له کبله تغیر خوري کله چې قیمت شل افغانۍ وي تقاضا لس کیلو ګرامه او د تقاضا خط په D کې وي خو کله چې قیمت له شلو افغانیو څخه دریرشو افغانیو ته لوړیږي تقاضا تغیر نه خوري خو د تقاضا خط له D څخه D1 ته لیږدول کیږي .

په تقاضا کې د تغیر سببونه : په تقاضا کې دوه ډوله تغیر رامنځته کیږي چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په تقاضا کې پراختیا او راټولیدل
- د تقاضا لوړوالی او ټیټوالی

په تقاضا کې پراختیا او راټولیدل لاندې سببونه لري :

♣ د نوو اخیستونکو تقاضا : کله چې د یو توکي قیمت ټیټ شي هغه خلک یې هم اخلي چې پخوا یې نه اخیستلو نو له دې کبله په تقاضا کې پراختیا رامنځته کیږي .

♣ د عاید اغیزه : کله چې د یو توکي قیمت ټیت شي خلک یې د پخوا په اندازه ډیر اخلي او داسې فکر کوي چې عواید یې ډیر شوي چې په تقاضا کې پراختیا رامنځته کیږي خو کله چې د توکي قیمت لوړ شي خلک کم اخلي تقاضا راټولیږي او خلک فکر کوي چې عواید یې کم شوی دي .

♣ د متبادلو توکو اغیزه : کله چې د یو توکي د متبادل توکي قیمت کم شي خلک داسې فکر کوي چې دا توکو له نورو توکو ارزانه دی خلک یې ډیر پیري په تقاضا کې ډیربښت راځي د دې برعکس کله چې د متبادلو توکو قیمت لوړ شي خلک دا توکی هم په کم مقدار اخلي او تقاضا یې راټولیږي .

د تقاضا لوړ والی او ټیټ والی لاندې سببونه لري :

♣ په عوایدو کې تغیر : کله چې د مصرفوونکو په عوایدو کې تغیر راشي په تقاضا کې هم تغیر راځی دا په دې مانا کله چې د خلکو عواید د پخوا په پرتله ډیرشي نو د خلکو د اخیستو قوت ډیریږي ،مصرفوونکي په پخوانیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیمتونو ډیر توکي پیري چې تقاضا ورسره لوړیږي د دې برعکس کله چې د خلکو عواید کم شي د خلکو د اخیستو قوت کمیږي ورسره تقاضا هم ټیټیږي .

♣ د شتمنۍ په ویش کې تغیر : کله چې په یو هیواد کې د شتمنۍ په ویش کې مساوات شتون ولري نو د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو توکو ، په تقاضا کې لوړوالی راځي او که د شتمنۍ ویش مساوي نه وي نو بیا شتمنۍ یوازېپه اسانتیاوو لګول کیږي په ټولیزه توکه تقاضا راټیټیږي .

♣ په نفوسو کې تغیر : هر کله چې د یو هیواد په نفوس کې ډیرښت راشي تقاضا لوړیږي خو کله چې کمښت راشي تقاضا ټیټیږي .

♣ فیشن کې تغیر : کله چې فیشن کې تغیر راشي د ځینو توکو تقاضا لوړیږي او د ځینو توکو تقاضا کمیږي د ساري په توګه د کوم توکي فیشن چې اوس وي تقاضا یې ډیره او د کوم توکي فیشن چې اوس نه وي تقاضا یې ټیټیږي .

♣ د متبادلو توکو قیمت کې تغیر : کله چې د متبادلو توکو قیمت ټیټ شي نو دمتبادل توکي تقاضا ډیریږي خو کله چې متبادل توکي قیمت لوړ شي خلک متبادل توکي نه کاروي او په تقاضا کې ټیټوالی راځي .

♣ اقتصادي حالت : کله چې په یو هیواد کې کاروبار ښه پرمخ روان وي د خلکو عواید ډیریږي د عوایدو په ډیریدا سره تقاضا لوړیږي خو که په هیواد کې کاروبار ښه پرمخ نه وي روان نو د خلکو عواید کمیږي ورسره تقاضا هم ټیټیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د موسم تغير : هر كله چې په موسم كې تغير راشي ورسره په تقاضا كې هم تغير راځي. د ساري په ډول د ګرمي په موسم كې يخ ته اړتيا هم داسې د يخنی په موسم كې ګرمو جامو ته تقاضا ډير وي .
- ګډه تقاضا : د ځينو توكو د تقاضا په ډير والی سره د يو شمير نورو توكو تقاضا هم ډيريږي د ساري په ډول د چای ته تقاضا ډيره شي ورسره بورې ته هم تقاضا ډيريږي .
- په سپما كې تغير : كه مصرفوونكي د عايد ډيره برخه سپموي نو تقاضا كميږي خو كه ډير برخه په لګښت رسوي تقاضا ډيريږي .

د تقاضا ارتجاعيت Demand Elasticity: د تقاضا د ارتجاعيت څخه موخه دا ده چې كله په قيمت كې تغير راشي په تقاضا كې هم تغير رامنځته كيږي .په اقتصاد كې د لومړي ځل لپاره د تقاضا د ارتجاعيت په اړه ډاكتر الفرد مارشال نظر وركړی دی : كه نور عوامل ثابت ونيول شي كه د يو توكي په قيمت كې كمښت راشي تقاضا ډيريږي او كه ډيربښت راشي تقاضا يې كميږي . كله چې د قيمت په وجه په تقاضا كې توپير رامنځته شي دې ته تقاضا ارتجاعيت وايي . كه په تقاضا كې د ارتجاعيت ځانګړتيا شتون ونه لري كله چې قيمت تغير خوري تقاضا تغير نه خوري . ارتجاعيت موږ ته وايي چې د يو توكي د قيمت په كمښت سره څومره تقاضا كې ډير والی راځي او دكوم توكي د قيمت په ډيربښت سره په تقاضا كې څومره كمښت راځي .

د تقاضا د ارتجاعيت ډولونه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ډېره ارتجاعيت لرونکې تقاضا
- کمه ارتجاعيت لرونکې تقاضا
- برابره ارتجاعيت لرونکې تقاضا

- ډېره ارتجاعيت لرونکې تقاضا **More Elastic Demand**: کله چې په قيمت کې لږ تغيرات راشي او تقاضا ډېره تغير وخوري دې ډول ارتجاعيت ډېره ارتجاعيت لرونکې تقاضا وايي .د مثال په توګه کله چې د يو کيلو منو بيه پنځوس افغانۍ وي نو تقاضا پنځه کيلو ګرامه وي خو کله چې د منو بيه څلويښت افغانۍ کيږي تقاضا پنځلس کيلو ته پورته کيږي . کولای شو په لاندې جدول کې موضوع ښه روښانه کړو :


| في کيلو ګرام قيمت | تقاضا |
|---|---|
| 50 افغانۍ | 5 کيلو ګرام |
| 40 افغانۍ | 15 کيلو ګرام |
| 35 افغانۍ | 20 کيلو ګرام |

په پورتني جدول کې ګورې کله چې په قيمت کې ډېر لږ تغير رامنځته شي تقاضا ورسره په ډېره پيمانه تغير خوري کله چې د خوړيو قيمت پنځو افغاني وي نو تقاضا ورته پنځه کيلو ګرامه وي خو کله چې قيمت له پنځو افغانيو څخه څلويښت افغانيو ته راټيټ شي تقاضا ډېره لوړيږي له پنځو کيلو ګرامو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځلس کیلو ته پورته کیږي چې ډېره ارتجاعیت لرونکي تقاضا ده .کولای شو په لاندې ګراف کې هم روښانه کړو :




موږ او تاسو په پورتني ګراف کې وینو چې د قیمت په لږ تغیر سره په تقاضا کې ډېر تغیر راځي کله چې قیمت 50افغانۍ وي نو تقاضا 5 کیلو خو کله چې قیمت 40افغانۍ کیږي تقاضا 15 کیلو ته پورته کیږي .چې دې ډول ارتجاعیت ته ډېره ارتجاعیت لرونکی ارتجاعیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




♣ کمه ارتجاعیت لرونکې تقاضا **Less Elastic Demand** : کله چې په قیمت کې ډیر تغیر راشي خو په تقاضا کې ډیر لږ تغیر راشي دې ډول تقاضا ته کمه ارتجاعیت لرونکې تقاضا وایي د ساري په ډول که د مالګې یو پاکټ په یوه افغانۍ وي او تقاضا ورته لس پاکټه وي خو کله چې د مالګې پاکټ دوه افغانۍ شي تقاضا نهه پاکټه شي نو معلومه شوه چې د مالګې قیمت دوه برابره شو خو تقاضا کې ډیر لږ تغیر راغلو کولای په لاندې جدول کې هم روښانه کړو :

| في کیلو ګرام قیمت | تقاضا |
|---|---|
| 1 افغانۍ | 10 کیلو ګرام |
| 2 افغانۍ | 9.50 کیلو ګرام |
| 3 افغانۍ | 9 کیلو ګرام |

په پورتني جدول کې تاسو ګورئ چې کله قیمت یو افغانۍ وي تقاضا لس کیلو ګرامه خو کله چې قیمت دوه چنده شي یا دوه افغانۍ شي تقاضا ورسره ډیر لږ تغیر کوي9.5 ته راښکته کیږي چې دې ډول ارتجاعیت ته لږه ارتجاعیت لرونکې تقاضا ورته وایي کولای شو لاندې ګراف کې هم وښایو

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې تاسو ګورئ چې قیمت یو افغانۍ وي تقاضا لسو کیلو ګرامه خو کله چې قیمت دوه افغانۍ شي تقاضا9.5کیلو ګرامه کېږي یاني د قیمت په ډیر تغیر سره په تقاضا کې لږ تغیر راځي.

♣ برابره ارتجاعیت لرونکې تقاضا : کله چې د یو توکي په تقاضا پـه هغه نسبت تغیر وکړي په کوم نسبت چې قیمت تغیر خوړلی وي نو دې ډول تقاضا ته برابر ارتجاعیت لرونکې تقاضا وایي د ساري پـه ډول کـه قیمت نیم شي تقاضا دوه برابره شي کولای شو لاندې جدول کې وګورو:


| في کیلو ګرام قیمت | تقاضا |
|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| 6 افغانۍ | 15 کیلو ګرام |
| 3 افغانۍ | 30 کیلو ګرام |
| 1 افغانۍ | 90 کیلو ګرام |

په پورتني جدول کې موږ او تاسو وينو چې کله قيمت شپږ افغانۍ وي تقاضا 15 کيلو ګرامه خو کله چې قيمت نيم يا درې افغانۍ شي تقاضا 30 کيلو ګرامو ته لوړيږي همداسې که قيمت يوه افغانۍ شي تقاضا 90کيلو ګرامه کيږي چې دې ډول ارتجاعيت ته برابر ارتجاعيت لرونکې وايي . لاندې ګراف ته ځير شي :




موږ تاسو ګراف ته ځير شو ګورو چې کله قيمت شپږ افغانۍ وي نو تقاضا 15کيلو ګرامه خو کله قيمت درې افغانۍ کيږي تقاضا 30 کيلو ګرامه کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاني قیمت چې هر څومره تغیر خوري تقاضا هم ورسره په هماغه نسبت تغیر خوري .

د تقاضا د ارتجاعیت اندازه ګیري

Measurement of Elasticity of Demand

موږ د تقاضا د ارتجاعیت د معلومولو لپاره له لاندې دریو طریقو څخه کار اخلو :

- د ټولو لګښتونو طریقه : دا طریقه د اقتصاد نومیالي عالم ډاکتر الفرد مارشال وړاندې کړې د دې طریقې په اساس د یو توکي د تقاضا ارتجاعیت لاندې درې حالتونه اختیاروي :

  - د یو برابر ارتجاعیت
  - له یو څخه کم ارتجاعیت
  - له یو څخه ډیر ارتجاعیت

د یو برابر ارتجاعیت : کله چې د یو توکي په تقاضا کې د قیمت د تغیر په نسبت تغیر راشي دې ډول ارتجاعیت ته د یو سره برابر ارتجاعیت وایي او کوم لګښت چې په توکي راځي هر وار برابر وي کولای شو په لاندې جدول کې وګورو :

| في کیلو ګرام قیمت | تقاضا | ټول لګښت |
|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| 1 افغانۍ | 12 کیلو ګرام | 12×1=12 افغانۍ |
| 2 افغانۍ | 6 کیلو ګرام | 6×2=12 افغانۍ |
| 3 افغانۍ | 4 کیلو ګرام | 3×4=12 افغانۍ |
| 4 افغانۍ | 3 کیلو ګرام | 4×3 = 12 افغانۍ |

➢ له یو څخه کم ارتجاعیت : کله چې د یو توکي په تقاضا کې د قیمت د تغیر په نسبت کم وي او د قیمت په لوړوالي سره چې کوم لګښت په توکي کیږي کمښت په کې راشي او د قیمت په جګوالي سره په ټولو پیسو کې ډیرښت راشي او د تقاضا ارتجاعیت له یو څخه کم شي . لکه په جدول کې :

| في کیلو ګرام قیمت | تقاضا | ټول لګښت |
|---|---|---|
| 1 افغانۍ | 40 کیلو ګرام | 40×1= 40 افغانۍ |
| 2 افغانۍ | 35 کیلو ګرام | 35×2 = 70 افغانۍ |
| 3 افغانۍ | 30 کیلو ګرام | 30×3 = 90 افغانۍ |
| 4 افغانۍ | 25 کیلو ګرام | 25× 4 = 100 افغانۍ |

له یو څخه ډیر ارتجاعیت : کله چې د یو توکي تقاضا د قیمت د تغیر له نسبت څخه لوړ تغیر وکړي او د قیمت په جګوالي سره ټول لګښت چې پرې راځي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کمښت راشي نو دې ډول ارتجاعیت ته د لـه یـو څخـه ډیـر ارتجاعیت وایـي.
لاندې جدول ته ځیر شي :

| في کیلو ګرام قیمت | تقاضا | ټول لګښت |
|---|---|---|
| 1 افغانۍ | 30 کیلو ګرام | 1×30= 30 افغانۍ |
| 2 افغانۍ | 12 کیلو ګرام | 2×12= 24 افغانۍ |
| 3 افغانۍ | 6 کیلو ګرام | 3×6= 18 افغانۍ |

د سلنې طریقـه : د ارتجاعیـت د انـدازه کولـو دا طریقـه د سـلنې پـه اسـاس چې څومره تغیر په قیمت کې راغلی وي او څو سلنه تغیر په تقاضا کې له دې میتود څخه کار اخیستل کیږي ددې طریقې په اساس د یو توکي تقاضا لاندې حالتونـه اختیاروي :

➢ د یو سره برابر ارتجاعیت : کله چې د قیمت د تغیر سلنه د تقاضا د تغیر له سلنې سره برابر وي دې ډول ارتجاعیت ته د یو سره برابر ارتجاعیت ویل کیږي لاندې جدول کې کتلی شو :

| په قیمت کې د سلنې تغیر | په تقاضا کې د سلنې تغیر |
|---|---|
| ٪10 | ٪10 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



- له يو څخه کم ارتجاعيت : کله چې د تقاضا د تغير سلنه د قيمت د تغير له سلنې کمه وي دې ډول ارتجاعيت له يو څخه کم ارتجاعيت ويل کيږي :

| په قيمت کې د سلنې تغير | په تقاضا کې د سلنې تغير |
|---|---|
| ٪10 | ٪7 |

- له يو څخه ډېر ارتجاعيت : کله چې د قيمت د تغير له سلنې د تقاضا د تغير سلنه لوړه وي دې ډول ارتجاعيت ته له يو څخه ډېر ارتجاعيت ويل کيږي :

| په قيمت کې د سلنې تغير | په تقاضا کې د سلنې تغير |
|---|---|
| ٪10 | ٪15 |

دريمه طريقه حسابي فورمول : په اصل کې دا طريقه له پخوانيو طريقو سره توپير لري چې موږ دلته د تقاضا ارتجاعيت د لاندې حسابي فور مول په وسيله تر سره کوو :

د تقاضا ارتجاعيت = په تقاضا کې تغير / تقاضا +قيمت کې تغير /قيمت او يا تقاضا کې تغير / تقاضا × قيمت / په قيمت کې تغير .

د پورتني فورمول د وضاحت لپاره لاندې مثال ته ځير شئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



| تقاضا | قيمت | شمير |
|---|---|---|
| 40 کيلو ګرام | 50 افغانۍ | لومړی قيمت |
| 60 کيلو ګرام | 25 افغانۍ | دويم قيمت |
| 80 کيلو ګرام | 20 افغانۍ | دريم قيمت |
| 100 کيلو ګرام | 10 افغانۍ | څلورم قيمت |

لومړي حالت کې : $1 = 40 \times 25 / 20 \times 50$

دو يم حالت : $1.67 = 60 \times 5 / 20 \times 25$

دريم حالت : $0.50 = 80 \times 10 / 20 \times 20$

که پورتنيو جوابو ته وګورو نو ښکاري چې جواب يو دی کله چې د ارتجاعيت له يو سره برابر وي دې ته د يو سره برابر حالت وايي . که له يوه لوی وي بيا ورته له يو څخه لوړ ارتجاعيت ويل کيږي په دريم حالت کې که يوه څخه کوچني وي نو بيا ورته له يو څخه کم ارتجاعيت ويل کيږي.

د تقاضا ارتجاعيت په لاندې عناصرو پورې تړاو لري :

- د توکي بڼه : کوم توکي چې زموږ په اړتياوو پورې تړاو لري د تقاضا ارتجاعيت يې کم وي او هغه توکي چې په اسانتياوو ا و تجمل پورې اړه لري ډير ارتجاعيت لري ددې سبب دا دی که د ژوند د اړتياوې هر څومره قيمت لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي بيا يې هم موږ پيرو په قيمت کې تغير ډيره اغيزه پرې نه لري نو ځکه يې ارتجاعيت کم دی د ساري په ډول لکه مالګه ،غنم او نور او هغه شيان چې د ژوند په اسانتياوې پسې ترلي د قيمت په لږ تغير سره ارتجاعيت پيدا کوي لکه ټيلفون، تلويويزن او نور .

- متبادل توکي شتون : د هغو توکو چې متبادل شتون ولري هغه هم ډير ارتجاعيت لري ځکه که چيرته قيمت لږ تغير وکړي خلک متبادل شي کاروي او ددې توکي ارتجاعيت ډيرېږي د ساري په ډول که د رکشو کرايه جګه شي نو خلک له بسونو کار اخلي .
- بيلابيل کارول : هغه توکي چې د بيلابيلو موخو لپاره کارول کيږي د هغوی تقاضا ډير ارتجاعيت لري ځکه کله چې قيمت ټيټ شي خلک يې ډير کاروي لکه د بريښنا کارول د دې برعکس هغه توکي چې ديوې موخې لپاره کارول کيږي تقاضا يې کم ارتجاعيت لري.
- د قيمتونو سطحه : د تقاضا ارتجاعيت په قيمتونو پسې هم ترلی دی د هغو توکو قيمت چې ډير کم اويا ډير لوړ وي کم ارتجاعيت لري ځکه قيمتي توکي يوازې شتمن خلک پيري چې په هغوی د قيمت لوړيدل کوم تاثير نه لري د ساري په توکه که د موټر قيمت شلور سوه زره افغانۍ وي او لس زره کم شي بيا هم کوم تاثير نه لري همداسې هغه توکي چې ډير کم قيمت لري که د هغو په قيمت کې تغير راشي تقاضا ډير ارتجاعيت نه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- فیشن او عادات : د هغو توکو چې فیشن وي د هغو ارتجاعیت هم کوي ځکه په هر قیمت هغه توکي تر لاسه کوي . همداسې عادات که شراب هر څومره قیمته یا ارزانه شي شرابي شخص یې ترلاسه کوي.
- د عواید سطحه : د کوم خلکو چې عواید ډیر وي د هغو د تقاضا ارتجاعیت کم وي ځکه چیرته د توکو قیمت لوړ شي په دوی اغیزه نه لري د دې برعکس د هغو خلکو چې عواید کم وي تقاضا یې ډیر ارتجاعیت لري ځکه د قیمت په ډیربنت سره په تقاضا کې کمښت راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# عرضه Supply

عرضه د توکو هغه مقدار چې په یو ځانګړي قیمت او ځانګړي وخت بازار ته وړاندې کیږي عرضه بلل کیږي د ساري په توګه که د یو ټن غنمو قیمت شل زره افغانۍ وي که شل ټنه غنم بازار ته وړاندې شي ما دا چې د غنمو عرضه شل ټنه ده .د عرضې اړیکه له قیمت سره : د تقاضا په څیر عرضه هم له قیمت سره اړیکه لري تر هغه چې د قیمت ذکر نه وي شوی تر هغې وخته د عرضې مقدار نه معلومیږي.د مثال په توګه که وویل شي د غنمو عرضه شل ټنه ده دا خبره بې مانا ده ځکه د قیمت په تغیر سره په عرضه کې تغیر راځي ځکه عرضه تل له قیمت سره اړیکه لري بې له قیمته عرضه هیڅ مانا نه لري .

عرضه او زیرمه supply and stock : له زیرمې څخه موخه د توکو هغه مقدار دی چې پیدا شوي او په مناسب وخت کې بازار ته د خرڅلاو لپاره وړاندې کیږي. عرضه د زیرمې هغه مقدار دی چې په حقیقي ډول په ځانګړي قیمت بازارته وړاندې کیږي که قیمت لوړ شي نو پلورنکی په ډیره پیمانه بازار ته توکي وړاندې کوي او خپلې زیرمې کموي او که قیمت ټیټ شي نو پلورنکی زیرمه ډیروي او عرضه کموي . د ساري په توګه که یو کروندګر شل ټنو غنمو زیرمه لري که په بازار کې د غنمو قیمت لوړ شي نو کروندګر بازار ته ډیر غنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کوي او که قیمت یې ټیټ شي کروند ګر بازارته په کمه پیمانه غنم عرضه کوي .عرضه لاندې درې ډولونه لري :

1. بازاري عرضه Market Supply: له بازاري عرضې څخه موخه د یو توکي هغه مقدار دی چې په یو ځانګړي قیمت په بازار کې شتون ولري . دلته وخت ډیر لږ وي که په بازار کې د توکي قیمت لوړ شي نو په عرضې کې زیاتوالي نه راوستل کیږي د ساري په توګه که سهار بازار ته شل کوندې یخ خرڅلاو ته عرضه شي که په بازار کې د یخ قیمت لوړ شي د یخ په عرضې کې زیاتوالی نه راوستل کیږي ځکه د یخ جوړولو لپاره شل ساعتو ته اړتیا ده چې نور یخ تیار شي له پورتنیو جملو څخه څرګندیږي هغه توکي چې ژر له منځه ځي ( یخ ،شیدې او ترکاري ) بازاري عرضه لري .


2. لنډ مهال عرضه Short Period Supply: لنډ مهاله عرضه هغې عرضې ته ویل کیږي چې د یو توکي خاص مقدار په ځانګړي قیمت بازار ته د لنډ مهال لپاره د خرڅلاو لپاره وړاندې کیږي له لنډ مهال څخه موخه څو اونۍ یا میاشتې وي . که په لنډ مهال وخت کې د توکو په قیمت کې لوړوالی راشي نو موجوده کارخانې کولای شي په ښه توګه بازارته توکي عرضه کړي .

3. اوږد مهاله عرضه Long Period Supply: اوږد مهاله عرضه هغې عرضې ته ویل کیږي چې د یو توکي هغه مقدار چې په راتلونکي د قیمت د لوړوالي په موخه نوې کارخانې جوړې شي او یا اوسنیو کارخانو ته پراختیا ورکړل شي .کولای شو چې عرضه په لاندې جدول کې هم واضیح کړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



| د في ټن قيمت | عرضه |
|---|---|
| 10000 افغانۍ | 200 ټنه |
| 9000 افغانۍ | 180 ټنه |
| 8000 افغانۍ | 160 ټنه |
| 7000 افغانۍ | 140 ټنه |




که مورږ او تاسو د عرضي ګراف ته ځير شو نو به وګورو کله چې قيمت لوړ شي عرضه هم لوړېږي يانې د قيمت په لوړيدو سره عرضه هم لوړېږي کله چې قيمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټيټ شي عرضه هم ټيټېږي ګراف رانبيي کله چې قيمت 200افغانۍ وي تقاضا سل ټنه وي خو کله چې قيمت زر افغانۍ شي عرضه 400 ټنو ته لوړېږي .

د عرضې د ګراف ارتجاعيت : د عرضې ګراف کله پورته کله ښکته لوری نيسي چې دا ددې ښکارندوی ده که قيمت لوړ شي عرضه هم لوړېږي او که قيمت ټيټ شي عرضه کمېږي د عرضې د ګراف ارتجاعيت لاندې سببونه لري :

د ګټې کشش : کله چې د يو توکي قيمت لوړ شي نو د کاروباريانو د ګټې په سلنې کې ډيروالی راځي ځکه هغو د ډيرې ګټې په موخه د توکي په عرضې کې ډيروالی راولي ترڅو ډير وپلوري .

د توکو د توليد په لګښت کې ډير والی : د يو توکي د ډير پيدا کولو لپاره متشبث د توليد نور عوامل پلوري چې د توليد عوامل ته تقاضا ډيرېږي چې تقاضا ورته ډيره شي نو قيمت يې لوړېږي او کوم توکي چې پرې توليدېږی قيمت يې لوړ وي نو دا توکي هغه وخت بازار ته عرضه کيږي چې قيمت يې لوړ وي ځکه دا په لوړ قيمت توليد شوی وي .

د عرضې قانون Law of Supply : په عمومي ډول معلومېږي کله چې د يو توکي قيمت لوړ شي نو متشبث هڅه کوي ترڅو توکی په ډيره پيمانه بازار ته د خرڅلاو لپاره وړاندې کړي او که په بازار کې د توکي قيمت ټيټ شي نو متشبث په لږه پيمانه توکي بازارته د خرڅلاو لپاره وړاندې کوي خلک دې ارتجاعيت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عرضې قانون وايي د عرضې قانون د تقاضا له قانون سره بلکل بدل دی کولای شو د عرضې قانون داسې تعریف کړو :

که نور عوامل ثابت پاتې شي که د یو توکي قیمت لوړ شي عرضه یې ډیریږي او که قیمت یې ټیټ شي عرضې هم کمیږي .


د قیمت په لوړوالي سره د ګټې په مقدار کې ډیربښت راځي متشبث او سوداګر د ډیرې ګټې د تر لاسه کولو په موخه په عرضې کې ډیربښت راولي او که په قیمت کې ټیټ والی راشي نو متشبث د تولید لګښتونه په ډیره ستونزمنه توګه پوره کوي . متشبث د توکو د عرضې په مقدار کې کمښت راولي . کولای شو د عرضې قانون په لاندې جدول کې هم توضیح کړو :

| د في ټن قیمت | عرضه |
|---|---|
| 10000 افغانۍ | 200 ټنه |
| 9000 افغانۍ | 180 ټنه |
| 8000 افغانۍ | 160 ټنه |
| 7000 افغانۍ | 140 ټنه |

کولای شو چې د عرضې قانون په لاندې ګراف کې هم روښانه کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې تاسو وینئ کله چې قیمت 700 افغانۍ وي د عرضې مقدار 140 افغانۍ وي خو کله چې قیمت 800 افغانۍ کیږي د عرضې مقدار 140له ټنو څخه 160ټنو ته لوړه شي همداسې ادامه لري کله چې قیمت لوړیږي عرضه هم ورسره زیاتیږي .

د عرضې د قانون فرضیات

**Assumptions of law of supply**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عرضې قانون د تقاضا قانون په څير هر وخت سمه نه ثابتيږي بلکې هغه وخت دا قانون سمه ثابتيږي نور عوامل ثابت وي . چې دا نور عوامل د عرضې د قانون فرضيات دي که په دې فرضياتو کې تغير راشي د عرضې قانون سمه نه ثابتيږي .چې د افرضيات په لاندې ډول دي :

- ♣ د توليد لګښتونه : د عرضې د قانون د سمه ثابتولو لپاره بايد د توليد په لګښت کې توپير رانه شي ځکه که د توليد لګښت کم شي دې في واحد جنس کميږي خو په عرضه کې کموالی نه راځي او که د توليد په لګښت کې ډيرښت راشي نو دقيمت په لوړوالي سره سره بيا هم په عرضې کې ډيرښت نه راځي .
- ♣ د توليد ميتود : د عرضې د قانون د سم ثابتولو لپاره بايد د توليد په طريقه کې کې تغير رانه شي ځکه که توکيپه ښې او عصري طريقې سره توليد شي نو خامخا د توليد په لګښت کې کموالی راځي چې قيمت ورسره ټيټيږي خو په عرضې کې توپير نه راځي .
- ♣ د کانونو مقدار : د عرضې قانون د سم ثابتووالي لپاره اړينه ده چې د کانونو مقدار کې توپير رانه شي ځکه که تغير په کې راشي اومه مواد ارزانيږي او په قيمت اغيزه غورځوي چې په دې صورت کې د توکو قيمت ټيټيږي خو په عرضه کې تغير نه راځي چې په دې سبب د عرضې قانون سم نه ثابتيږي .

د عرضې د قانون استثنات

Exceptions of the law of supply

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عرضې قانون ځیني وخت سمه نه ثابتیږي چې د عرضې د قانون استثنات وایي
:

- د پیسو اړتیا : بعضې وخت پلورنکي ته د پیسو اړتیا وي نو هغه د پیسو د لاسته راوړلو لپاره په کم قیمت هم بازارته توکي عرضه کوي تر څو پیسې لاسته راوړي چې د عرضې قانون سره سمون نه خوري .
- د راتلونکي په اړه ویره : که پلورنکي سره په راتلونکي کې د قیمتونو د ټیټوالي ویره وي نو خپل توکي سمدستي پلوري .
- د ځای لیږد : که کاروباریان له یو ځایه بل ځای ته کډه وکړي او د توکو د ساتلو لپاره له ځانه سره څوک ونلري نو ټول توکي پلوري چې دلته هم د عرضې قانون سم نه ثابتیږي.
- جنګ : د جنګ په حالت کې له خلکو سره د ځان غم وي نو ځکه په دې وخت کې سوداګر د خپلو توکو د خرڅلاو په فکر کې وي په کم قیمت هم خپل ټول توکي خرڅوي .

له پورتنیو استثناتو سره سره بیا هم دعرضې قانون د حقیقت څرګندوي چې که قیمت لوړ شي عرضه لوړیږي او که قیمت ټیټ شي عرضه هم کمیږي .

په عرضې کې تغیر **Changes in Supply**

د عرضې پراختیا او راټولیدل **Extension and contraction in supply**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عرضې پراختیا او راټولېدل په قیمت پورې اړه لري کله چې قیمت لوړ شي ورسره په عرضه کې زیاتوالی راځي دې ته د عرضې پراختیا وايي او که قیمت ټیټ شي په عرضه کې کموالی راځي چې دې ته د عرضې راټولېدل وايي ..چې کولای شو په لاندې جدول کې هم ذکر کړو :

د عرضې پراختیا

د عرضې راټولېدل


| في کیلو ګراف قیمت | عرضه | في کیلو ګراف قیمت | عرضه |
| --- | --- | --- | --- |
| 10 افغانۍ | 200 کیلو ګرام | 16 افغانۍ | 500 کیلو ګرام |
| 12 افغانۍ | 300 کیلوګرام | 14 افغانۍ | 400 کیلو ګرام |
| 14 افغانۍ | 400 کیلو ګرام | 12 افغانۍ | 300 کیلو ګرام |
| 16 افغانۍ | 500 کیلو ګرام | 10 افغانۍ | 200 کیلو ګرام |

په پورتني جدول کې تاسو ګورئ کله چې قیمت 12 افغانۍ وي عرضه 300کیلو ګرامه خو کله چې قیمت 14افغانیو ته لوړ شي نو بیا عرضه 400کیلو ګرامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيږي چې دې ته د عرضې پراختيا وايي. خو کله چې قيمت **14** افغانۍ وي عرضه **400**کيلو ګرامه کله چې قيمت **12** افغانۍ کيږي عرضه **300** کيلو ګرامو ته را ټيټيږي چې دې ته د عرضې راټوليدل وايي. کولای شو په لاندې ګراف کې هم روښانه کړو :



(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورتني ګراف کې کله چې قيمت 12 افغانۍ وي عرضه 300 کيلوګرامه خو کله چې قيمت لوړ شي 14 افغانيو ته عرضه 400ګرامه کيږي چې دې ته عرضې پراختيا وايي خو کله چې قيمت له 12 افغانيو څخه لسو افغانيو ته راښکته کيږي عرضه 200 کيلو ګرامه کيږي چې د عرضې راټوليدل ورته وايي.

## د عرضې لوړيدل او ټيټيدل Rise and fall in Supply

که د قيمت له تغير پرته په عرضې کې تغير راشي او يا په قيمت کې تغير راشي خو په عرضې کې تغير رانه شي دې ته د عرضې لوړيدل او ټيټيدل وايي په عرضه کې لوړيدل لاندې دوه بڼې لري :

- قيمت پخوانی وي او په عرضې کې لوړيدا راشي : کولای شو په لاندې جدول کې موضوع ښه واضيح کړو :


| في کيلو ګرام قيمت | عرضه |
|---|---|
| 20 افغانۍ | 100 کيلوګرام |
| 20 افغانۍ | 200 کيلوګرام |
| 20 افغانۍ | 300 کيلوګرام |

په پورتني جدول کې ګورئ چې کله قيمت 20 شل افغانۍ وي عرضه 100 کيلو ګرامه خو د ځينو عواملو له کبله قيمت هماغه پخوانی دی خو عرضه له 100څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



200 ته لوړه شوې چې دې ته د عرضې لوړېدل وايي کولای شو په لاندې ګراف کې روښانه کړو :




مونږ او تاسو په ګراف کې ګورو چې قیمت ثابت دی خو په عرضه کې د بیلابیلو عواملو په تغیر سره په کې ډیربښت راغلی .په لومړي سر کې قیمت شل افغانۍ ده عرضه 100 کیلو ګرامه د ځینو عواملو له کبله قیمت ثابت دی خو عرضه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلو څخه دوه سوو کیلوګرامو ته لوړ ه شوی د عرضې ګراف له ss څخه s1s1 ته تغير خوري په همدې ترتيب له s1s1 څخه s2s2 ته انتقال مومي.


- قيمت کم شي او په عرضې کې تغير نه وي راغلی :لاندې جدول ته ځير شی :

| في کيلو ګرام قيمت | عرضه |
|---|---|
| 20 افغانۍ | 100 کيلوګرام |
| 16 افغانۍ | 100 کيلوګرام |
| 12 افغانۍ | 100 کيلوګرام |

په پورتني جدول کې ګورئ چې په عرضه کې تغير نه دی راغلی خو په قيمت کې تغير راغلی کله چې قيمت شل افغانۍ وي عرضه 100 کيلو ګرامه خو کله چې قيمت 16 افغانۍ کيږي عرضه هماغه پخوانۍ 100کيلو ګرامه پاتې کيږي. کولای شو په لاندې ګراف کې هم واضيح کړو :

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې تاسو ګورئ چې قيمت تغير خوري خو عرضه بيا ثابته ده ځکه کله چې قيمت 12 افغانۍ وي نو عرضه سل کيلو ګرامه او د عرضې ګراف په s کې قرار لري خو کله چې قيمت له 12 څخه 16 افغانيو ته لوړ شي نو عرضه بيا هم پخوانۍ خو د عرضې ګراف له s څخه S1 ته انتقال مومي همدارنګه کله چې قيمت 20 افغانۍ کيږي عرضه يو ځل بيا ثابته ده او ګراف يې S2 ته تقرب مومي.

د عرضې تيتيدل لاندې دوه بڼې لري:

- قيمت پخوانۍ وي او په عرضه کې کمښت راشي:


| في کيلو ګرام قيمت | عرضه |
| --- | --- |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| 20 افغانۍ | 100 کیلوګرام |
| 20 افغانۍ | 80 کیلوګرام |
| 20 افغانۍ | 60 کیلوګرام |

په پورتني جدول کې تاسو ګورئ چې قیمت ثابت خو د ځینو عواملو د تغیر له کبله د عرضې په مقدار کې تغیر راغلی کله چې قیمت 20 افغانۍ وي عرضه 100 کیلو ،په همدې قیمت عرضه بیا 80 کیلو او وروسته بیا 60 کیلو ګرامو ته رانښکته کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګراف کې تاسو ګورئ کله چې قیمت 20 افغانۍ وي د عرضې مقدار 100 کیلو ګرامه او د عرضې ګراف په S2 دی خو کله چې قیمت تغیر نخوري عرضه ډیرېږي 80 کیلو ته لوړیږي چې د عرضې ګراف له S2څخه s1 ته تیتیږي په همدې ترتیب مخ ته ځي .


- قیمت لوړ شي او عرضه پخوانۍ وي

| في کیلو ګرام قیمت | عرضه |
|---|---|
| 20 افغانۍ | 100 کیلوګرام |
| 25 افغانۍ | 100 کیلوګرام |
| 30 افغانۍ | 100 کیلوګرام |

په پورتني جدول کې تاسو ګورئ چې د توکو عرضه ثابته ده او قیمت د تغیر په حال کې ځکه کله چې قیمت 20 افغانۍ وي عرضه 100 کیلو ګرامه قیمت لوړیږي خو عرضه بیا هم ثابته ده په همدې ترتیب قیمت لوړیږي خو عرضه ثابته ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې تاسو وینئ کله چې قیمت 20 افغانۍ وي عرضه 100 کیلو ګرامه او د عرضې ګراف s2 کې وي خو کله چې قیمت 25 کیږي عرضه خو ثابته ده د عرضې ګراف له s2 څخهs1 ته پورته کیږي په همدې ترتیب نور هم پورته ځي .

په عرضې کې د تغیراتو سببونه **Causes of Changes in Supply**

**1.** په عرضه کې پراختیا او راټولیدل :په عرضه کې پراختیا او راټولیدل په قیمت پورې اړه لري کله چې د توکو قیمت لوړ شي نو په عرضه کې زیاتوالی راځي چې دې ته د عرضې پراختیا وایي ددې برعکس کله چې د توکو قیمت ټیټ شي نو عرضه هم ورسره کمیږي چې دې ته د عرضې راټولیدل وایي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. د عرضې دلوړېدلو او ټیټېدلو سببونه : د عرضې لوړېدل او ټیټېدل لاندې سببونه لري :

- تولید لګښت : که د توکو د تولید په لګښت کې زیاتوالی راشي او قیمت پخوانی وي نو عرضه یې کمیږي د دې برعکس که د توکو د تولید په لګښت کې کمښت راشي او قیمت پخوانی وي نو عرضه یې ډیریږي .د توکو د تولید د لګښت د ډیرښت سببونه بیلابیل دي چې یو سبب یې د اومو موادو د بیې لوړوالی دی.
- طبیعي عناصر : د کرنیز توکو تولید ډیری وخت په طبیعي عناصرو پورې انحصار وي که په هیواد کې وخت په وخت باران وي ،طبیعي افات شتون ونلري په کرنه کې له ښې کیمیاوي سرې ګټه واخیستل شي نو کرنیز تولیدات ډیریږي .که په بازار کې د کرنیزو توکو قیمت لوړ نه شي خوبیا یې هم عرضه ډیریږي . د دې برعکس که طبیعي حالت ښه نه وي نو د کرنیزو توکو تولید کمیږي .په بازار کې د قیمت په نه تغیر سره بیا هم د توکو عرضه کمیږي.
- بد امني : د بد امنی او خرابو حالاتو په وخت کې هم د توکو عرضه کمیږي د مثال په توګه د جنګ په وخت کې د لومړنیو توکو کمښت په دې وخت کې ځینې کمپنۍ خپل تولیدات بندوي او ځینې کمپنۍ جنګي وسایل جوړ وي په دې وخت کې د توکو قیمت تغیر نه خوري خو عرضه یې کمیږي د دې تر څنګ د قیمتونو په لوړو الي سره بیا هم عرضه کمیږي .
- د کانونو کشفول : په هیواد کې د نوو کانونو له کشفولو سره د توکو په عرضه کې تغیر راځي د ساري په ډول کله چې یو هیواد اومه مواد له بهر څخه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



واردوي خو کله چې همدا مواد په هیواد کې پیدا کیږي نو د توکو د تولید په لګښت کې کموالی راځي په پخواني قیمت ډیر توکي تولیدیږي او عرضه یې هم ډیریږي .

- د لیږد رالیږد د عصري وسایلو شتون : د لیږد رالیږد د عصري وسایلو په شتون سره د توکو په لګښت کې کمښت راځي چې د توکو په عرضه کې ډیرښت راځي په دې صورت کې که د توکو قیمت لوړ هم نشي نو په عرضه کې ډیرښت راځي او دد برعکس که ښه وسایل ونه لري نو د توکو لګښت کې ډیر والي راځي او عرضه یې کمیږي .
- مالیه : که په هیواد کې په کورنیو توکو مالیه لوړه شي نو عرضه یې کمیږي او که مالیه ټیټه شي عرضه یې ډیریږي.
- تولید طریقه : که چیرته د تولید طریقه سمه وي نو د توکو تولید لګښت کې کموالی راځي ،که قیمت لوړ هم نشي نو عرضه یې ډیریږی .
- د ځینو کمپنیو یو ځای والی : ځیني وخت د یو توکي د تولید لپاره یو څو کمپنۍ سره یو ځای کیږي او دا توکی په یو معین مقدار تولیدوي . د توکو قیمت لوړیږي د قیمت په لوړوالي سره سره بیا هم عرضه نه ډیریږي .
- وارداتي پالیسۍ : حکومت ځینې وخت خپله وارداتي پالیسۍ ته تغیر ورکوي په وارداتو لوړه مالیه وضعه کوي چې ورسره وارداتي توکي کمیږي که قیمتونه پخواني وي خو بیا هم عرضه کمیږي د دې برعکس که حکومت د ازادۍ سوداګرۍ پالیسۍ وضعه کړي نو واردات لوړیږي که قیمت پخوانۍ هم وي خو عرضه ډیریږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د هیواد وضعیت : که یو هیواد سیاسي ثبات ونلري هلته توکي په لږه پیمانه تولیدیږي چې عرضه یې هم کمه وي خو په هیواد کې سیاسي ثبات وي امن شتون ولري نو کارګران له زړه نه کار کوي د توکو عرضه هم ډیریږي .

د عرضې ارتجاعیت Elasticity of Supply: د عرضې د قانون پر اساس که د یو توکي قیمت لوړ شي عرضه یې هم لوړیږي او د دې برعکس که قیمت یې ټیت شي عرضه یې هم کمیږي د عرضې هغه ځانګړتیا چې د قیمت د تغیر په وجه اغیزمن کیږي د عرضې ارتجاعیت ورته وایي یا د یو توکي هغه ځانګړتیا چې د قیمت په تغیر سره په عرضې یې کې تغیر راشي که د یو توکي د قیمت په تغیر سره په عرضې کې تغیرات راشي نو موږ بیا وایو چې دا توکی ډیر ارتجاعیت لري او که د کوم توکي په قیمت کې تغیر مګر په عرضې کې تغیر رانه شي نو موږ بیا وایو چې دا توکی ارتجاعیت نلري. د عرضې ارتجاعیت لاندې درې ډولونه لري :


1. ډیره ارتجاعیت لرونکې عرضه More elsatic supply: کله چې په قیمت کې ډیر لږ تغیر راشي او په عرضې کې زیات تغیر راشي دې ډول عرضې ته ډیره ارتجاعیت لرونکي عرضه وایي مانا دا چې که قیمت ډیر لږ ټیټ شي عرضه ورسره ډیره زیاته کمه شي اویا قیمت لږ لوړ شي خو په عرضې کې ډیر زیات ډیروالی راشي . کولای شو په لاندې جدول کې وګورو :

(c) ketabton.com: The Digital Library



| في ټن قيمت | عرضه |
|---|---|
| 7500 افغانۍ | 100 ټنه |
| 7400 افغانۍ | 50 ټنه |
| 7300 افغانۍ | 10 ټنه |

په پورتني جدول کې ګورئ کله چې قيمت 7500 افغانۍ وي نو عرضه 100 ټنه وي خو کله چې قيمت ډېر لږ ټيټيږي له 7500 څخه 7400 ته کيږي نو په عرضه کې ډېر زيات تغيرات راځي او عرضه 50 ټنو ته راښکته کيږي .



(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګراف کې تاسو ګورئ چې د قيت په لږ تغير سره په عرضه کې ډير تغير راځي کله چې قيمت 7300 افغانۍ وي عرضه 10 ټنه خو کله چې قيمت ډير لږ تغير کوي 7400 ته لوړ شي نو عرضه 50 ټنو ته لوړيږي .


2. لږه ارتجاعيت لرونکې عرضه Less elastic supply: کله چې په قيمت کې ډير تغير راشي خو په عرضې کې ډير تغير رانشي نو دې ډول عرضې ته لږه ارتجاعيت لرونکې عرضه وايي مانا دا چې قيمت ډير زيات ټيټ شي خو عرضه ډيره لږه کمه شي لاندې جدول ته ځير شئ :

| في ټن قيمت | عرضه |
|---|---|
| 500 افغانۍ | 100 ټن |
| 300 افغانۍ | 90 ټن |
| 100 افغانۍ | 80 ټن |

پورتني جدول ته ځير شئ کله چې قيمت 500 افغانۍ وي نو عرضه 100 ټنه ده خو کله چې قيمت له 500 افغانيو څخه 300 افغانۍ کيږي عرضه ورسره ډيره لږ تغير کوي عرضه يوازې له 100 څخه 90 ته راټيټيږي ياني ډيرلږ تغير خوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې تاسو ګورئ چې کله قیمت 10 افغانۍ وي عرضه 80 کیلو خو کله چې قیمت ډیر لوړیږي یانې 30 افغانیو ته لوړ شي نو عرضه ورسره ډیر لږ تغیر کوي له 80 څخه 90 کیلو ګرامو ته لوړیږي.

3. برابره ارتجاعیت لرونکي عرضه : که په عرضه او قیمت کې په یو نسبت تغیر راشي دې ډول عرضې ته برابره ارتجاعیت لرونکي عرضه وایي مانا دا چې که په قیمت کې دوه برابره زیاتوالی راشي په عرضې کې هم دوه برابره ډیرښت راشي .


لاندې جدول ته ځیر شئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



| في ټن قیمت | عرضه |
|---|---|
| 500 افغانۍ | 100 ټنه |
| 1000 افغانۍ | 200 ټنه |
| 3000 افغانۍ | 600 ټنه |

په جدول کې ګورئ چې کله قیمت 500 افغانۍ وي نو عرضه 100 ټنه خو کله چې قیمت 1000 افغانۍ کېږي عرضه ورسره مساوي لوړېږي 200 ټنو ته لوړېږي یانې قیمت او عرضه په یو نسبت تغیر خوري.



(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې ډول په ګراف کې هم تاسو ګورئ چې قیمت 500 افغانۍ وي نو عرضه 100 ټنه او کله چې 1000 افغانۍ شي قیمت عرضه 200 ټنو ته لوړېږي یانې د قیمت او عرضې د تغیر نسبت سره مساوي وي.

د عرضې د ارتجاعیت اندازه ګیري:

د له یو سره برابر ارتجاعیت: کله چې د یو توکي په عرضه کې د قیمت د تغیر په نسبت تغیر راشي دې ډول عرضې ته د یو سره برابر ارتجاعیت وایي د ساري په توګه د غنم قیمت د پخوا په نسبت نیم شوی او عرضه یې هم نیمه شوې ده کولای شو په لاندې جدول کې ښه روښانه کړو:


| د فی ټن قیمت | عرضه |
|---|---|
| 500 افغانۍ | 100 ټنه |
| 1000 افغانۍ | 200 ټنه |
| 3000 افغانۍ | 600 ټنه |

په پورتني جدول کې موږ او تاسو وینو چې کله قیمت 500 افغانۍ وي نو عرضه 100 ټنه وي خو کله چې قیمت 1000 افغانۍ شي عرضه هم ورسره 200 ټنو ته لوړه شي د دې خبرې مطلب دا چې په قیمت او عرضه کې یو شان تغیرات راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او یا په قیمت او عرضه کې مساوي تغیرات راځي .کولای شو په لاندې ګراف کې ښه روښانه کړو :




➢ له یوڅخه کم ارتجاعیت : کله چې د یو توکي په عرضې کې د قیمت د تغیر په نسبت کم وي یا د یو توکي قیمت لوړ شي خو په عرضه کې لږ ډیروالی راشي دې ډول عرضې ته له یو څخه کم ارتجاعیت. وایي لکه په جدول کې :


| د فی ټن قیمت | عرضه |
|---|---|
| **500** افغانی | **100** ټنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| 250 افغانۍ | 90 ټنه |
| 150 افغانۍ | 80 ټنه |

په جدول کې مو وليدل چې کله قيمت 500 افغانۍ وي د توکو عرضه 100 ټنه ده خو کله چې قيمت ډير تغير خوري له 500 افغانيو څخه 250 افغانيو ته راټيټيږي عرضه ورسره ډير لږ تغير خوري له 100 ټنو څخه 90 ټنو ته راښکته کيږي . چې دې ډول ارتجاعيت ته له يو څخه کم ارتجاعيت وايي چې په لاندې ګراف کې هم روښانه شوی .



(c) ketabton.com: The Digital Library



له يو څخه ډير ارتجاعيت: کله چې د يو توکي عرضه د قيمت د تغير له نسبت څخه لوړه وي دې ډول ارتجاعيت له يو څخه ډير ارتجاعيت وايي لاندې جدول ته ځير شئ:

| د في ټن قيمت | عرضه |
|---|---|
| 50 افغانۍ | 100 ټنه |
| 25 افغانۍ | 40 ټنه |
| 15 افغانۍ | 20 ټنه |

په جدول کې ښکاري کله چې قيمت 50 افغانۍ وي عرضه 100 ټنه خو کله چې قيمت تغير خوري 25 افغانيو ته راښکته کيږي عرضه ورسره ډيره تغير خوري له 100 ټنو څخه 40 ټنو ته راښکته کيږي.

د عرضې د ارتجاعيت د اندازه ګيرۍ دويمه طريقه (حسابي فورمول):

د عرضې ارتجاعيت = په عرضې کې تغير/ عرضه ÷ په قيمت کې تغير/قيمت

او يا

د عرضې ارتجاعيت = په عرضې کې تغير / عرضه × قيمت/ په قيمت کې تغير

د پورتنيو فورمولو د وضاحت لپاره لاندې جدول ته ځير شئ:

| شميره | في ټن قيمت | عرضه |
|---|---|---|
| لومړی قيمت | 50 افغانۍ | 100 ټنه |
| دويم قيمت | 25 افغانۍ | 50 ټنه |
| دريم قيمت | 20 افغانۍ | 25 ټنه |
| څلورم قيمت | 10 افغانۍ | 20 ټنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فورمول تطبيق :

a) $1.00 = 25/50 \times 100/50$

b) $2.50 = 5/25 \times 50/25$

c) $0.50 = 10/20 \times 20/5$

د فورمم له تطبيق وروسته که ځواب له يوه سره برابر راغلو نو مانا دا چې ارتجاعيت له يو سره برابر دی او که کوچنې راغلو له يو څخه کوچني او که لوړ شو نو له يوه څخه لوړ دی.

i. په لومړي او دويم قيمت ارتجاعيت له يو سره برابر دی

ii. په دويم او درېيم قيمت ارتجاعيت يو څخه لوړ دی

iii. په درېيم او څلورم قيمت ارتجاعيت له يو څخه کوچنی دی

د عرضې د ارتجاعيت عوامل : د ځينو توکو د عرضې ارتجاعيت ډېر وي او د ځينو توکو ارتجاعيت کم وي د بېلابېلو توکو د عرضې ارتجاعيت په لاندې عواملو پورې تړاو لري :

- د توکي بڼه : هغه توکي چې ژر له منځه ځي د هغوی د عرضې ارتجاعيت کم وي ځکه که دا توکي خرڅ نه شي له منځه ځی نو که قيمت هر څومره ټيټ شي د هغوی خرڅول پکار دي لکه شيدې ،ترکاري او نور . ددې په مقابل کې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



توکي چې ژر نه خرابېږي دهغوی د عرضې ارتجاعیت ډېر وي ځکه د قیمت په ټیټ والي سره کولای شو چې زیرمه یې کړو او په عرضې کې لږ والی هم راولو .

- د تولید لګښت : که د یو توکي په تولید کې ډېر لږ ډېربښت راشي او لګښت پرې ډېر راشي او د قیمت ډېروالی دا لګښت پوره نه کړي نو ددې توکي ارتجاعیت کم دی ددې برعکس که د یو توکي په ډېر تولید کې او لګښت پرې کم راشي او قیمت کې ډېر پوره شي نو ددې توکي ارتجاعیت لوړ دی.
- د تولید طریقه : هغه توکي چې په اسانۍ سره تولیدېږي نو د هغوی ارتجاعیت ډېر وي ځکه د قیمت په تغیر سره په عرضه کې هم تغیر راځي او هغه توکي چې په پیچیده طریقې سره پیدا کیږی ارتجاعیت یې هم کم وي .
- د تولید قوانین : هغه توکي چې د ډېربښت د قانون پر اساس تولیدېږي د هغوی ارتجاعیت ډېر وي ځکه د قیمت په لوړوالي سره متشبث هڅه کوي تر څو ډېره ګټه تر لاسه کړي نو په ځمکه تولید ډېروي ددې برعکس هغه توکي چې د لګښتونو ډېربښت د قانون په وسیله پیدا کیږي کم ارتجاعیت لري .
- د تولید وخت : هغه توکي چې په لږ وخت تولیدیږي نو د هغو د عرضې ارتجاعیت لوړ وي او هغه توکي چې تولید یې ډېر وي د عرضې ارتجاعیت یې هم کوچنی وي ځکه کله چې قیمت لوړ شي هغه ژر نه تولیدیږي .
- د پانګې اړتیا : د هغو توکو تولید چې ډېرې پانګې ته اړتیا لري د هغوی د عرضې ارتجاعیت هم کم وي لکه د الوتکو جوړول ځکه د الوتکو په قیمت کې که لوړوالی راشي ته مجبور یې نوې کارخانه جوړه کړې چې ډېرې پانګې ته اړتیا ده او همداسې که قیمت یې ټیټ شي بیا هم کمیدای نه شي ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کارخانې په جوړېدو ډېر پانګه لګیدلې ده نو ځکه د عرضې ارتجاعیت هم کم وي د دې برعکس هغه توکو تولید چې لږې پانګې ته اړتیا لري د عرضې ارتجاعیت یې لوړ دی ځکه که قیمت لوړ شي ډېر توکو د تولیدو امکان وي .

# څلورم څپرکی

## بازار Market

په ټولیز ډول بازار هغه ځای ته ویل کیږي چې خلک د توکو د اخیستلو او خرڅولو لپاره پکې سره یو ځای کیږي د ساري په ډول لکه د غلو بازار، ترکاري بازار، میوو بازار . خو د اقتصاد په علم کې بازار په پراخه توګه تر مطالعې لاندې نیول کیږي د اقتصاد په علم کې بازار کوم ځانګړي ځای ته نه ویل کیږي چې توکي په کې خرڅول یا اخیستل کیږي بلکې په دې کې ټولې هغه سیمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخيلي دي چې د اخيستونکي او خرڅونکي تر منځ په مخامخ ډول اړيکه نيول کيږي او د يو توکي قيمت په معين وخت کې ټاکل کيږي دا اړينه نه ده چې اخيستونکی او خرڅونکی د يو بل سره وګوري بلکې کولای شي د تيلفون ،ليک او نورو لارو څخه اړيکه ونيسي

فرانسوي عالم ښاغلي "کرناټ "بازار داسې تعريف کړی :له بازار څخه موخه هغه ځای نه دی چېرته چې اخيستونکي او خرڅوونکي سره يو ځای کيږي بلکې له بازار څخه موخه ټولې هغه سيمې دي چې اخيستونکي او خرڅوونکي په ازاده توګه يو له بل سره ګوري د يو توکي قيمت ټاکي . همدرانګه پروفيسور" کلی(Clay) "د بازار په اړه وايي : بازار يو داسې ځای دی چې ديو توکي قيمت ټاکل کيږي او دهغه د ليږد لګښتونه اضافه وي.ددې تعريف وضاحت موږ داسې کوو د ساري په ډول که په لغمان ولايت کې د يو من وريجې بيه سل افغانۍ وي او په ننګرهار کې وريجې په يو سلولس افغانۍ وي که له لغمان څخه ننګرهارته د وريجو وړلو لپاره کرايه لس افغانۍ وي نو بيا په لغمان او ننګرهار کې د وريجو قيمت مساوي دی ځکه لس افغانۍ يې دليږد لګښت دی.

د بازار اړتياوې :

1. د توکي شتون : د بازار لپاره د توکي شتون اړين دی توکی بايد شتون ولري خيالي او فرضي نه وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



2. د اخیستونکي او خرڅوونکي ترمنځ اړیکه : د بازار لپاره دا هم اړینه ده چې باید د اخیستونکي او خرڅوونکي ترمنځ اړیکه شتون ولري که اړیکه د تیلفون ،لیک یا نورو له لارې وي د دوی ترمنځ د لیږد لګښت په نظر کې نیولو سره د توکي قیمت یو شان وټاکي.

3. د اخیستونکي او خرڅوونکي شتون : د توکو داخیستلو او خرڅولو لپاره د اخیستونکي او خرڅوونکي شتون اړین دی د اخیستونکي او خرڅونکي لپاره اړینه نه ده چې دواړه یو ځای وي کیدای شي چې یو په افغانستان او بل په هندوستان کې وي.

4. د ځای شتون : د بازار لپاره د ځای شتون اړین دی که هغه کلی ،بانډه ،ښار که هر ځای وي.

د بازار ډولونه : د بازار ډولونه د لاندې ځانګړتیاوو په اساس ویشل شوي دي :

- و خت په لحاظ
- د ځای په لحاظ
- د توکو په لحاظ
- د سودا پر اساس
- د سیالۍ په سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هريو يې په لاندې ډول تر څېړنې لاندې نيسو :

د وخت پر اساس : دو خت په لحاظ بازار درې ډولونه لري :

1) ورځنی بازار : که د يو توکي قيمت په يوه ورځ کې د عرضې او تقاضا په اساس ټاکل کيږي دې ډول بازار ته ورځني بازار وايي په ورځني بازار کې چې هر څومره توکي راوړل شي بايد په هماغه ورځ خرڅ شي ځکه که چيرته توکي دويمې ورځې ته پاتې شي نو بيا له منځه ځي او يا په ډير ټيټ قيمت خرڅيږي د ساري په ډول غوښې ،ترکاري او نورو بازارونه په ورځني بازار کې د توکو عرضه محدوده وي که تقاضا لوړه شي نو قيمت پورته ځي او که تقاضا کمه شي قيمت ورسره ټيټيږي.

2) لنډمهاله بازار : دا ډول بازار د څو اونيو او مياشتو لپاره وي په دې ډول بازار کې د توکو عرضه په بيلابيلو لارو کميږي او ډيريږي په دې ډول بازار کې د توکو قيمت د لنډ مهالې عرضې او تقاضا په اساس ټاکل کيږي لکه څرنګه چې پوهيږئ په دې ډول بازار کې وخت کم وي او د توليد په عواملو کې زياتوالی نه شي راتلای نو د تقاضا زياتوالی په قيمت ډيره اغيزه لري.

3) اوږد مهاله بازار : په دې ډول بازارونو کې د توکو عرضه هر څومره چې وغواړو کمه يا ډيره کړو په دې وخت نوې کارخانې هم جوړيږي ،نوي ماشينونه او نوي تعميرونه هم جوړيدلی شي چې د څو کالو وي د دې ډول بازارونو د عرضې او تقاضا توازن د اوږد وخت لپاره وي او کوم قيمت چې وټاکل شي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېروخت لپاره وي په اوږد مهاله بازار کې د توکو عرضه د قیمت تعین باندې ډېره اغېزه لري.

د ځای پر اساس د بازار ډولونه

1) سیمه ایز بازار : که د یو توکي د خرڅلاو ځای د تولید په ځای یا په نژدې سیمه کې وي دې ډول بازار ته سیمه ایز بازار وایي چې یوې ځانګړې سیمې پورې تړلی وي مثلا د کبانو بازار، ترکاري اونور د سیمه ایز بازار ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي :

- په دې ډول بازار کې زیان منونکي توکي (شیدې، کبان، ترکاري) اخیستل او خرڅول کیږي .
- د داسې توکو اخیستل او خرڅول په کې کیږي چې د خلکو په دود دستور برابر وي .
- په دې ډول بازار کې سیمه ایز خلک د توکو اخیستل او خر څول تر سره کوي د نورو ځایو خلک په کې ګډون نه کوي .

ملي بازار : که د یو توکي اخیستل او خرڅول د یو هیواد په داخل کې ترسره کیږي نو دې ډول بازار ته ملي بازار وایي چې لاندې ځانګړتیاوې لري :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اخیستونکی او خرڅوونکي دواړه په یوه هیواد پورې اړه لري بهرني وګړي په کې ګډون نه شي کولای او په خپل منځ کې په ازاده توګه یو بل سره ګوري د قیمت په ټاکلو کې یو له بل سره سیالي کوي .

- په دې ډول بازار کې داسې توکي اخیستل او خرڅول کیږي چې مشتریان یې کورنۍ وي .

نړیوال بازار : که د کوم توکي د اخیستلو او خرڅولو ځای ټوله نړۍ وي او نړیوال اخیستونکي او خرڅوونکي یې پیري دې ډول بازار ته نړیوال بازار وایي په دې ډول بازار کې توکو ته په ټوله نړۍ کې تقاضا شتون لري د ساري په ډول سره ،سپین زر ،تیل او نور نړیوال بازار لاندې ځانګړتیاوې لري :

- په نړیوال بازار کې پایداره او قیمتي توکي اخیستل او خرڅول کیږي .

- په نړیوال بازار کې داسې توکي اخیستل او خرڅول کیږي چې په ټوله نړۍ کې تقاضا ولري .

- په نړیوال بازار کې د بیلابیلو هیوادونو اخیستونکي او خرڅوونکي د قیمت په ټاکلو کې سیالی تر سره کوي .

د توکو په اساس د بازار ډولونه :

عمومي بازار : داسې بازار چې بیلابیل توکي په کې اخیستل او خرڅول کیږي د ساری په ډول زموږ په هیواد کې د ولسوالیو بازار ونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړی بازار : په ځانګړي بازار کې داسې توکي خرڅول کیږي چې یو ډول نوعیت ولري د ساري په ډول د میوې بازار، غلې بازار او نور.

نمونه يي بازار : په دې ډول بازار کې د دې پر ځای چې ټول توکي بازار ته راوړل شي یوازې د توکو نمونې راوړي په دې ډول بازار کې کرنيز او اومه مواد ډیر اخیستل او خرڅول کیږي.

درجه بندی بازار : دا ډول بازار د نمونه يي بازار پرمختللی ډول دی چې په دې ډول بازار کې د توکو نمونې ته هم اړتیا نه شته بلکې د توکو درجه بندي کوي د ساري په ډول پاک یا ناپاکه غنم، غټې یا نری وریجې .

د سوداګری په لحاظ د بازار ډولونه :

ټول پلوري: داسې بازار چې توکي په پراخه پیمانه اخلي او خرڅوي يې .

ټوک پلوري : په دا ډول بازار کې توکي په لږه پیمانه اخلي او خرڅوی چې بنه بیلګه يې زموږ او ستاسو شاوخوا هټۍ دي .

د سیالۍ پر اساس د بازار ډولونه په لاندې ډول دي:

د مکملې سیالۍ بازار : په دې ډول بازار کې د اخیستونکي او خرڅونکو شمیر ډیر وي ،د بازار په هکله پوره معلومات لري، په بازار کې په مکمله توګه سیالۍ شتون لري نو له دې کبله د یو توکي قیمت په یو وخت کې ټاکل کیږي چې لاندې ځانګړتیاوې لري :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په دې ډول بازارکې د اخیستونکو او خرڅونکو شمیر ډیر وي
- اخیستونکي او خرڅوونکي ته د بازار په هکله مکمل معلومات وي .
- په دې ډول بازارکې یو ډول توکي اخیستل او خرڅول کیږي .
- اخیستونکي او خرڅوونکي په اخیستلو او خرڅوولو کې یو له بل سره سیالۍ کوي .
- په دې ډول بازا ر کې د یوشي قیمت په یو وخت کې یو شان ټاکل کیږي .
- ازاده مداخله : سیالۍ هغه وخت زور نیسي چې د نوو کمپنیو داخلیدل بازار ته او د زړو په وتلو هیڅ ډول پابندي نه وي او هیڅ هتیوال زیات قیمت نه شي اخیستلای.
- د تولید د وسایلو لیږد : په سیالۍ کې اړینه ده چې تولید عوامل په مکمله توګه د لیږد وړ وي د پانګې لیږد له یو ځایه بل ځای ته د مزدور لیږد له یو ځایه څخه بل ځای ته که په هر ځای کې ګټه وي موږ په اسانۍ سره وکولای شو چې ګټې ځای ته د تولید عوامل ولیږدوو زموږ په عملي ژوند کې مکمل بازار شتون نه لري ځکه ددغه ټول شرایط په یو وخت کې شتون نامکنه دي.

نامکمله بازار : غیرمکمل بازار هغه وخت پیدا کیږي چې د اخیستونکو او خرڅوونکو شمیر لږ وي په خپل منځ کې د لیدو ازادي ونه لري او نه د بازار به اړه بشپړ معلومات لري د توکو په لیږ رالیږد کې خنډونه شتون ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخیستونکی د توکو اخیستو په وخت کې معیار په نظر کې نه نیسي . نو له دې کبله د توکو قیمت په یو وخت کې بیلابیل وي .

د نامکمل بازار ځانګړتیاوې :

- په دې ډول بازار کې د اخیستونکو او خرڅوونکو شمیر کم وي .
- اخیستونکو او خرڅوونکو ته د بازار په اړه پوره معلومات نه لري .
- په دې بازار کې د یو توکي قیمت په یو وخت کې بیلابیل وي .
- د تولید د عواملو په لیږد بندیز : په بعضې وختونو کې حکومت د تولید په عواملو بندیز لګوي چې دهغوی تبادله په ازاده توګه نه ترسره کیږي د نامکمل بازار ډولونه په لاندې ډول دي :

I. دوجاره (Duopoly) : کله چې د توکو عرضه ددو کمپنیو په لاس وي دا ډول بازار ته دوجاره وایي هره کمپنۍ د عرضې یوه لویه برخه تهیه کوي که هغه په عرضه کې کموالي راولي نو قیمت لوړیږي او که عرضه ډیره کړي قیمت ورسره ټیټیږي .که دواړو کمپنیو د تولید شوی توکو نوعیت یو شان وي نو دې ته خالصه دوجاره وایي او که توپیر ولري نو دې ته توپیري اجاره وایي .

II. څو جاره (Oligopoly) : کله چې د یو توکي عرضه د دریو څخه تر اوو کمپنۍ تر سره کوي نو دې ډول بازار ته څو جاره وایي په څو جاره کې د یوې کمپنۍ حیثیت نسبت دوجارې ته ضعیفه وي لیکن بیا هم که په عرضه کې تغیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشي قيمت حتماً اغيزمن کيږي .که ټولې کمپنۍ يو توکی توليدوي نو هغه ته خالصه څوجاره وايي او که د توکو نوعيت توپير ولري نو هغې ته توپير څو جاره وايي .

III. اجاره دارانه سيالۍ : کـه چيرتـه د توليدونکو او خرڅوونکو کمپنيو شمير ډير وي او هر کمپنۍ د خپل سوداګريز نښان سره بازار ته توکي عرضه کوي او د ټولو کمپنيو توکي يو له بل سره په مکمله توګه توپير لري چې دې ډول ته اجاره دارانه سيالۍ وايي .

اجاره داري : که په يو بازار کې توليدونکې او پلورنکې يوه کمپنۍ وي دې ډول بازار ته اجاره داري وايي د ساري په ډول په افغانستان کې بريښنا د افغانستان بريښنا شرکت په خلکو وويشي او هغه بل سيال نه لري . .چې لاندې ځانګړتياوې لري :

- د توکو پيدا کوونکې او خرڅونکې يوه کمپنۍ وي .
- کوم شي چې پلورنکي د هغه په وړاندې سيالۍ شتون نه لري.
- د اجاره دار په خپله خوښه د توکي قيمت ټاکي .

د اجارې ډولونه په لاندې ډول دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبيعي اجاره : په طبيعي لحاظ يوه سيمه د يو توکي په پيد کولو کې اجاره ولري د ساري په ډول لکه د افغانستان انار چې نوره نړۍ د افغانستان په څير انار نه لري .

قانوني اجاره : که د يو هيواد قانون يو شخص يا ادارې ته د يو توکي د اجارې صلاحيت ورکړی وي تر څو په هغه برخه کې پرمختګ وکړي د ساري په ډول د يو کتاب ليکونکي لپاره د هغه دليکلو حقوق د کتاب ليکونکي پورې اړه لري .

ټولنيزه اجاره : ځينې وخت د ټولنې د پرمختګ لپاره د يو توکي د توليد او ويش اختيار يوې ادارې ته ورکول کيږي .

جوړه شوی اجاره : ځېنې وختونه يو شمير متشبثين سره راټوليږي د اجارې يو ډول جوړوي چې دې ډول اجارې ته جوړه شوې اجاره وايي د ساري په ډول د ګرمې په موسم کې د يخ فابريکو ترمنځ ډيره سيالي او په دغې سيالې کې د دوی زيان وي نو ټول سره راټوليږي او يو ځو کارخاني چلوي .جوړې شوې اجارې لاندې ډولونه لري :

پول (pool):کله چې متشبثين يا صنعتکاران د توکي د ترلاسه کولو قيمت يو ټاکي پول ورته وايي .

کارټل (Kartel) : که صنعت کاران يا متشبثين بازار په خپل منځ کې وويشي او هر متشبث خپل د اخيستلو او خرڅولو حد وټاکي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترسټ (Trust): په دې ډول کې ټولې کمپنۍ خپل انفرادي حیثیت لمنځه وړي خپل ځانونه په لویه اداره مدغموي او هغه لویه اداره ټول کار مخ ته وړي.

د بازار پراختیا: د بازار له پراختیا څخه موخه هغه سیمه ده چې د توکي اخیستل او خرڅول په کې ترسره کیږي، د ټولو توکو د بازار پراختیا یو شان نه وي د بعضې توکو بازار پراخه او د ځینو محدود وي د بیلا بیلو توکو د بازار پراختیا په لاندې عناصرو په پورې تړلې ده:

- توکي نوعیت: هغه توکي چې ډیر پایښت او قیمتي وي د هغوی بازار هم پراخه وي د ساري په ډول تیل، ګاز سره او سپین زر ددې برعکس هغه توکي چې ژر خرابیږي د هغوی بازار محدود وي د ساري په ډول ترکاري، کبان او نور.

- د تقاضا نوعیت: کومو توکي ته چې تقاضا ډیره وي نو بازار یې هم پراخه وي لکه تیل اوکه د کوم توکي تقاضا یوې سیمې پورې اړه لري نو بازار یې محدود وي.

- عرضي نوعیت: د کوم توکي عرضه چې د تقاضا په اساس پورته لاړه شي نو د هغه بازار هم پراخیږي او که عرضه د تقاضا مطابق لاړه نه شي د هغه بازار محدود وي.

- د لیږد رالیږد وسایل: د بازار پراختیا تر ډیره بریده د لیږد رالیږد په وسایلو پورې اړه لري که د یو هیواد دلیږد رالیږد وسایل نوي عصري وي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسانۍ سره کولای شي توکي له يو ځای څخه بل ځای ته وليږدوي چې ورسره د توکو بازار پراختيا مومي .

- امنيت : که په يو هيواد کې امنيت ښه وي د جنګ خطر نه وي نو د توکو اخيستل او خرڅول پراخه توګه ترسره کيږي چې ورسره بازار هم پراختيا مومي .
- د حکومت پاليسۍ : که حکومت د ازادې سوداګرۍ پالسۍ څخه کار واخلي د توکو په صادرولو او واردولو پابندي نه وي په دې وخت کې بازار پراختيا مومي او که حکومت په سوداګرۍ بنديز لګوي نو بيا بازار پراختيا نه مومي .
- خبرتياوې : په تيلويزيون ،ورځپاڼو او نورو کې د توکو د خبرتياوو په خپره ولو سره د توکو بازار پراختيا مومي .
- د توليد طريقه : کوم توکي چې په نوو او ښه وسايلو توليد شي د هغوی بازار هم پراختيا مومي .
- د توليد اندازه : کوم توکي چې په ډيره پيمانه توليديږي د هغوی مصارف هم کوي او توليد ډير وي چې د ډير توليد لپاره د بازار لټول کيږي او ورسره بازار پراختيا مومي .

## د بازار توازن

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Market Equilibrium

توازن هغه حالت ته ویل کیږي چې په هغې کې مخالف او موافق ځواکونه برابر وي او هغه عوامل چې تغیر راولي هغه بې اغیزې وي .په اقتصاد کې توازن په بازار کې د قیمت ټاکل دي قیمت هغه توازن دی چې عرضه او تقاضا سره برابرېږي د یو توکي د قیمت په ټاکلو کې عرضه او تقاضا مرکزي رول ترسره کوي .عرضه او تقاضا دوه مخالف ځواکونه دي د قیمت په زیاتوالي سره تقاضا کمیږي او عرضه ډیریږي ،د قیمت په ټیټوالي عرضه کمیږي او تقاضا ډیریږي کله چې د یو توکي عرضه او تقاضا سره برابره شي نو دبازار توازن یا د عرضې او تقاضا توازن یې بولي د دې توازن له کبله چې کوم قیمت ټاکل کیږي دې ته متوازن قیمت (Equilibrium Price) وایي .

د عرضې او تقاضا توازن یا د قیمت ټاکل : د قیمت ټاکل نظریه د لومړي ځل لپاره مشهور اقتصاد پوه ډاکتر الفرډ مارشل وړاندې کړه د دې نظریې پر اساس د یو توکي قیمت هغه وخت ټاکل کیږي چې د توکي عرضه او تقاضا سره برابره شي د عرضې او تقاضا په برابریدو سره قیمت ټاکل کیږي ډاکتر الفرد مارشل د لاندې مثال په وسیله دا واضیح کړي دي لکه څرنګه چې د یو توکي د پرې کولو لپاره د قیچې د دواړو خواوو تر منځ توازن اړین دی همداسې د قیمت د ټاکلو لپاره هم د توکي عرضې او تقاضا باید برابره شي . د تقاضا د قانون پر اساس که قیمت لوړ شي تقاضا کمیږي او د قیمت په ټیټ والي سره تقاضا ډیریږي او د عرضې د قانون پراساس که قیمت لوړ شي عرضه هم ډیریږي او که قیمت ټیټ

(c) ketabton.com: The Digital Library




شي عرضه هم کمېږي . عرضه او تقاضا دوه متضاد قوتونه دي چې يو د بل خلاف کړنه تر سره کوي د قيمت په تغير سره چې په عرضه او تقاضا کې کوم تغير راځي دواړه قوتونه هڅه کوي چې يو له بل سره هم اهنګ شي کله چې دواړه قوتونه په يوه نقطه کې يو شان فشار ولري دې نقطې ته د توازن نقطه وايي .
کولای شو په لاندې جدول کې ښه روښانه کړو :

| في کيلو ګرام قيمت | د غوړويو تقاضا | د غوړيو عرضه |
|---|---|---|
| 30 افغانۍ | 6 کيلو ګرام | 2 کيلو ګرام |
| 35 افغانۍ | 5 کيلو ګرام | 3 کيلو ګرام |
| 40 افغانۍ | 4 کيلو ګرام | 4 کيلو ګرام |
| 45 افغانۍ | 3 کيلو ګرام | 5 کيلو ګرام |

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني جدول او ګراف کې تاسو ګورئ چې کله چې قیمت 35 افغاني وي نو عرضه درې کیلو ګرامه او تقاضا 5 کیلو ګرامه وي چې دلته عرضه تقاضا پر یو بل فشارونه واردوي متضاد قوتونه نه سره مساوي کیږي خو کله چې قیمت 40 افغانۍ شي د توکي تقاضا له 5 کیلو څخه څلور ته راښکته کیږي او عرضه له دریو کیلو څخه څلور کیلو ته لوړیږي چې دواړه څلور کیږي دوه متضاد قوتونه سره مساوي کیږي چې دلته د توکي قیمت ټاکل کیږي او دې حالت د عرضې او تقاضا توازن وايي.

په توازن د عرضې او تقاضاد تغیر اغیزې:


د یو توکي قیمت د عرضې او تقاضا د برابریدو په وجه ټاکل کیږي او کله چې دا توازن بر قرار نه شي نو د عرضې او تقاضا قوتونه خپلې اغیزې ښې او یو ځل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا توزان ټاکي لیکن ځیني وخت د عرضې او تقاضا قوتونه د تیرې نقطې پر ځای نوې نقطه ټاکي او نوی قیمت ټاکل کیږي . په توازن د عرضې او تقاضا اغیزې په لاندې ډول دي :

1. د تقاضا د تغیر اغیزې : کله چې په عرضه کې تغیر رانه شي او تقاضا تغیر وخوري ورسره متوازن قیمت تغیر خوري د تقاضا په زیاتوالي سره د تقاضا کرښه پورته ځي د تقاضا په زیاتوالي سره متوازن قیمت لوړیږي ،خو کله چې تقاضا کمه شي متوازن قیمت او خرڅلاو کمیږي چې کولای شو په ګراف کې روښانه کړو :



(c) ketabton.com: The Digital Library




تاسو په پورتني ګراف کې دوه مستقيم خطونه د wx او xy ګورئ چې wx د عرضې مقدار او xy د تقاضا مقدار ښيي .DDد تقاضا مقدار او ssد عرضې مقدار چې دواړه د f په نقطه کې سره يو بل پرې کوي .چې همدا متوازن قيمت دی .خو کله چې عرضه پخوانۍ وي خو تقاضا کې ډيرښت راځي EFته رسيږي د عرضې خط په cکې سره پرې کوي چې له دې معلوميږي چې قيمت لوړيږي له fQڅخه c M ته ځي او خر ځلاو له xQڅخه xM لوړيږي .اوس که تقاضا د زياتولاي پر ځای کمه شي نو د تقاضا خط به له DD څخه GH ته راښکته شي او د عرضې خط په v کې پرې کوي چې تقاضا د کموالي سره خرځلا هم له QX څخه NXته راښکته کيږي .

2. د عرضې د تغير اغيزې : که تقاضا تغير ونه خوري او په عرضه کې زياتوالی راشي نو دوه ډوله اغيز لري : ۱- قيمت ټيټيږي ۲- خرځلاومقدارلوړيږي . ددې برعکس که عرضه کمه شي قيمت لوړيږي اودخرځلاومقدار کميږي .لاندې ګراف ته ځير شئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library







په پورتني ګراف کې تاسو ګورئ چې DDد تقاضا خط او SS د عرضې خط چې دواړه د P په نقطه کې یو بل پرې کوي او متوازن قیمت دی. اوس که تقاضا پخوانۍ وي او عرضه لوړه شي GH ته ورسیږي نو د تقاضا m نقطه کې پرې کوي چې نوی متوازن قیمت m ټاکل کیږي چې له Pڅخه کم دی خو خرڅلاو له OQ څخه ON ته لوړیږي .اوس که عرضه کمه شي نو خط له ssڅخه EF نقطې ته لوړیږي نو د تقاضا خط په k نقطه کې پرې کوي چې قیمت له p څخه k ته لوړیږي خو خرڅلاو له OQ څخه OL ته راټیټیږي.

په یو وخت کې د عرضې او تقاضا تغیر او په متوازن قیمت یې اغیز : ځینې وختونه عرضه او تقاضا په یو وخت کې تغیر غوري چې اوس موږ ګورو دغه تغیر په متوازن قیمت څومره اغیز لري چې دا اغیزې بیلابیلې بڼې لري :

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دعرضې په نسبت تقاضا کې ډیرښت : که چیرته په عرضه او تقاضا کې په یو وخت کې ډیرښت راشي او خو دا ډیرښت د عرضې په نسبت تقاضا کې ډیر وي نو قیمت ورسره لوړیږي او خرڅلاو هم ورسره ډیرښت پیدا کوي :





تاسو په پورتني ګراف کې ګورئ چې DD د تقاضا خط او SS د عرضې خط دی داوړه یو بل د P په نقطه کې پرېږ کوي چې متوازن قیمت ورته وايي اوس د عرضې نوی خط tt او د تقاضا ee دی چې د k په نقطه کې یو بل پرېږ کوي چې تاسو ګورئ چې د عرضې په نسبت په تقاضا کې ډیر زیاتوالی راغلی چې قیمت له P څخه لوړیږي k ته پورته کیږي او د خرڅلاو مقدار له OQ څخه OL ته لوړیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



○ دعرضي په نسبت تقاضا کې کم کمښت : په دې برخه کې په عرضه تقاضا کې ډيرښت راځي خو دا ډېرښت عرضي نسبت تقاضا لوړوي چې متوازن قيمت کميږي او د خرڅلاو مقدار ډيرېږي :





په پورتني ګراف کې وينی چې DD د تقاضا خط او SS د عرضي خط چې دواړه د p په نقطه کې يو بل پرې کوي چې متوازن قيمت دی .خو کله چې د عرضي په نسبت تقاضا کې کم کمښت راشي چې قيمت له Pڅخه را ټيټيږي k ته رسيږي چې خر څلاو له OQ څخه LO ته لوړيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



○ په عرضې او تقاضا کې مساوي ډېربښت : کله چې عرضه او تقاضا مساوي ډېربښت وکړي څومره چې د عرضې په ګراف کې تغير راځي په همدې مقدار د تقاضا په مقدار کې هم ډېربښت راځي او لاسته راغلې قيمت په پخواني معيار وي لاندې ګراف ته ځير شی :





په پورتني ګراف کې تاسو ګورئ چې عرضه او تقاضا کې يو مساوي ډېربښت راغلی چې قيمت په پخواني معيار ثابت کيږي P څخه k ليږدي مومي خو په عرضه او تقاضا کې ډېربښت راځي OQ څخه OL ته لوړيږي.

○ د عرضې په نسبت په تقاضا کې ډېر کمښت : که د يو توکي په عرضې او تقاضا کې تغير راشي خو دا تغير د عرضې په نسبت تقاضا کې ډېر کم وي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وخت کې نود توکي قيمت ټيټيږي او د خر ثلاو مقدار هم کميږي لاندې ګراف ته ځير شئ :





په ګراف کې تاسو وينئ چې DDد تقاضا خط او ss د عرضې خط په P يې يو بل پرې کوي او متوازن قيمت ټاکي .له دې وروسته د عرضې په نسبت تقاضا کې ډير کمښت راځي چې نوی قيمت K ته راښکته کيږي چې ورسره د خرڅلاو مقدار له OQ څخه LO ته راښکته کيږي .

- د عرضې په نسبت تقاضا کې ډير کمښت : که په تقاضا کې د عرضې په نسبت ډير کمښت راشي قيمت ټيټيږي او د عرضې او تقاضا په مقدار کې هم کموالی راځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library







په پورتنی ګراف کې ګورئ چې د عرضې په نسبت تقاضا کې لږ کمښت راځي DD د تقاضا مقدار ss د عرضې مقدار دواړه د P په نقطه کې يو بل پرې کوي چې متوازن قيمت دی خو کله چې په عرضه کې کمښت راشي نو قيمت لوړيږي k ته رسيږي او خر ځلاو له OQ څخه OL ته را ټيټيږي.

○ په عرضې او تقاضا کې مساوي کمښت: په عرضه او تقاضا کې مساوي کمښت لکه څرنګه په ګراف کې ښکاري په عرضه او تقاضا کې مساوي کمښت راشي قيمت په پخواني معيار ثابت پاتې کيږي خو د عرضې او تقاضا په مقدار کې کمښت راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






په پورتني ګراف کې ښکاري کله چې په عرضه او تقاضا کې مساوي کمښت راشي متوازن قیمت تغیر خوري دا قیمت د پخواني قیمت په معیار ټاکل کیږي یانې **b** قیمت د **a** په معیار ټاکل کیږي خو د عرضه او تقاضا په مقدار کمښت رامنځته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اخځلیکونه


۱. ایوبي کندهاری،محمدنادر،اقتصادي نظریات،صحاف نشراتي موسسه، ۱۴۲۴هـ ق
۲. ای ، حمید شاهد ،جزیاتي معاشیات،علمي کتاب خانه ، لاهور، 2007
۳. شیخ،محمد منظور علي،کتاب معاشیات،علمي کتاب خانه،لاهور، 2005
۴. حسین، خادم،ابتدایي معاشیات، راو نوید عالم، فیصل اباد ، 2002
۵. الخطیب ، دکتور محمود(رحماني ،پوهندوی مولوي محمد شریف، من مبادئ الاقتصاد الاسلامي (د اسلامي اقتصاد اساسات )،ریاض، 1409 هـ ق ، 1388 ه ش
۶. دولتشاهی ، دوکتر طهما سب محسم ، مباني علم اقتصاد ، جعفر یکرنګیان ، تهران ، 1388
۷. موحد ، پوهنیار حسیب الله ، اقتصاد میکرو (خرد) کابل ، 1385 ه ش

1. http://www.rohi.af/fullstory.php?id=13636(2011)
2. http://www.investopedia.com/terms/m/microeconomics.asp (2014)
3. http://economics.about.com/cs/studentresources/f/microeconomics.htm2014
4. http://www.investorwords.com/1396/demand.html2014
5. http://en.wikipedia.org/wiki/Supply_and_demand2014
6. http://smallbusiness.chron.com/economic-definition-four-factors-production-3941.html2014
7. http://www.businessdictionary.com/definition/cost.html 2014
8. http://www.investopedia.com/terms/l/land.asp2014

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**